انما الخمر والميسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون

انما يريد الشيطان ان يوقع بينكم العداوة والبغضاء في الخمر والميسر

الخمر ملخامر العقل رواه البخاري

الحجة السماك
في
حرمت التریاک والتنباک

Ketabton.com

تالیف

حضرت مولانا قاری محمد بن محمد عریف المعصومی

غفر الله ذنوبهما الظاهری والباطنی

ناشر

جامعہ عربیہ نبراس العلوم نعمانیہ کراچی

رابطہ نمبر: 0333-2470392

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوټ

ددي کتاب کمپوزنګ د يو داسې کس پر
لاس شوي دي چې له عربي او پښتو ژبې
سره نابلد وو، لهذا د کتاب په دي لومړي
چاپ کې د إملا غلطي شته ، چې په
راتلونکي کې وخت (دوهم چاپ) کې به
ورته ځانګړې پاملرنه وشي إن شاء الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ شناس نامه ﴾

نام کتاب	:	الحجة السماك فی حرمة الترياك والتنباك
مؤلف	:	حضرت مولانا فدا محمد صاحب معصومی
تصدیق کننده	:	شیخ الحدیث والتفسیر مفتی عبدالرازق صاحب
ناشر	:	جامعه نبراس العلوم نعمانیه کراچی.
کمفوزر	:	محمد ارسلان گلزار
طبع	:	اول
تعداد	:	ایك هزار (۱۰۰۰)
قیمت	:	[ ]
تاریخ اشاعت	:	۱٤۳٤ھ ق

جمله حقوق طبع به ناشر محفوظ است

جامعه عربیه نبراس العلوم نعمانیه کراچی

رابطه نمبر: 0333-2470392

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره	المقاصد	صفحه
۱	پیش لفظ	۷
۲	خطبة الکتاب	۸
۳	ضروری اصول او قواعد	۱۰
٤	اوله قاعده	۱۱
٥	دویمه قاعده	۱۳
٦	دریمه قاعده	۱٥
۷	څلورمه قاعده	۱۸
۸	دسد ذریعی درجی	۲۱
۹	اوله درجه	۲۱۰
۱۰	دویمه درجه	۲۱
۱۱	دریمه درجه	۲۲
۱۲	څلورمه درجه	۲۲
۱۳	پنځمه قاعده	۲٤
۱٤	دمعونت علی المعصیت صورتونه	۲٤
۱٥	اول صورة	۲٥
۱٦	دویمه صورة	۲٦
۱۷	دریم صنورة	۲٦
۱۸	المقصد الاولی فی حرمت المسکرات والمفترات	۲۷
۱۹	المسألة الاولی	۲۹
۲۰	المسألة الثانیه	۳۳
۲۱	اول مقام شراب کوم شئی ته وای	۳۳

شماره	المقاصد	صفحه
۲۲	الحجة الاولی	۳٤
۲۳	الحجة الثانیة	۳٥
۲٤	الحجة الثالثة	۳۸
۲٥	الحجة الرابعة	٤۰
۲٦	الحجة الخامسة	٤۱
۲۷	الحجة السادسة	٤۲
۲۸	الحجة السابعة	٤۲
۲۹	هر مسکرته شراب وای	٤٤
۳۰	شراب مسکردی	٤٥
۳۱	سبب دحرمت دشرابو	٤٦
۳۲	علت دحرمت دشرابو	٤۸
۳۳	دویم مقام دشرابو حرمت په آیات سره ثابت ده	٥۲
۳٤	اوله وجهه	٥۲
۳٥	دویمه وجهه	٥۳
۳٦	دریمه وجهه	٥٤
۳۷	دغټی گناه وجهی	٥٤
۳۸	اوله وجهه	٥٤
۳۹	دویمه وجهه	٥٦
٤۰	دریمه وجهه	٥٦
٤۱	اهل اللغة وای چه هر مسکر شراب دی	٥۸
٤۲	فقهاء وای چه هر مسکر شراب دی	٦۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره	المقاصد	صفحه
٤٣	مفسر وای چه هر مسکر شراب دی	٦٣
٤٤	صحابه کرام وای چه هر مسکر شراب دی	٦٥
٤٥	تابعین وای چه هر مسکر شراب دی	٦٥
٤٦	مذاهب الثلاثة او امام محمدؒ وای چه هر مسکر حرام ده یعنی قلیل اوکثیرئی	٦٩
٤٧	المقصد الثانی فی حرمت آکل المسکرات والمفترات	٧١
٤٨	بعض فاسقان وای چه بیر حلال ده او دهغوی جواب	٧٢
٤٩	چرس او افیون ترشرابو بد او مضر دی	٧٦
٥٠	دچرسو او افیونو حرمت له احادیثو ما سوی په قیاس سره هم ثابت ده	٨٣
٥١	دافیونو ضرر ترچرسو زیات ده	٨٦
٥٢	دافیونو در واجولو مقصد	٩٠
٥٣	دافیونو ضرر ترشرابو زیات ده	٩٢
٥٤	په اجماع دفقهاء ټول مسکرات حرام دی	٩٣
٥٥	رسولؐ وای په اخیره زمانه کښی به دشرابو نوم بدل سی	٩٥
٥٦	المقصد الثالث فی اتجار المخدرات والمسکرات	٩٦
٥٧	أئمة الثلاثةؒ وای بیع یه ناجائز ده	٩٨
٥٨	امام ابو حنیفةؒ وای بیع یه جائز ده	٩٨
٥٩	امام ابو یوسفؒ او امام محمدؒ وای بیع یه ناجائز ده	١٠٥
٦٠	دصاحبین قول مفتی به ده	١٠٦
٦١	دمسکرات خرڅیدل پر مسلم او کافرباندی ممنوع ده	١٠٨
٦٢	دمسکراتو گټه او تجارت حرام ده	١١٢
٦٣	مکروه چه مطلق ذکر سی مراد ځینی تحریم ده	١١٥
٦٤	استحسان مقدم ده پر قیاس باندی	١١٥
٦٥	قول دصاحبینؒ راجح ده پرقول دام ابو حنیفةؒ په بیعو او معاملو کښی	١١٦
٦٦	تطبیق په میانځ ده داحنافو کښی	١٢٠
٦٧	فائده دتطبیق د اختلاف	١٢٦
٦٨	بعض علماء دافیونو قیاس پر سلاح باندی کوی او دهغوی جواب	١٣٠
٦٩	المقصد الرابع فی الربح الناتج من التجارة المخدرة	١٣٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره	المقاصد	صفحه
۷۰	دمخدراتو په پسو باندی اَللّٰه (جله جلاله) خیرات او حج نهٔ قبلوی	۱۳۸
۷۱	المقصد الخامس فی زراعة المخدرات	۱٤٤
۷۲	تول ائمة پر حرمت دکشت دمخدراتو متفق دی	۱٤٤
۷۳	اول دلیل پر حرمت دکشت دمخدراتو	۱٤٥
۷٤	دویم دلیل پر حرمت دکشت دمخدراتو	۱٤٦
۷٥	دریم دلیل پر حرمت دکشت دمخدراتو	۱٤٦
۷٦	یوسوال اودهغه جواب	۱٤۹
۷۷	المقصد السادس فی اجارة المخدرات	۱٥۰
۷۸	اجاره پر دوه قسم ده	۱٥۰
۷۹	تریاك په پسو باندی وهل ناجائز دی	۱٥۲
۸۰	تریاق په تریاق باندی وهل ناجائز دی	۱٦۱
۸۱	المقصد السابع فی اجارت المخدرات بالحصة	۱٦٦
۸۲	تریاك په حصه سره وهل نا جائز دی	۱٦٦
۸۳	دعدم جواز اول وجهه	۱٦۷
۸٤	دعدم جواز دویمه وجهه	۱۷۰
۸٥	بعض خلگ وای چه تریاق دقیاس پر مزارعة سی دهغه جواب په یوځو وجهوسره	۱۷٤
۸٦	او له وجهه	۱۷٤
۸۷	دویمه وجهه او دریمه وجهه	۱۷٦-۱۷۷
۸۸	المقصد الثامن فی اجارت المخدرات بالکیل او الوزن المعلوم	۱۷۹
۸۹	دعدم جواز او له وجهه او دویمه وجهه	۱۷۹
۹۰	دغنمو او اوربشو ریبل په مذکوره طریقه ناجائز ده	۱۷۹
۹۱	دقفیز الطحّان حیله	۱۸۱
۹۲	المقصد التاسع فی أکل التنباك وشرب الدخان	۱۸۳
۹۳	حقیقت ده تنباکوو	۱۸٤
۹٤	تاریخ اشاعت دتنباکوؤ	۱۸٦
۹٥	عبارات دمشائخو پر حرمت او کراهیت دتنباکوؤ	۱۸۷
۹٦	دتنباکؤ دحرمت اودکراهیت وجهی	۱۹۸
۹۷	اوله وجهه	۱۹۸
۹۸	دویمه وجهه	۱۹۹
۹۹	دریمه وجهه	۱۹۹
۱۰۰	څلورمه وجهه	۲۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

شماره	المقاصد	صفحه	شماره	المقاصد	صفحه
۱۰۱	پنځمه وجهه	۲۰۱	۱۰۹	دیار لسم وجهه	۲۰٤
۱۰۲	شپږمه وجهه	۲۰۱	۱۱۰	څورلسم وجهه	۲۰۵
۱۰۳	اومه وجهه	۲۰۱	۱۱۱	پنځلسم وجهه	۲۰۵
۱۰٤	اتمه وجهه	۲۰۲	۱۱۲	شپاړسم وجهه	۲۰٦
۱۰۵	نهم وجهه	۲۰۲	۱۱۳	اولسم وجهه	۲۰٦
۱۰٦	لسم وجهه	۲۰۲	۱۱٤	اتلسم وجهه	۲۰۷
۱۰۷	یولسم وجهه	۲۰٤	۱۱۵	نولسم وجهه ربښتنی خوبونه	۲۰۸
۱۰۸	دولسم وجهه	۲۰٤	۱۱٦	دنسوارو حرمت	۲۲۰

اَللّٰہُ اَکبَرُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ جامع المعقول والمنقول ماهر الاصول والفروع

مرجع الخواص والعوام قدوة الانام شیخ الحدیث والتفسیر

حضرت مولانا عبد الظاهر سلمه القادر فی السر والباهر

بَسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قد طالعت هذه الکتاب لمولوی فدا محمد صاحب من اوله و آخره و وجدته صحیحاً وکان بنائه علی الاصول الاسلامیة ولم اجد فیه مایخالف الاصول والفروع اللهم اعطیه اجرا جزیلاً فی الدارین بفضلك یا وهاب

مولوی عبد الظاهر صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ و تصدیق بحرالعلوم و معدن الفهوم مصدر المکرمات منبع المرواۃ مجمع المکارم محور المحاسن استاذ الطلباء والعلماء شیخ الحدیث والتفسیر حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکد نوی رفع اللّٰہ درجتہ الدنیوی والاخروی۔

بسم اللّٰہ الرحمٰن الرحیم

الحمدللّٰہ وحدہ والصلواۃ والسلام علی من لانبی بعدہ امابعد فقد طالعت بعض مواضع حجت السماك فی حرمت الترياك لحضرت مولانا فدا محمد صاحب الا کاخیلی فوجد تہ موافقا لوقت الحاضر المبتلا بہ کثیراً من الناس فھی مھلکۃ للناس ومضر لاکثر الناس وکل ما ھذا شا نہ حرام وممنوع فاالترياك ممنوع کما صنف فی حرمتہ کتب و منھا المجموع الرسائل لمولانا عبدالحی اللکنوی فلھٰذا ھذا کتاب موافق للشرح والحوالجات کلھا صحیحۃ وفی الآخر اقول للمؤلف ان یعطی اللّٰہ احسن الجزاء فی الدنیا والقبول بین الناس وانا العبد الاحقر عبدالرازق خادم الحدیث مدرسہ محمد یہ کوئٹہ بشتون باغ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ پیش لفظ ﴾

محترمونا ظرینو کښه هم دار ساله سی په عربی وا ې اوتر دې مختصره وای ذیاته فائده منده به واې تر دې وسنی حالت ځکه سی عربی بین المللی زبان ده اوپه دویم نمبر کښې فارسی ده او خاص کر په پاکستان کښې بیا اردوده خولکن اکثره طلباء کرام په دی عصر کښې په نورو شیانو ډیر مصروف دی نولدې وجهی فهم اوتفهیم په بین المللی زبان ورته مشکل ده۔

نوهر طالب ته خپل زبان اسان ده او بل مقصد هم ځان پوه کول دې په یوشی هغه که په هر زبان سره وی نوعلماء کرامودا قصد وکړسی باید هریوو خپل قوم ته په خپل زبان خدمت وکړې۔

نو بلوچان په بلوچی باند ې خدمت کوې مثلاً او فارسی بانان په فارسی باندې خدمت کوې نوپشتانه په پشتو باند ې باید خدمت وکړې نوځکه دغه رساله ما په پشتوولیکله اودغه رنگه دارساله ماپه خپل فکر سره مختصره ولیکله خو لیکن بعض ورنهوزما سی وکتله

نو دایه وویل راته سی دارساله به پدغه طرز غیر مفیده وې ځکه یوخو ډیره مختصره ده او بل په اکثره ځایو کښی سی ایات او حدیث دخپلی مدعا لپاره راوړل سوې وی هغه نه ئی ترجمه سوې

نوهر عربی عبارة او ایات او احادیث باید ټول په خپله ژبه ترجمه سی نو به هر قسم طالب په پوه سی نولهذا مابیرته التفات ورته وکو او الله (جل جلاله) دی توفیق راکړې سی هر متن په صحیح توګه ترجمه کړم آمین۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم ط

الحمد الله الكبير الوهّاب الغفور العظيم التواب الذى بعث علينا رسولاً وانبياء واجتبىٰ منكم الاصفياء والا حباب وسهل لنا طريق النجاة والفلاح ويسر سبيل الهدايه للنفوس والا رواح وبيّن الحلال والحرام واوضح مشبهات الاحكام وحدلنا حدوداً فمن تعدّى حدود الله فاولئك من اهل العذاب وصلى الله على سيّد اصفياء رأس اولياء محمّد ن المبعوث الىٰ كافة الخلق من الانس والجان وعلى اله وصحبه مادارالنّيران

امّا بعد فيقول العبد الضعيف الراجى الىٰ عفوربه القوى فدا محمد بن محمد عريف بن محمد معصوم المعصومى عصمهم الله عن فتن الدنيوى والا خروى انى كنت قد صرفت حينا من الدهر فى غوص للفرائد التى كانت فى التوم والدرر بحضرت قاموس العلم والحكم ذوالبلاغت والفصاحت من بين الامم شيخ الحديث والتفسير الحاج مولٰنا مفتى عبدالرازق رزق الله نعم الدّار النعيم وبعيد هذا ذهب باالسجن القمقام من ايادى العساكر الغلام وبقينا فى المسجد كا اليتام وفرغ بعد اربعة اشهر بعون الملك العلّام عن سنن الدوادى واليوسفى صلى الله عليه وسلم والنعمان رحمه الله عليه واَتىٰ الىٰ اهله واليتام ولما شرع ثانياً المحسود

(c) ketabton.com: The Digital Library

الاقران بنظم الدرر والمرجان

فَاُمِرُتُ علىٰ ان احرر قليلاً من البيان علىٰ حرمت الترياق واللقات والتنباك والله اسئل

سوال الضارع الخاشع بعد الفراغ ان يجعله مقبولاً وخالصاً لوجهه الكريم وارجو من كل من يقرء هذا ومن يطالعه ان يدعونى بالمغفرة وشمول الرحمة وبخير الدنيا والعقبىٰ والمرجو من الناظرين الكرام ان لايتتبعو عوراتى وان يستتروا علىٰ ذلاتى فيرحم الله امرءً نظر فيها بنظر اللطف والكرم وعفا عن ذلة القدم اوطغيان القلم فانى لست ممن يدعى العصمت من كل خطاء وذلة ولا ممن ينسب الى نفسه الفصاحة والبراعة ان النفس لأمارة باالسوء۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضروري اصول او قواعد

داکثر وشیا نوحلت او حرمت په شریعت مطهره کښی صراحةً موجود دي خولکن دانسان دژوند په معاملا تو او حالا تو واقعا تو کښی بعض داسی شیان مخی ته راځی سی دهغوی په حقله دقرآن کریم او حدیث نبوي ﷺ صراحةً حکم وجود نلری نوبیادغه متجدد شیان په قواعد ودفقها کرامو رحمه الله علیه عارضیږي دعروض نه ورسته ئی دحلت اودحرمت حکم صراة متعین سی۔ ځکه دافطر ي خبره ده چی یو داسی دین چی تر ورځی دقیامته پور ي باقی وي داپه ټولو جزئی واقعا تو اودهغو پر تفصیل باندي صراحةً نسی مشتمل کیداي خولکن د داسی جید او دائمی دین لپاره به داسی قواعد کلیه خامخا وي چی په ائنده کښی هر قسم جزئیات وی پرهغو به مشتمل وي یعنی دهغو جزئیا تو حکم به له دغو قواعد و معلو میږي په قران مجید اوحدیث نبوی کښی دغه سی بی شماره قواعد ي او اصول موجود دی په بعض ځایو کښی تصریح په سوی وی اوپه بعض ځایو کښی اهل علمو په اجتهاد او استنباط سره را إستلی وی اودغه رنگه فقهاء رحمه الله علیه هم قواعد ایشی دی چی هغه د بنیادی اهمیت حامل دي۔

نودا مناسب ده چی له دغو قواعد و یو څو ضروری قواعدي ذکر کړو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوله قاعده

زمونږ پر مذهب اصل په اشياء کښې اباحة دي اکثره فقهاء اوبل خاص کر احناف رحمه الله عليهم په دې ايات مبارك پر اباحة داشياء باندې دليل نسي۔

هُوَالَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعاً ط (اَلْاٰيَة) سورة البقره (ايه نمبر ۲۹، پ نمر ۱)

ترجمه:

هغهَ اَللّٰه (جلّ جلاله) هغه ذات ده چې ځمکه اوهغه شيان چې په ځمکه کښې دې ټول ئې ستاسود نفع لپاره پيدا کړې دی۔

يعنی ټول شيان دانسان دنفع لپاره دی په چاکښې ظاهرې نفع وې او په چاکښې باطنی نفع وې او بعض شيان بياده عبرة لپاره وې لکه مؤذيات مثلاً ماران لړمان او درنده گان وغيره خو په هر شئی کښې ده اَللّٰه (جلّ جلاله) حکمت وې لکه داقول د اَللّٰه (جلّ جلاله)

رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلاً (اَلْاٰيَة) سورة ال عمران (ايه نمبر ۱۹۱، پ نمبر ٤)

ترجمه:

ای ربه۔ زمونږ تانده پيد اکړی دادو نياء عبث او باطل۔

له دې معلومه سوه لکه څنگه سی اَللّٰه (جلّ جلاله) انسان د بندگی او عبادة لپاره پيدا کړی ده دغه رنگه اَللّٰه (جلّ جلاله) ټول کائنات دانسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخدمت اوده راحت لپاره پیدا کړي دي ځکه په دونیا کښی ډیر داسی شیان سته چی له هغو بغیره دهغو فائده له بل شئی څخه انسان نه سی اخستی نو له دی وجی محقیقین علماء لکه امام کرخی رحمه الله علیه او صاحب هدایه بلکه ټول احناف وائی چی پر کوم شی دناجائز او حرام کیدلو دلیل نه و ي هغه مباح ده اَلْاَصْلُ فِی الْاَشْیَاءِ اَلْاِبَاحَة۔

ترجمه: په اشیاء کښی اباحة اصل ده یعنی په حقیقت کښی هر شی مباح ده تر څوچی یه دلیل په وجوب یا په حرمت وغیرهما باندی نه وي موجود سوي ددي په تائید کښی حدیث شریف هم سته

قَالِ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْحَلَالُ مَا حَلّ اللّٰهُ فِیْ کِتَابِهٖ وَالْحَرَامَ مَا حَرَمَ اللّٰه فِی کِتَابِهٖ۔ وَمَاسَکَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَا عَنْهُ۔ ترمذي باب الفراء (اَلْحَدِیْث) (ص نمبر ۲۰۶، ج نمبر ۱)

ترجمه: رسول الله ﷺ ویلی دي هغه شیان حلال دي چی اَللّٰه (جلّ جلاله) په خپل کتاب کښی حلال کړي دی او هغه شیان حرام دي چی اَللّٰه (جلّ جلاله) په خپل کتاب کښی حرام کړی دی او هغه شیان چه اَللّٰه (جلّ جلاله) ئی حلت او حرمت نه ده ذکر کړی په هغه کښی یه عفو کړي ده یعنی هغه مباح دي په اتیان او په ترك کښی یه مواخذه نسته۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاصل یه داسو چی پر هغه شی چی یو دلیل له دلائلو اربعه څخه چی قران و حدیث واجماع و قیاس ده پر حرمت و حلت باندی نه وْو هغه مباح ده ترك واتیان علی السویه ده۔

﴿دویمه قاعده﴾

مجبوری نارواشی رواکوې

ده فقهاء رحمه الله علیهم قاعده ده چی په وخت د ضرورة کښی حرام شی وانسان ته حلالیږی اَلضَرُوْرَاتُ تَبِیْحُ الْمَحْظُوْرَات (الاشباه لابن نجیم۔۸۵)

ترجمه: ضروریات محظور او ممنوع شیان مباح کوې ددې قاعدې بنیاد په قران و حدیث په د وارو کښی وجود لرې۔

لکه اَللّٰه (جلّ جلاله) چی وائی

فَمَنِ اضْطُرَّ غَیْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَا اِثْمَ عَلَیْهِ (اَلْاٰیَةُ)(سورة البقره ایه نمبر ۱۷۳ پ)

ترجمه: هغه څوك چی مجبور و محتاج سی وخورك ته دحرام شی حال کون دده غیر باغی او غیر متعدي وې ترحد نوپرده باندې گناْ په خورك ددغه شی کښی نه سته امام ابو حنیفه رحمه الله علیه ده باغی او عادی ترجمه داسی کوې وائی باغی هغه چاته وائی چی حلال شی موجودوی اودی کره ونفرة ځینی کوې او حرام شی ته دخوند او تلذذ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وجه تيرې وتناول کوې او عادی هغه چاته وائی چی ترقدر دضرورة زيادة ځينی وخوری حاصل ئی داده چی دونه به ځينی خورې له دغه مردار شی په وخت دعدم دحلال شئ کښی چی ځان له مرګه په ساتی او په حديث شريف کښی راځی۔

لَاضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ (اَلْحَدِيْثُ) (الاشباہ والنظائر نمبر ۱۷۳)

ترجمه: يعنی دانده جائز چه انسان وځان ته دضرر ورسوی اويا بل ته بغير حقه ضرر ورسوی حاصل ئی داده چه په اسلام کښی نه ضررسته يعنی چه خپل نفس ته تاوان او نقصان ورسوی او نه په اسلام کښی ضرارستهً يعنی چه وبل ته بغير حق تاوان ورسوی اونه په اسلام کښی ضرر بالضررسته يعنی چه مقابله ده ضرر په ضرر سره وکړی يعنی چه څوك بل څوك ووهی او بنکنځل ورته وکړی هغه بل ته داحق نسته چه بنکنځل ورته وکړی اويا يه ووهی بلکه هغه به خپل حق په حاکم باندی ځينی طلبوی نقل يه له موطاء امام مالك بيهقی مستدرك حاکم دار قطنی څخه کړې ده داد انسان دضرورة او هنګا مې او د غير معمولی حالاتو تقاضا هم ده نولدې وجهی فقهاء رحمه الله عليهم داحکا مود تطبيق او د تشريح دايو مستقل اصل وقاعده جوړه کړه زمونږ د فقی په کتابو کښی پردغه قاعده پر سلهائو مسئلی بنأدې مثلاً د انسان په ستونی کښی ګوله بنده سی له شرابو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماسوی بل دځښلو شئ نسته نودا جائز ده چی یو سور د شرابو و کړې اوځان له مرګه بچاو کړې دغه رنګه انسان ته په حالت داکراه کښی کلمه دکفر ویل وزته جائز ده په حال دضرورة کښی په مردار و شیانو علاج کول جائز ده عالمگیری (۲۳۷، ج-۵)

تاتا رخانیه (٤١٨، ج-١) دغسی نورې ډیرې مسئلی بناء دی پردغه قاعده باندې فا طلب هناك۔

﴿ دریمه قاعده ﴾

په حلال او حرام کښې اختیاط په شریعت کی د حلال او حرام په باب کی احتیاط لازم او ضرور ده په هر هغه ځاې کښی چی حلال او حرام د واړه سره جمع سی ترجیح و حرام ته ده پر حلال

ما اجتمع الحلال والحرام الاغلب الحرام على الحلال (الاشباه لا بن نجیم)

ترجمه: هغه وخت چی حلال او حرام سره جمع سی ترجیح و حرام ته ورکول کیږې پر حلال بعض حضرات ددغه روایت له رسول الله ﷺ څخه نقل کوې لیکن علامه عراقی رحمه الله علیه دابی اصله اوبی بنیاده بللی ده صحیح داده چی دا دافقه الامت حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه قول ده او داهم داهمیت او اعتبار لپاره کافی اوشافی ده الاشباٌ لابن نجیم۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـدی علاوه ددین مجموعی مزاج او مزاق هم دد ې تائید کو ې دفقها رحـمـه الـلـه عـلیهم پر دغه قاعده باندې درسـول الـلّه ﷺ ارشاد هم روشنائی اچوې قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صلی الله علیه وسلم

اَلْـحَلَالُ بَیّـن وَالْحَرامُ بیّن وَبیْنهُمَا مُتَشَابِهَاتٌ لایَعْلَمهُنّ کثیراً مِـنَ الـنّـاس۔ فَـمَنِ اتّقیٰ اَلْمُشَبّهَاتِ اِسْتَبْرَاُ لِدِیْنِهٖ وعرضه وَمَنْ وَقَعَ فِی الشّبُهَات کَرَاعٍ یَرْعِیْ حَوْلُ الْحِمیٰ یُوْشَکُ اَنْ یُّوَاقِعَهُ ۔

(اَلْـحَـدِیْـثُ) رواه البـخـاری الـمشکـوة نمبر ۲٤۱ الاشباٗ للسیوطی رحمه الله علیه نمبر ۲۰۹۔

ترجمه: حلال ظاهر دې او حرام واضح او ظاهر دې۔

او پـه مابین دحلال و حرام کښی متشبهات دی ډیـر خلگ علم نه ور باندې لرې نـوکه چاځان وساتی له مشتبه شیانو څخه هغه طلب دبراء ة اود خلاصتوب وکو په خپل دین کښی له نقائصواو هغه طلب دبراء ة او دخـلاصتـوب وکو دخپل ځان او دعزت لپاره له طعن څخه او هغه څوك کـه واقع سو په شبهاتو کښی دا سـی ده لـکه شپانه چی دساتلی څرارگـاه پر شاوخوا باندې پسونه را څرخوې هـغه قریبه ده ودیته چی ځینی گډسی حاصل ئی داده چی دایو داسی حدیث ده چی دا ممکنه ده چی ددیـن ټـول احـکـام دی له دغه یو حدیث شریف ځخه معلوم سی لکه څنگه سـی ابن عربی رحمه الله علیه دغه وینا کوې ځکه په دونیا کښی داسـی شـی نسته چی هغه دې لـه دغو درو حالاتو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهروې او امام نوري رحمه الله علیه ددغه حدیث شریف په تشریح کښې وائی چې شیان پر دری قسمه دی یو قسم حلال واضح دی چې حلت ئې پر هیڅا پوشیده نه وی لکه خوراك د ډوډۍ او دفاکهو او لکه خبرې کول اوتګ کول وغیره اوبل قسم حرام واضح دی چې حرمت ئې پر هیڅا پوشیده نه وی لکه شراب او وینی او د رواغ واشباه ذلك او دریم قسم مشبهات دی۔

چې نه ئې حلت واضح وی او نه ئې حرمت واضح وې نوله دې وجه ډیر خلګ علم نه پر لري بلکه صرف یوڅه علماء ئې پیژني دهغو حکم یا په نص سره او یا په قیاس او یا په اجتهاد سره یعنی **دا الحلال بیّن** معنی داده چې دلیل ئې دلالت پر حلت باندې بلاشبه کوې او **دالحرام بیّن** معنی داده چې دلیل ئې دلالت پر حرمت باندې بلاشبه کوې او **دبینهما متشبهات** معنی داده چې دحلت اود حرمت په ما بین کښې واسطه وې هم دلیل دحرمت و ې اوهم دلیل دحلت وې نو مشتبه او متعسر سی پر ډیروخلګو باندې ترجیح داحدالجانبین ماسوی له یوڅوعالمانو سی مجتهدین دی او که مجتهدین نه وْو نوله داسی شی څخه بیاځان ساتل لازم دی ځکه په حدیث شریف کښې نتیجه داوه که څوك ځان له مشتبها توڅخه نه وساتی هغه به په حرامو مبتلا کیږی نوله دی وجه فقهاء کرامو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاعده وضع کړ یده پر دی قاعدې باندی هم دفقهاء ډیری مسئلی بنادې مثلاً د حلال او حرام حیوان په اختلاط سی کوم حیوان پیدا سی هغه حرام ده یعنی هغه مخلوط حیوان حرام او مردارده دغه رنگه یوسړی شکار ووهلی اول دغه شکار پر یو لابن پر یوزې بیا ځکمی ته راولو یږې دادواړه احتماله لرې یعنی دا احتمال هم لرې چی لدغه تیغه یا غیره څخه دی مړسوی وې اودا احتمال هم لری چی په سبب ددغه لابن دی مړ سوی و ې اول احتمال ئی دحلت اودویم احتمال ئی دحرمت ده مگر فقهاء رحمه الله علیهم ترجیح و حرمت ته ورکړی ده ځکه دغه شکار مشتبه سو من وجه حلال ده او من وجه حرام ده دغه رنگه هر هغه شی چی یه هغه کښی دلیل دحلت هم وی اود حرمت هم وې هغه شی حرام ده

محترمو دغه هره قاعده درا روان مقصود لپاره تمهید او مقدمة ده باید په فهم کښی ونیوه سی۔

﴿څلورمه قاعده﴾

دحرامو دذرائع او اسبابو دروازه تړل ضروري ده

که چیری یوسړې دیوی خبری منع کیدل او بندیدل غواړې نودا فطر ې خبره ده سی دهغی خبری اسباب و ذرائع هم بند وی ځکه خوبیا دغه دهغه ممنوع خبری سبب او ذریعه گرزې مثلا دخدای ج په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان کښنی گستاخی بده خبره ده بلکه کفر ده نو که څوك د معبودانو باطله وو مذمت بیانوی نو ضرور به دغه خدای ناترسه کفار د معبود برحق په شان کښنی گستاخی کوې لدی وجی اَللّٰه (جلّ جلاله) په قران کریم کښنی د معبودانو باطله وْو دبدو ویلو څخه منع فرمایلی ده قال اللّٰه تعالیٰ وَلَا تَسُبُّوْ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَیَسُبُّوْ اللّٰهَ عَدَوّ وابِغَیْرِ عِلمٍ (سورة الانعام ایه نمبر ۱۰۸)

ترجمه: تاسی بنکنځل مه کوی وباطیلو معبود انوته اویاهغه چاته چی له خدای ج ماسوی داصنامو عبادت کوې ځکه بیادوی واَللّٰه (جلّ جلاله) ته بنکنځل کوې ظلماً بی له علمه ددوی پر اَللّٰه (جلّ جلاله) باندې۔

کوم وخت سی دغه ایات نازل سو قال اللّٰه تعالی(جلّ جلاله)

اِنّکُمْ وَمَاتَعْبُدُوْن مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمْ ط (سورة الانبیاء ایه نمبر ۹۸)

ترجمه: تاسی او هغه چی تاسی یه عبادة کوې بی له اللّٰه (جلّ جلاله) دابه دجهنم خاشاك اولر گی وی۔

نو مسلمانانو داصنامو بد ویل شروع کړو کفارو ددوی په مقابله کښنی واللّٰه(جلّ جلاله) ته بد ویل شروع کړو نو اللّٰه(جلّ جلاله) مسلمانان له بدویلو څخه منع کړو کځه هم بدویل خواصنامو ته جائز اورواکار ده خولکن چی دوی ته بدویل سبب دبدی وینا دواللّٰه(جلّ جلاله) سو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله(جلّ جلاله) منع و فرمایله۔

چی اصنامو ته بدمه وایاست

دغه رنگه دزنا بندیدل مقصود دي لیکن دزنا د دروازي دتړلو لپاره ئی داجنبی له اجنبیه سره دخلوة او بی پردگی څخه هم منعه فرمایلی ده یعنی یوسړي دانه سی کولی چی له پره دی بنځی سره دي په یوه کمره کښی دو په دو کښینی کځه هم په دغه نفس ناسته اویو ځای والی کښی خوگناه نسته خولکن دغه ناسته او خلوة سبب دزنا گرزي نودغه نفس ناسته ورسره ممنوع ده۔

دغه رنگه اصل ممانعت دشرابو او دسود ده خولکن پیغمبر علیه السلام پرهغه اسبابو باندي هم لعنت ویلی ده چی هغه ذریعه او سبب دشراب نوشی او سود خواري وي لکه رسول الله ﷺ چی وائی

لَعَنَ رَسُوْل اللّٰه فِی الْخَمْرِ عَشْرة عَاصِرُهَا وَمُعْتَصِرُها وَشَار بُهَا وحَامِلُهَا وَالْمَحْمُوْلَةَ اِلَيْهِ وَسَاقِيتها وبَائِعُهِا وَاٰكِلُ ثَمَنِهَا وَالمشترٰی لها وَالمُشْتَرَاة لَهُ الحدیث ترمذی (۱۵۵ کتاب البیو، ج،۱)

ترجمه: رسول الله ﷺ وائی لعنت دوی په شرابو کښی پرلسو باندي په نښځو ځونکی باندي اوپرهغه چاچه ودته ئی ور نښځی ځی اوپر څشونکی باندي اوپر باریدونکی باندي اوپر هغه چاچه ور وړه کیږی اوپر جوړونکی باندی اوپرخر څیدنکی باندي اوپرهغه چاچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې ئې خورې اوپر هغه بنځه چه ودیته اخستل کیږي اوپر هغه نرچه ودته اخستل کیږي دفقهاء رحمه الله علیه په زبان کښې دیو فساد دختمید لو لپاره چې کوم سبب او ذریعه وې دهغه سبب وبند دید لوته سدّ ذریعه وائی یعنی په ظاهر دغه سبب جائز او مباح وې خولکن دغه سبب داسی درجی ته رسیږی چې هغه

شرعاً ناجائز وې الموافقات (۱۹۸،ج-٤)

علماء کرام څه ناڅه اختلاف لرې چه کومه ذریعه ممنوع ده او کومه نده ممنوع خولکن ددی لپاره علماء کرامویو څواصول لیکلی دې چې دهغو خلاصه داده دذریعی لپاره څلور درجی دی۔

﴿ اوله درجه ﴾

که دایقنی معلومه وه چې دغه شی سبب او ذریعه دفساد اونار واده داسی ذریعه او سبب بالاتفاق ممنوع ده یعنې که دغه ذریعه په خپله یعنی بذاته ممنوع وې خوفبها والنعمَة اوکه په خپله نه وی ممنوع خولکن دممنوع اونارواالپاره سبب او ذریعه یقنی وې۔ نوبیاد هغه مسبب په وجه دغه سبب او ذریعه منع ده۔

﴿ دویمه درجه ﴾

که دغه شی یقنی نه وی معلوم چې دغه سبب او ذریعه دفساد او نار واده خولکن غالب گمان ئې داوې چې دغه شی سبب او ذریعه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

فساد ده نوداصورة هم په حکم داولی درجی کښی ده یعنی ددی سبب بندیدل هم لازمی دي ځکه په عملی احکامو کښی غالب گمان په درجه دیقین کښی وي۔

﴿ دریمه درجه ﴾

یعنی دغه شی شاذ و نادر سبب دفساد جوړید و یعنی نه ئی یقین وی اونه ئی غالب گمان وي چی دغه شی سبب دفساد او ناروا ده بلکه یووخت داسی پیښه سی چی دغه شی سبب دفساد وگرزی هغه هم نادره وي داسی اسباب بیا په اتفاق سره جائز دی یعنی حکم دممانعت نه سی پرکولی نودغه دي صورته اتفاقی دي دعلماء کرامو اختلاف نسته پکښی دهغو او لو دو صورتو اسباب بالاتفاق بند او ممنوع دي او ددریم صورة اسباب بیا جائز او صحیح دي۔

﴿ څلورمه درجه ﴾

کوم شی چی په کثرة سره سبب دفساد گرزي خولکن اکثره وخت سبب دفساد نه وي یعنی په ډیر استعمال سبب دفساد گرزي نودغه درجه په میانځ ددویمی درجی اود دریمی کښی واسطه ده په دغه درجه کښی داماما نو علیهم الرحمه اختلاف ده

ځکه دلته دوه اصله متعارض راغلی دی ده یوه اصل تقاضا جوازده او دبل اصل تقاضا عدم جواز ده ځکه چی ودیته وگوري چی دغه سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونه په طریقه د یقین سره او نه په طریقه دظن سره سبب دفساد ده نوبیادغه سبب جائز ده بندیدل ئی نه دی پکار او چه ودیته وگوري چی داخو په کثرت استعمال سره دغه شی فساد ته رسیږي یعنی سبب دفساد گرزي نوبیا ددی اصل تقاضا داده چه دغه سبب دی ناجائز سی ځکه سبب دفساد فساد وی نوشوافع صاحبان رحمه الله علیهم و اول اصل ته نظر کوي ددغی درجی اسباب جائز بولی او احناف ومالکیه صاحبان رحمه الله علیهم دویم اصل مخته ایږدی هغه ددغی درجی ذریعه هم ممنوع بولی مثلاً دیوی میاشتی په پور یوشی په زر ۱۰۰۰ روپیه خرخ کړی پیسی ئی بائع ته نه وی ور کړی بیرته ئی ترزر ۱۰۰۰ روپیه په کمه واخلی شوافع صاحبان رحمه الله علیهم ودغی دویمی بیع ته جواز ور کوي وائی دغه بیعه ده۔

بیع په شریعت کښی جائز ده او احناف ومالکیه صاحبان رحمه الله علیهم وائی چه دغه بیع ممنوع ده ځکه داشبه ربوٰ ده۔

داپه کثرت سره ذریعه دفساد گرزي چی عین ربوٰ ده نولکه څنگه سی عین ربوٰ منع ده دغه رنگه شبه ربوٰهم منع ده ځکه شبه ربوٰ سبب او مفضی وعین ربوٰته ده اودغه رنگه داجنبیه شځی سره خلوة کول ممنوع ده په نزد داحنافو او مالیکیوصاحبانو رحمه الله علیهم

ځکه دغه که ممنوع نه سی اخیر مفضی وفساد ته ده چی زناده اوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا رنګه سفر کول دغیر محرم سره ممنوع ده ځکه دا اخیر مفضی وزنا ته ده اوهم دغه رنګه پر قبرو باندې مساجد جوړ ول چه اخیره نتیجه ئی د مړی عبادة شروع کول د ې اویاد فحش او فحاشی مرکز جوړول دې نوله دی وجی ددغی درجی اسباب وذرائع ممنوع دې په نزد داحنافو ومالکیه صاحبانو رحمه الله علیهم کځه هم په نفس دغه سبب کښی خوبدی اوفساد نسته خولکن مفضی فسادته ده نوځکه دا اسباب ټول ممنوع دې۔

﴿ پنځمه قاعده ﴾

په معصیت کښی معونت کول

دسدّ ذریعی اصول چی ذکر سوله هغودا سوال پیدا سو چی د ګناه په کار کښی دمعونت کولو څه حکم ده تر دغه قاعده لاندی خو مطلق تعاون په معصیت کښی، معصیت ده لکه داقول دَاللّٰه (جلّ جلاله) لَا تَعَاوَنُوْ عَلی الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ط (ایه سورة المائده)

ترجمه: معونت مه کوی پر معصیت اوپر تعدی باند ې سوال داده چی له ایات مبارکه څخه خو دامعلومیږي چی مطلق معونت علی المعصیت منع ده که بعید وی اوکه قریب وی اوحال داده که مطلق معونت علی المعصیت منع سی نودخدای (جلّ جلاله) مخلوق به په سخته تنګی کښی مبتلا سی اوخاص کز په معاملا تو کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودشریعت مزاج داده چه هغه دانسان لپاره دحرج او دتنگی سامان نده بلکه باعث دسکون او دسهولت ده الجواب دغه دوا ړی خبرې په نظر کښی نیول سوی د ې نوځکه فقهاء رحمه اَللّٰه تعالیٰ علیهم دتعاون بعض صورتونه ممنوع اوبعض صورتو نه جائز کړی دې په دی سلسله کښی دفقهاء رحمه الله علیهم په تصریحا تو اوقیاساتو کښی اختلاف هم سته او تعارض هم

دفقها رحمه الله علیه مختلف تصریحات اوجزئیات سی مخ ته کښیږدی داسی ځینی فهمیږی چی په معصیت کښی دتعاون دری صورتو نه ناجائز او گناه ده۔

﴿ اول صورة ﴾

په داسی شیانو کښی معونت کول چی دهغو وضع دگناه لپاره سوی وې مثلاً ددا سی آلاتو اواسبابو تجارت چی له هغو څخه مقصد خاص لهو او لعب وې مثلاً بُت فروشی او دغزلو ویلو سامان دفلمی غزلو کیسټان فحش تصویرونه دشرابو او تریاقو خرڅیدل وغیره داټول گناه اومنوع ده ځکه داشیان با الذات دگناه ذریعه ده یعنی دامعصیت قائم پدی پسی ده ددغو شیانو مقصد دگناه اومعصیت داشاعت نه ماسوی بل هیڅ خبره نه سی کیدلی ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع (۲۷۷، ج-۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ دویم صورة ﴾

دا سی کار کول چی باالذات جائزوی او ددا سړی نیت هم صحیح وی مگر بعض داسی قرائن موجود وی سی په داسی عمل دیو سړي دمعصیت او گناه قوة حاصلیږی داصورة هم معونت علی المعصیت ده ودیته فقها رحمه الله علیهم مکروه ویلی ده مثال ئی داده چه له یو داسی سړی سره ده مرئی بیع و کړی چی پر هغه باندې خبروی دغه بائع چی دغه مشتري دلواطت مریض ده۔

یا پر داسی ملك باندې اسلحه خر څول چی هغه له مسلمانو سره پر سرد عداوة وی چی وهغه ته فقهاء رحمه الله علیهم دارالحرب وائی نودا واضح قرینه ده چی دغه مرئی دگناه او معصیت لپاره اخستل کیږی دغه رنگه دغه اسلحه د عالم اسلام دضرر رسولو لپاره خرڅیږي ردالمحتار (٢٧٧، ج۔٥)

﴿ دریم صورة ﴾

یعنی سی یو کار په نیت دمعونت علی المعصیت کوې یعنی هغه کار په اصل کښی دمعصیت لپاره نه وې لکن استعمال ئی دگناه لپاره هم کیداسی دا صورة هم ناجائز ده لدی وجهی چی دکار د بد والی لپاره دوه صورته دی یو صورة داده چی دغه کار باالذات مذموم او گناه ده او دویم صورة داده چی دغه کار په اعتبار دذات سره صحیح وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خولیکن په ورسته کښی چی کوم نیت او جذبه وی هغه مذموم او ناپسنده وی نو دغه دری صورته دمعونت ناجائز اونارواديـ

په اول صورة کښی داعمل بالذات مذموم ده ځکه خودا معصیت قائم په دغه شی پوری ده او په دوم صورة کښی کځه هم دغه عمل بالذات جائز ده خولکن سبب لپاره دمعصیت ده نوداهم ناجائز سو په معونت علی المعصیت کښی داخل سو او دریم صورة بالذات جائز ده او سبب لپاره دمعصیت هم نه ده خو لیکن نیت مذموم کو لکه څنگه چی رسول الله وائی اِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ (الحديث)

ترجمه: دار اومدار دا اعمالو موقوف ترنیت پوره ده لدی دا معلومه سوه چی انسان کځه هم صحیح عمل په نیت دفساد سره وکړي نودغه عمل ممنوع اونارواده (حلال و حرام مع زيادة)

﴿ المقصد الاولی فی حرمت المسکرات والمفتراة ﴾

مقصد اول په حرمت دمسکراتو ومفتراتو کښی په دي کښی ټول ائمه ومجتهدین دین متین سره متفق دي چی مسکرات و مفترات حرام دي ځکه اصول اربعه پردي گواهی ورکوي چی منشیات حرام دي خو لیکن صرف په خمر کښی دامام ابو حنیفه رحمه الله علیه اود امام شافعی رحمه الله علیه اختلاف ده امام ابو حنفیه رحمه الله علیه هر مسکر حرام بولی خو مگر خمر نه ورته وائی او مام شافعی رحمه الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیه و هر مسکر ته خمر وائی دغه اختلاف به هم انشاء الله العزیز بیان کړو په لږ ورسته کښی اَللّٰه (جلّ جلاله) وائی

يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَاِثْمُهُمَا اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ط

ترجمه: لتاځخه سوال کوې اې محمد ﷺ دشرابو اودقیمار ته ورته ووایه چه په شرابو اوقیمار کښی غټه ګناه ده نفع هم پکښی سته خو لیکن ګناه ئی تر نفع غټه ده

اعلم ان قوله يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ط

ليس فيه بيان انهم عن اى شئى سألوا

فانه يحتمل انهم سألو عن حقيقة وماهية ويحتمل انهم سألو عن حل الانتفاع به ويحتمل انهم سألو عن حل شربه وحرمته الا انه تعالىٰ لما اجاب بذكر الحرمة دل تخصيص الجواب على ان ذلك السئوال كان واقعا عن الحل والحرمة

امام رازې رحمه الله علیه وائی چی په دغه قول کښی يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ط دا بیان نسته چی دوې له چشی سوال وکو ځکه خودا احتمال لرې چی دوی دی له حقیقة او ماهیة دشرابو اودقیمار څخه سوال کړی وې او دا احتمال هم لرې چی له نفع اخستلو څخه دې سوال کړې وې اودا احتمال هم لری چی له حلت او له حرمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځښلو څخه دې کړې وی خولکن کوم وخت چی اَللّٰه (جل جلاله) په ذکر دحرمت سره جواب ورکو نودغه تخصیص دجواب دلالت پردی باندی کوی چی ددوی سوال له حل اوله حرمت دځښلو څخه وُو وفی الایة مسائل

﴿ المسألة الاولیٰ ﴾

قالوا نزلت فی الخمر اربع اياتٍ نزل بمكة قوله تعالیٰ وَمِنْ ثَمَرَاتِ نَّخِيْلِ وَالاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَراً وَّرِزْقاً حَسَناً (سورة النحل ايه نمبر ٩٧) وكان المسلمون يشربونها وهی حلال لهم ثم ان عمر و معاذ ونفرمن الصحابه رضی الله عنهم قالو يا رسول الله صلی الله علیه وسلم افتنا فی الخمر فانها مذهبة للعقل مسلبة للمال فنزل فيها قوله تعالیٰ قُلْ فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ط فشربها قوم و تركها اخرون ثم دعا عبدالرحمن بن عوف ناساً منهم فشربو وسكرو افقام بعضهم يصلی فقراء قُلْ يَاايُّهَا الْكٰفِرُوْنَ لَا اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ط فنزلت لَا تَقْرَبُوْ الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰی ط (سورة النساء ايه نمبر ٤٣)

فقل من شربها ثم اجتمع قوم من الانصار وفيهم سعد بن ابی وقاص فلما سكروا افتخروا وتنا شدوا الاشعار حتی انشد سعد شعرافيه هجاء للأنصار فضربه انصاری بلحی

بعير فشجه شجة موضحة فشكا الىٰ رسو الله ﷺ فقال عمر رضى الله عنه اللهم بين لنافى الخمر بياناً شافياً فنزل اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ الىٰ قوله فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْن ط (سورة المائده ٩) فقال عمررضى الله عنه انتهينا يارب۔

امام رازی رحمه الله علیه وائی چی پد ې ایات کښنی مسائلی دی اوله مسئله پد ې کښنی ده چی په خمر کښنی څلور ایاتونه نازل سوې دې یه مکه مکرمه کښنی دغه ایات نازل سو وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرً وَّرِزقاً حَسَناً (سورة النحل نمبر ٦٧) یعنی دمیوونه دکجور او دانګورو نه جوړوې ددې څخه نشه أو عمده خوراك نو مسلمانا نوبه شراب څښنل ځکه خوشراب حلال وُو ودوی ته لدې ورسته حضرت عمررضى الله عنه او معاذرضى الله عنه اویوځه نور صحابه کرام رضى الله عنهم ورسول الله ﷺ ته وویل چی مونږ ته په شرابو کښنی فتوىٰ راکړه داخو مذهب عقل لره دی او مسلب مال لره دې نو بیا دغه ایات مبارك نازل سو قُلْ فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاس ط ای محمد ﷺ ورته ووایه چی پدې کښنی ګناه تر نفع غټه ده لدی ورسته بعض خلګو څښنل ځکه خو قطعاً نه ووبند او بعض خلګو پریشوُو لدی ورسته عبدالرحمن بن عوف رضى الله عنه له قوم څخه خلګ راوغشتو په میلمستیا هغوې راغلوبیا یه شراب

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخښل اونشه سُو بعض ولماتئه ته ولاړسو په لمانځه کښې دغه سورة شروع کړو قُلْ يَاأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ لَاأَعْبُدُ مَاتَعْبُدُوْنَ ط دغه الفاظ ئې ردوبدل ويل دلا اعبد پرځائې اعبد ويل نوبيا دغه ايات مبارك نازل سو لَا تَقْرَبُوْ الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكَارٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ ط يعنې اى ايماندارو مه نزدى كيږى ولمانځه ته كوم وخت چې تا سو په نشه كښې ياست تردى چې پوه شى چې تاسوخه وايا ست لدې ايات ورسته بياد شرابو څښل ډيرکم سوبيا يووخت دانصارو يوځه خلګ سره يوځاى سواوپدې كښې سعد بن ابى وقاص رضى الله عنه هم وُوكوم وخت چې په شراب څښلو سره نشه سوُو نو فخر ونه ئې كول او شعرونه ئې جوړول سعد يوشعرَ جوړ كو چې په هغو كښې دانصاروذم اوبدى وه نويو انصارى داوښ دزامې په هڅوكى۔

دى شكاره ټپ ئې پكښې جوړ كو سعد خپله غوصه نوش كړه او شكايت ئې وَرَسُول الله ﷺ ته وكو حضرت عمر رضى الله عنه. وويل يا اَللّٰه (جلّ جلاله) مونږ ته په شرابو كښې پوره بيان وكړه نوبيادغه ايات نازل سو اِنَّمَا الْخَمْرُوَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْن اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِى الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنْ ذِكْرِ اللّٰه وَعَنِ الصَّلٰوة فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْن ط (سورة المائد نمبر ۹۱)

فقال عمررضی الله عنه انتهینا یارب

یعنی شراب اوقیمار اوبتان او غشی مردار دی دشیطان کارونه دی ددی شیانو څخه ځان وساتی نو په تحقیق سره به نجات پیدا کړی لدغو نقصانو څخه شیطان خودغو اړی چه واچوی ستاسو په مینځ کښی دښمنی او بغض په ذریعه دشرابو او قیمار او منع کړی تا سولره اَللّٰه (جلّ جلاله) دیادڅخه پس وس هم تا سوبه منع شی؟ حضرت عمر رضی الله عنه وویل مونږ منع یو یا ربه۔

قال القفال رحمه الله علیه والحکمة فی وقوع التحریم علی هذاالترتیب ان الله تعالی علم ان القوم قدکانوا ألفوا شرب الخمر وکان انتفاعهم بذلك کثیرا فعلم أنه لومنعهم دفعة واحدة لشق ذلك علیه فلا جرم استعمل فی التحریم۔ هذا التدریج وهذا لرفق حضرت قفال رحمه الله علیه وائی چی په وقوع دتحریم کښی پر دغه ترتیب حکمت داوُو چی اَللّٰه (جلّ جلاله) پر دی عالم وُوچی قوم دشرابو څښلو سره ډیره مینه اوألفت لري اوډیره نفعه وربانډی اخلی نوکه ئی چیري په یوه وار ځینی بند کړي نو پر دوی باندی به ډیره سخت سی نوځکه ئی په تحریم کښی دغه ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نرمی استعمال کړه۔

﴿ المسألة الثانی ﴾

اعلم ان عندنا ان هذه الاية دالة على تحريم الخمر فنفتقر الیٰ بیان ان الخمر ما هو؟ ثم الی بیان ان هذه اللایات دالة علی تحریم شرب الخمر دویمه مسئله امام رازی رحمه الله علیه وائی چه پدی خبره پوسه چی زمونږ پر مذهب باندی دغه ایات مبارك دلالت پر تحریم دشرابو کوی نومونږو دی بیان ته محتاج یو چی خمر و چیئی ته وائی اوله هغه ورسته ودی بیان ته محتاجه یوچی دغه ایات مبارك پر حرمت د څښلو دخمر باندې دلالت کوي۔

اما المقام الاول فی بیان ان الخمر ماهو؟

اول مقام پدی کښی ده چی خمر کوم شی ده؟

قال الشافعی رحمه الله علیه کل شراب مسکر فهو خمر وقال ابو حنیفیه رحمه الله علیه الخمر عبارة عن عصیر العنب الشدید الذی قذف بالذبد۔

امام شافعی رحمه الله علیه وهر مسکر شرابو ته خمر وائی او امام ابوحنیفیه رحمه الله علیه وائی چی خمر عبارة دی له هغو او بوچی له انګورویه و نبنځئی او سخت سی او بیازګ غورځوي امام شافعی رحمه الله علیه پر خپل دغه قول باندې جی هر مسکر خمر دی یعنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر مستی راوستونکی شئی شراب دي دلائل وائی۔

﴿ الحجة الاولیٰ ﴾

احدها ماروی ابو داود فی سننه عن الشعبی عن ابن عمررضی الله عنهما قال نزل تحریم الخمر یوم نزل وهی من خمسة من العنب والتمر والحنطة والشعیر والذرة والخمر ماخمر العقل اول دلیل داده چی امام ابو دائود رحمه الله علیه په خپل سنن ابوداود کښی له شعبی رحمه الله علیه روایت کو ي او هغه ئی له ابن عمررضی الله عنه روایت کوي هغه ویلی دی چی په کوم ورځ چی تحریم دخمر نازل سو په هغه وخت کښی شراب له پنځو شیا نوجوړیدو له انګورو اوله خرما اوله غنمو اوله اوربشو اوله جوارو اوشراب هغه شی ته وائی چی عقل پټه وی حاصل ددلیل ئی داده چی حضرت عمررضی الله عنه یا ابن عمررضی الله عنه تصریح پدی باندي کړی ده چی په وخت دحرمت دخمر کښی خمر له دغو پنځو شیا نوجوړیدو۔ اودی عالم پر لغت هم وُو داسی نه سی ویل کیدای چی دده دی علم پر لغت دخمر باندی نه وي نولدی دامعلومه سوه چی لکه څنګه سی وهغه مسکرته چی له انګورو جوړسوي وی خمروائی دغه رنګه وهغه مسکرته هم خمروائی چی له خرما اوله غنمو و غیره څخه جوړ سوی وی او دغه رنګه دغه مذکور حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

رضی الله عنه په اخیر دحدیث شریف کښی وائی چی خمر هغه شی ته وائی چی عقل مغلوب کوي

نودغه لفظ بیا عام ده تخصیص ترعنب پوری نه لري۔

﴿ الحجة الثانية ﴾

روی ابود او دعن النعمان بن بشیررضی الله عنه قال قال رسو الله ﷺ ان من العنب خمرا وان من التمر خمرا وان من العسل خمرا وان من البر خمرا وان من الشعیر خمرا۔

دویم دلیل داده چی امام ابو داود رحمه الله علیه له نعمان ابن بشیررضی الله عنه څخه روایت کوي هغه ویلی دی چه رسول الله ﷺ وویل چی خمر له انگو رو وی او خمر له خرماوی او خمر له عسلو وی او خمر له غنمو وی او خمر له اور بشو وی۔

والا ستد لال به من وجهین احدهما ان هذا صریح فی ان هذه الاشیاء داخلة تحت اسم الخمر فتکون داخله تحت الآیة الدالة علی تحریم الخمر۔

والثانی انه لیس مقصود الشارع تعلیم اللغات فوجب ان یکون مراده من ذلك بیان ان الحکم الثابت فی الخمر ثابتً فیها او الحکم المشهور الذ ي اختص به الخمر وهو حرمة الشرب فوجب ان یکون ثابتاً فی هذه الاشربة۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام شافعی رحمه الله علیه په دغه مذکور حدیث باندی له دو وجهو دلیل نیولی ده او له وجهه داده چی په دغه حدیث شریف کښی دا صراحةً ذکر دی چی دغه پنځه شیان ترنامه دخمر لاندې دی نو کوم وخت چی ترنامه دخمر لاندی سو نو ترهغه ایات لاندې سو کوم چی دلالت کوې پر تحریم دخمر باندې چی هغه اِنَّمَا الخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ ده

دویمه وجه داده چی مقصود د شارع ﷺ په دغه حدیث کښی تعلیم دلغاتونده نو چه تعلیم دلغاتو مقصود نه سو نودا لازمه ده چی مراد شارع له دغه حدیث داده چی کوم حکم چی په خمر کښی ثابت ده هغه حکم په دغو نورو کښی هم ثابت ده یعنی لکه څنګه سی په خمر کښی دا حکم ثابت ؤ چی دخمر څښل حرام دی دغه رنګه په هغه نورو کښی هم دا حکم ثابت ده یعنی دهغو څښل هم حرام دې قال الخطابی رحمه الله علیه وتخصیص الخمر بهذه الاشیاء لیس لاجل ان الخمر لایکون الامن هذه الخمسة باعیانها وانما جری ذکرها خصوصاً لکونها معهودة فی ذلك الزمان فکل ماکان فی معناها من ذرة اوسلت او عصارة شجرة فحکمها حکم هذه الخمسه کما ان التخصیص الاشیاء الستة بالذکر فی خبر الربوا لایمنع من ثبوت حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

الربو فی غیرها۔

خطابی رحمه الله علیه وائی چی تخصیص دخمر پدغوشیانو پوری لدی وجهی نه ده چی خمر خاص له دغوشیانو جوړ یږي له بل شی نه جوړیږی بلکه تخصیص ئی له دی وجهی ده چه په هغه زمانه کښی له هغو شیانو جوړید ویعنی له غنمو اوله اور بشو اوله انگورو۔ او له خرما اوله عسلو نوهر هغه شی چی په معنأ د دوی کښی وی چی هغه عبارة ده له جوارو اوله هغه او ربشو چی پوستکی ئی نه وی او له څپوسه ددرختو هغولره حکم ددغو پنځو شیانو ده۔

لکه تخصیص دهغه شپږو شیانو په ذکر کولو سره په حدیث دربو کښی چی منع نه راولی له ثبوت دحکم دربو په غیر ددغو شپږو شیانو کښی یعنی لکه څنگه چی په حدیث دسود کښی چی **الحنطه بالحنطة والشعیر باالشعیر۔**

الی قوله مثلاً بمثلٍ دغه سود مختص تردغو مذکورو شیانو پوری نه ده بلکه هر هغه شی چی ددوی په معنیٰ کښی وی په هغه کښی سود راځی دغه رنگه پدغه حدیث دخمر کښی چه کوم پنځه شیان ذکر دي دامختص ترخمر پوری‌ندی بلکه هر هغه شی چی په معنیٰ ددغو پنځو کښی وی هغه ته خمر وائی لکه بنگی او تریاق ځکه دوی هم مذهب او مُخمِر عقل لره د ي نوتر لفظ دخمر لاندی دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ الحجة الثالثة ﴾

روی ابـو داود ایـضـاً عن نافع عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ کل مسکر خمر وکل مسکر حرام

دریـم دلیـل داده چـی داهم ابو داود رحمه الله علیه روایت کړې ده له نافع رضی الله عنه هغه روایت کړې ده له ابن عمر رضی الله عنه هغه وائی چـی رسـول الـلـه ﷺ وویـل چی هر مسکر شئی خمر ده او هر مسکر حرام ده۔

قـال الـخـطابی رحمه الله علیه قوله علیه السلام (کل مسکر خمر)

دل عـلـی وجهیـن احـدهـمـا ان الـخـمـر اسم لکل ماوجد منه السکـر من الاشربه کلها والمقصود منه ان الآیه لمادلت علی تـحـریـم الـخـمـر وکـان مسمی الخمر مجهو لاللقوم حسن من الشـارع ان یـقال مراد الله تعالیٰ من هذه اللفظة هذا ام علی سبیـل ان هـذا هـو مسماه فی اللغة العربیه او علی سبیل ان یـضـع اسـمـاً شـرعیـاً عـلـی سبیل الاحداث کما فی الصلوت والصوم وغیرها خـطـابـی رحمه الله علیه وائی چی رسول الله ﷺ دغـه قـول کـل مسـکر خمر په دو وجهو پر خپل مدعی باندې دلالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوې اوله وجه داده چې خمر دهرهغه څیښنوکی شئی وم ده چه له هغه سکر اومستی پیښیږی او مقصود له دی قول څخه داده چې دغه ایات اِنّما الْخَمْرُ وَالْمَیْسِرُ الی قوله فَهَلْ اَنْتُمْ مُنْتَهُوْن ط چې کوم وخت دلالت پر حرمت دخمرو کو نوخمر قوم ته نه وُو معلوم چې خمرد کومی اشربی نوم ده نوشارع داور وښوده چې د اَللّٰه (جلّ جلاله) مراد له لفظه دخمر څخه دغه مسکر شی ده په دی طریقه چې ددغه مسکرشی نوم په لغت عربیه کښی خمرده اویا پدی طریقه چې اَللّٰه (جلّ جلاله) ودغه مسکرشی ته وُس نوی په شرع کښی دغه لفظ دخمروضع کو لکه اَللّٰه (جلّ جلاله) چې ودغه فعل مخصوص ته په شرع کښی لفظ دصلوٰة مثلاً وضع کړی ده والوجه الآخر ان یکون معناه کاالخمر فی الحرمة وذلك لان قوله هذا خمر فحقیقه هذا اللفظ یفید کو نه فی نفسه خمراً فان قام دلیل علی ان ذلك ممتنع وجب حمله مجازا علی المشابهة فی الحکم الذی هو خاصیة ذلك الشئی۔

خطابی رحمه الله علیه وائی چې بله وجه داده چې ددغه قول (کل مسکر خمر) معناد اکیدلی سی چې دغه مسکر لکه خمر دا سی دی په حرمت کښی ځکه که څوك داسی ووائی چې داخمر دی یعنی شراب دی مثلاً نودغه لفظ خو داتقاضا کوې چې فی نفسه دی داغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی خمروی او که پردی باندی دلیل قائم سی چی دغه شی کله خمروو حقیقة نوبیادا لازمه ده چی مجازابه اطلاق دخمرور باندی کوی پر دغه شی باندې یعنی دا به وائی چی حکم ئی حکم دخمر ده ځکه چی پر خمر باندی چی حکم دحرمت په کوم علت سوی وُو هغه علت په دغه شی کښې هم موجود ده چی هغه علت سکرده۔

﴿ الحجة الرابعة ﴾

روی ابو داود رحمه الله علیه عن عائشه رضی الله عنها انها قالت سئل رسول الله ﷺ عن البتع فقال کل شراب مسکر فهو حرام۔

قال الخطابی رحمه الله علیه البتع شراب یتخذ من العسل وفیه ابطال کل تاویل یذکره اصحاب تحلیل الانبذة وافساد لقول من قال ان القلیل من المسکر مباح لانه علیه السلام سئل عن نوع واحد من الانبذة فاجاب بتحریم الجنس فیدخل فیه القلیل والکثیر منها ولو کان هناك تفصیل فی شئی من انواعه ومقادیره لذکره ولم یهمله۔

څلورم دلیل داده امام ابو دائود رحمه الله علیه له ام المؤمنین بی بی عائشه رضی الله عنها څخه روایت کوې دا وائی چی له رسول الله ﷺ څخه سوال له بتع وسو رسول الله ﷺ ورته وویل چی هر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شراب چی نشه او مستی را وسترنکی وی هغه حرام دی خطابی رحمه الله علیه وائی چی بتع هغه شرابو ته وائی چه له عسلو جوړ سوی وی او دا وائی چی پدغه حدیث شریف کښی ابطال دهرهغه تاویل دی چی اصحاب تحلیل الانبذه ئی ذکر کوې اوفساد دهغه قول ده چی وائی قلیل له مسکر څخه مباح ده ځکه له رسول الله ﷺ څخه سوال له یوی نوع دشرابو وسو او ده جواب په تحریم دجنس سره ورکو نو په جنس کښی قلیل او کثیر دواړه داخل دی نوکه چیری بالفرض وتقدیر تفصیل پکښی وائی مثلاً چی فلانی قسم حلال دې او فلانی قسم حرام دی یا مثلاً که دونه مقدار وُو نوبیا حلال دی او که دو نه وُو بیا حرام دی نوبیا به دغه سی مهمل نه ویل چی **کل شراب اسکر فهو حرام** یعنی هغه نوع او مقدار ئی بیا ذکر کول۔

﴿ الحجة الخامسة ﴾

روی ابو دائود رحمه الله علیه عن جابر بن عبدالله رضی الله عنه قال قال رسولُ الله ﷺ

ما اسکر کثیره فقلیله حرام

پنځم دلیل داده امام ابو داؤد رحمه الله علیه له جابر ابن عبدالله رضی الله عنهما څخه روایت کوې هغه وائی چی رسول الله ﷺ وویل هغه شی چی ډیرئی مستی را وستونکی وې دهغه لږ هم حرام ده یعنی قلیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کثیر دمسکراتو علی السویه دی

﴿ الحجة السادسة ﴾

روی ایضاً عن القاسم عن عائشه قالت سمعت رسول الله ﷺ یقول کل مسکر حرام وما اسکرمنه الفرق فملأ الکف منه حرام قال الخطابی رحمه الله علیه الفرق مکیال یسع ستة عشر رطلاً وفیه ابین البیان ان الحرمة شاملة لجمیع اجزاء الشراب۔

شپږم دلیل داده چی مذکور راوی له قاسم رضی الله عنه هغه له بی بی عائشه رضی الله عنها څخه روایت کوي داوائی چی ماله رسول الله ﷺ څخه او ریدلی دي هغه ویل هر مسکر حرام ده او هغه شی چی دهغه فرق مستیدونکی اونشه را وستونکی وی له هغه شی څخه یوموځ هم حرامده خطابی رحمه الله علیه وائی چی فرق هغه پیمانی ته وائی چی په هغه کښی شپاړس رطل ځایږی او پدی حدیث کښی واضح تربیان داده چی حرمت وټولو اجزاء دشرابو ته ورشامل ده۔

﴿ الحجة السابعة ﴾

روی ابو داود رحمه الله علیه عن شهر بن حوشب عن ام سلمه

قالت نهی رسول الله ﷺ عن کل مسکرو مفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوم دلیل داده امام ابو داود رحمه الله علیه عن شهر بن حوشب رضی الله عنه څخه روایت کوې او هغه ئی له ام سلمه رضی الله عنها څخه کوې هغه وائی چی رسول الله ﷺ منع وفرمایله له هر مسکر شی او له هر مفتر شی څخه قال الخطابی رحمه الله علیه **المفتر کل شراب یورث الفتور والخدر فی الاعضاء وهذا لاشك انه متناول لجمیع الانواع الاشربه فهذ الاحادیث کلها دالة علی ان کل مسکر څمرو هو حرام۔**

خطابی رحمه الله علیه چی وائی مفترو هر هغه شرابو ته وائی چی مورثه ئی فتور او خدر وی په اعضاء کښی یعنی چی په اندامو کښی سستی او کهالی پیدا کوې هغه ته مفتر وائی او داحدیث بیشکه وټولو اقسامو دشرابو ته شامل دی امام رازی رحمه الله علیه وائی چی دغه احادیث ټول دلالت کوی پردی باندې چی هر مسکر خمردی او خمر حرام دې۔

نوله دی دامعلومه سوه چی هر هغه شی چی مستی او نشه پیدا کوی په بدن کښی لکه شراب وغیره مثلاً هغه تر لفظ دمسکر لاندی دی هر هغه شئی چی په بدن کښی سستی او کهالی پیدا کوې لکه نسوار وغیره هغه ترلفظ دمفتر لاندی دې۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ النوع الثانی من الدلائل علی ان کل مسکر خمر ﴾

دویمه نوع له دلائلو پر دی باندی ده چی هر مسکر خمردی التمسك بالا شتقاقات قال اهل اللغة اصل هذالحرف التغطية سمی الخمار خمارً لانه يغطی رأس المرء ة وخمرت رأس الاناء ای غطته والخامر هوالذی يكتم شهادته قال ابن الانباری رحمه الله عليه سميت خمر لانها تخامر العقل ای تخالطه دليل په اشتقاقاتو سره ده اهل اللغة والاوائی چی اصل ددغه حرف تغطية ده يعنی پوټيدل دی وټکری ته ټکری وائی يعنی خمارورته وائی لدی وجهی چی د بنځی سرورپټه وی او دغه رنګه دخمرت رأس الاناء معنی داده چی مادلو بنی سر ورپټ کو او دغه رنګه خامر وهغه چاته وائی چی خپله شاهدی پوټه وی او ابن انباری رحمه الله عليه وائی چی وخمرته خمر وائی لدی وجهی چی عقل پوټه وی او سره ګډ وډ کوی په الاشتقاقات دالة علی ان الخمر مايكون ساترا للعقل كما سميت مسكراً لانها تسكر العقل ای تحجزه وكأنها سميت بالمصد رمن خمره خمراً اذا ستره للمبالغه ويرجع حاصله الی ان الخمر هو السكر لان السكر يغطی العقل ويمنع من وصول نو ره الی الاعضاء فهذه الاشتقاقات من اقوی الدلائل علی ان مسمی الخمر هو المسكر۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اشتقاقات پر دی باندی دلالت کوي چی خمر وهغه شی ته وائی چی پوټیدونکی عقل لره وی لکه څنګه سی مسکر نامدار سوځکه خو عقل منع کوی او بند وی یه یعنی دا خمر په مصدر سره نامدا ره سو مبالغة یعنی حق خودا وُوچی ددغه خمر نوم مخمر وائی خولکن مبالغةً یه خمر ورته وویل لکه په زید عدل کښی مثلاً چی حق داده چی زید عادل ووائی خو لکن دزیادة عدل په وجه باندی زید عدل ووائی مبالغةً حاصل دکلام دادِه چی خمر ودغه سکرته یعنی ودغه نشی ته وائی ځکه خوداسکر یعنی دانشه عقل سلبه وی نو دغه اشتقاقات له اقوی دلائلو څخه دی پر دی باندی چی خمر دمسکرشی لپاره نوم ده یعنی هغه مسکرئی مسمٰی ده نوهر مسکر خمر ده او هر خمر حرام ده

﴿ النوع الثالث من الدلائل على ان الخمر هو المسکر ﴾

ان الامة مجمعة على ان الايات الواردة فی الخمر ثلاثة اثنان منهاورد بلفظ الخمر احدهما هذه الاية والثانية اية المائده والثالثة وردة فی السکر وهو قوله لَا تَقْرَبُوْاالصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى ط وهذا يدل على ان المراد من الخمر هو السکر۔

دریمه نوع له دلائلو چی هغه دلالت کوي پردی باندی چی خمرو مسکرته وائی هغه داده چی امت اجماع پردی باندی کړی ده چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ایاتونه چی په خمر کښی وار دسوی دی هغه دری دی دوه په لفظ دخمر واردسوی دی چی یو دغه ایات ده وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌوَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَاِثْمُهُمَا اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا۔

او بل دغه ایات ده چی اِنَّمَا الْخَمْرُوَالْمَيْسِرُوَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ط الایه

او دریم دغه ایات ده چی لَاتَقْرَبُوالصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى بلکه څلورا یا تو نه دی څلورم داده۔

وَمِنْ ثَمَرَاتِ نَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَراً وَّرِزْقاً حسناً

نودا دلالت کوي پردی باندی چی مراد له خمر څخه سکرده ځکه خو بعض ایاتو نه په لفظ دخمر سره راغلی دی او بعضی په لفظ دسکر سره راغلی دی مقصد اوهدف دایاتو یو شی ده نودا معلومه سوه چی سکراو خمر یو شی دی۔

﴿ النوع الرابع من الدلائل ان سبب تحريم الخمر هو ﴾

ان عمرو معاذ قالا يا رسولٰله ان الخمر مسلبة للعقل مذهبة للمال فبيّن لنافيه فهما انما طلبا الفتوى من اللّٰه ورسوله بسبب كون الخمر مذهبة للعقل فوجب ان يكون كل ماكان مساوياً للخمر فى هذا المعنى اما ان يكون خمرً او اما ان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يكون مساوياً للخمر فی هذا الحكم۔

څلورمه نوع له دلائلو داده چی سبب د تحریم دخمر داده چی عمر ومعاذ رضی الله عنهما و ویل چی یا رسول الله چې خمر خو مذهب مال لره دی او مسلب عقل لره دی نو ته مونږ ته بیان پکښی وکړه یعنی دوی دوو خو له الله (جلّ جلاله) او د اَلله (جلّ جلاله) له رسول څخه فتوی طلب کړه لدی وجهی طلب کړه چی دغه خمر مذهب او مسلب عقل لره وو نو اَلله (جلّ جلاله) دافتوی ور کړه چی دغه مردار دی دشیطان عمل ده نولدی دا معلومه سوه چی دالازمه ده چی هر هغه شی چی له خمر سره مساوی وی پدغه معنی کښی یعنی چی مسلب عقل لره وی نو هغه شی به یا په خپله خمر و ې او یابه له خمر سره په حکم کښی مساوی وی چی اَلله (جلّ جلاله) پدغه ایات کښی هغه حکم ذکر کو **اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُاه** حاصل ئی دا سوچی هر هغه شی چی مذهب عقل لره وی هغه به یاعین خمروی او یابه مساوی له خمره سره وی نو تریاق وافیون وغیره کځه هم په عین خمریت کښی علماء اختلاف لری چی عین خمر نه دی لکن په مساویت کښی له خمر سره هیڅوك اختلاف نسی کولی ځکه خودوی هم داسی مذهب او مسلب عقل لره دی لکه خمر چی وُو نو دوی به له خمر سره په حکم کښی مشترك وی۔ یعنی په حرمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښی نه په نجسیة کښی۔

﴿ النوع الخامس من الدلائل ﴾

ان الله علل تحريم الخمر بقوله تعالىٰ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطَانُ اَنْ يُّوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءُ فِى الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوة (سورة المائده ايه نمبر ۹۱)

اَللّٰه (جلّ جلاله) علت دحرمت دخمر پدی خپل قول باندی ویلی ده چی شیطان اراده لری ددی چی ستاسو په میانځ کښی دښمنی او بغض واچوی په ذریعه دشرابو او دقیما راومنع کړی تاسولره له یا ده داَللّٰه (جلّ جلاله) اوله لمانځه څخه۔

ولا شك ان هذالافعال معللة بالسكرو هذا لتعليل يقينى فعلى هذا تكون هذه الاية نصاً فى ان حرمة الخمر معللة بكونها مسكرة فاما ان يجب القطع بان كل مسكر خمر وان لم يكن كذلك فلا بد من ثبوت هذا الحكم فى كل مسكر وكل من انصف وترك العناد علم ان هذه الوجوه ظاهرة جليلة فى اثبات هذا المطلوب۔

پدې کښی شك نسته دغه افعال چه بغض او دشمنی ده او بندیدل دی دخدای(جلّ جلاله) له یا ده او له لمانځه څخه دا معلل په سکر سره دی یعنی ددغوا افعالو علت نشه ده کدغه نشه نه وی نو دغه افعال له

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانه نه صادر ریږی او دغه تعلیل هم یقینی ده یعنی اَللّٰه (جلّ جلاله) شراب،هم پدغه وجه حرام کړی دی چی بغض او دښمنی او بندیدل دخدای(جلّ جلاله) له یا ده اوله لمانځه څخه ده اوداچه رائی په سبب دشرابو رائی نوبنا پردی باندی دغه ایات چی اِنَّمَا الْخَمْرُ والمیسر وَالْاَنْصَابُ الایه دا صراحةً دلالت کوی پردی باندی چی شراب لدی وجی حرام دی چی مسکردی یعنی دا سکرئی علت دحرمت ده نولدی بیانه دالازمه سوه چی یا به قطع او یقین پردی باندی کوی چی هر مسکر خمر دی او که دا قطع نه وسی بیاد الازمه ده چی ثبوت ددغه حکم به کوې په هر مسکر کښی حاصل دکلام داده چی اَللّٰه (جلّ جلاله) شراب پدی وجه حرام کړیدی چی انسان دخدای له یا ده اوله لمانځه څخه باسی او انسان دخدای(جلّ جلاله) له یا ده اوله لمانځه ترهغه وخته نه وزی چی نشه نه و ې یعنی په نشه سره انسان دخدای(جلّ جلاله) له یاده او له لمانځه وځی او نشه په شرابو کښی موجود ده نوځکه دغه نشه علت دحرمت دشرابو سوه نو په هر هغه شئی کښی چی نشه موجوده وی هغه به یاعین شراب وی او یابه په حکم دشرابو کښی وی یعنی لکه څنګه سی اَللّٰه (جلّ جلاله) دشرابو په حقله وائی چی شراب مردار دی دشیطان عمل ده پرهیز ځینی وکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه رنګه به ددغه مسکر شی په حقله هم وای چی داد شیطان عمل ده پرهیز ځینی وکړی۔

په امام صاحب رحمه الله علیه پسی بعض شوافع رحمه الله علیه وائی چی امام صاحب رحمه الله علیه پردی خبره باندې چی هر مسکر خمر نه ده بلکه هغه یومذکور شی خمر ده چی **عصیر العنب الشدید الذی قذف بالذبد** ده په دی ایات دلیل نیولی ده **وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًوَّرِزْقاً حَسَناً** ط

ترجمه: له میوُو دخرما او انګورو څخه جوړه وی نشه اورزق حسن یعنی اَللّٰه (جلّ جلاله) پرمونږ باندی احسان کړې ده په نشه جوړه ولو اورزق حسن سره نودالازمه ده چی دانشه به مباح وی ځکه احسان په مباح سره وی په حرام سره احسان نسی کید لای خولکن داخبره غلطه ده چی امام صاحب پر خپله مدعی په دغه ایات دلیل نیولی ده بلکه پردی باندی شریك بن عبدالله دلیل نیولی ده هغه له خمر ماسوی نور ټول شیان مباح بولی (مبسوط ۵، ج-۱۲) فتح القدیر ۳۱، ج-۹۔ امام ابو حنفیة رحمه الله علیه وائی چی هر مسکر حرام ده خوهر مسکر خمر نه ده خمر عبارة له دی بولی **عصیر العنب الشدید الذی قذف بالذبد** یعنی خاص له انګورو څخه او بهُ باسی او هغه په جوش وغیره سره سخت سی اوبیا ځګ غور ځوی هغه ته خمر وائی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـدی مـاسوی نور مسکرات حرام دی خولکن حرمت ئی تر خمر کم ده ثـمره داختلاف په مینځ دامامانو کښی په دی کښی ظاهره کیږی

امام صاحب رحمه الله علیه چی خمر خاص **وعصیر العنب** ته وائی یعـنـی پـر دی مذکورشی اطلاق دخمر حقیقةً کول کیږی او پـر هغه نـورئی مجازاً کول کیږی ځـکـه دا په اجماع سره ثابت ده اجماع پر دی راغـلی ده چی ودغه عصیر العنب ته خمر وائی نودغه مذکورشی حـرام قطعی ده ځکه په دلیل قطعی سره ثابت ده او هغه نور حرام ظنی دی ځـکه په دلیل ظنی سره ثابت دی چی اخبار احاد دی نو په عصیر العنب کښی علت دحرمت سکر نه ده بلکه عین ئی حرام او مردار ده او هـغـه نـورو مسکراتو کښی عـلـت دحـرمـت سـکرده امام صاحب رحـمـه الـلـه علیه وائی په عصیر العنب کښی پـه قلیل خوراك او کثیر خوراك حد جاری کیږی یعنی ولوکه دونه وخوری چی مسکر نه وی اوبیـع یه باطله ده مستحیل یه کافرده او ما سوی له عصیر العنب څخه هغه نور مسکرات بیا داسی نه دی یعنی مستحیل ئی کافر نه ده او بیع یـه پـه نـفـس جـواز سـره جائز ده او حد ترهغـه وختـه پوری ئـی په خـوڑونـکی باندی نه جاری کیږی تر څوچـی مسـکر نه وی یعنی په قـلیـل خوراك باندی یه حد نه جاری کیږی او امـام شـافعی رحمه الله عـلیـه یه فرق نه کوی هغه وائی هر مسکر خمرده او هر خمر حرام ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنی علت دحرمت سکرده لکه مخته چی ذکر سو او مستحیل دٹولو کافر ده اوبیع یه باطله ده حاصل ئی داسوچی امامان صاحبان رحمه الله علیهما له عصیر العنب څخه ماسوی دهغو نورو مسکراتو په حرمت کښی سره متفق دی په خمریت کښی سره مختلف دی کځه هم دامام صاحب رحمه الله علیه په قول کښی غیر مفتی به اومر جوع عنه قولونه سته په ائنده کښی به ئی انشاء الله ذکر کړو بیرته خپل مقصد ته راځو چی حرمت دخمرده۔

﴿ المقام الثانی فی بیان ان هذه الایة ﴾

﴿ دالة علی تحریم الخمر و بیانه من وجوه ﴾

﴿ الاول ﴾

ان الایة دالة علی ان الخمر مشتملة علی الاثم والاثم حرام

لقوله تعالیٰ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّیَ الْفَوَاحِشَ مَاظَهَرَ مِنْهَا وَمَابَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْیِ ط (سورة الاعراف نمبر ٣٣)

فکان مجموع هاتین الایتین دلیلاً علی تحریم الخمر دویم مقام په دی کښی ده چه دغه ایات یَسْئَلُوْنَکَ عَنِ الْخَمْرِ ط دلالت پر حرمت دخمر باندی کوی او بیان ئی له ډیرو وجهودہ او له وجهه داده چی دغه ایات دلالت کوی پردی باندی چی خمر مشتمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی پر گناه باندی گناه ئی داوه قُلْ فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَاِثْمُهُمَا اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ط

او گناه حرام ده په دی قول دی اَللّٰه (جلّ جلاله) سره یعنی ته ورته ووایه ای محمد ﷺ چی زمارب حرام کړی دی۔

دبی حیایی خبری کومی چی پکښی بنکاره دی او کومی چی پکښی پټی دی او گناه لره او ناحقه زیاتی کولو لره په دغه لفظ داثم کښی هر قسم گناه راغله خواه دعقیدی گناه یا دعمل گناه وی او بیاد ذاتی عمل گناه وی او که دخلقو دحقو نو گناه وی نو دغه مجموع دواړه ایا تو نه دلالت کوی پر تحریم دمسکراتو باندې۔

﴿ الثانی ﴾

ان الاثم قدیراد به العقاب وقدیرادبه ما یستحق به من العقاب من الذنوب وایّهما کان فلایصح ان یوصف به الاالمحرم۔

دویمه وجه داده چی په لفظ دااثم سره کله عقاب یعنی عذاب مرادوی او کله هغه شی مرادوی چی په هغه سره انسان مستحق دعذاب گرزی چی هغه عبارة ده له گناه څخه چی هریو مراد سی له محرّم شئی ماسوای دبل شی توصیف نه په صحیح کیږی یعنی په ایات کښی دخمر توصیف په اثم سره سوی ده او اثم چی په هر معنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخلی دمحرم توصیف په کبیری نو دا معلومه سوه چی خمر حرام دي۔

﴿ الثالث ﴾

انه تعالیٰ قال وَاِثْمُهُمَا اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا صرح برجحان الاثم والعقاب وذلك يوجب التحريم۔

دریمه وجه داده اَللّٰه (جلّ جلاله) ویلی دی چی گناه ددوی ترنفع غټه ده په ترجیح داثم اوعقاب ئی تصریح وکړه او داتحریم واجبه وی

﴿ الاثم الكبير ﴾

فيه امور احدهما ان عقل الانسان اشرف صفا تها والخمر عدوالعقل وكل ماكان عدوالا شرف فهو اخس فيلزم ان يكون شرب الخمر اخس الامور وتقريره انما سمی عقلاً لانه يجری مجری عقال النا قة فان الانسان اذا دعاه طبعه الی فعل قبيح كان عقله مانعاً له من الاقدام عليه فاذاشرب الخمر بقی الطبع الداعی الیٰ فعل القبائح خالياً عن العقل المانع منها والتقريب بعد ذلك معلوم۔

په ایات شریف کښی اثم کبیر ذکر ده پدی کښی اموز دی اول امر داده چی ده انسان عقل اشرف دصفاتو ده او خمر دښمن دعقل ده نوهر هغه شی چی دشمن داشرف وی هغه به اخس وی نو دالزمه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی دخمر څښنل اخس دامورو ده تقریرئی داده چی عقل ته عقل وائی ځکه داجاری پر ځای دگونډی داوبن ده ځکه انسان چی کوم وخت خپل طبعیت ئی ویو بدفعل ته ور وغواړی نو عقل ئی مانع سی لدغه بدفعل کولو څخه هغه ئی نه ور پر یږدی ودغه بدکار ته لکه داوبن لپاره چی گونډه ده گونډه وهغی رسی ته وائی چی داوبن دمخ پشه ورغبرگه کړی او په ویتړی او کوم وخت چی انسان شراب څښنی نود ده هغه طبعیت چی بلونکی وی وبد فعل ته هغه خالی سی له عقله څخه هغه عقل چې منع کونکی وُو له اقدام کولو څخه پر دغه بدفعل نویدغه وجه اثم کبیر ده یعنی غټه گناه ده ذکر ابن ابی الدنیا أنه مر علی سکران وهو یبول فی یده ویمسح به وجهه کهیئة المتوضئی ویقول الحمد الله الذی جعل الاسلام نورً اوالماء طهوراً وعن العباس بن مرداس أنه قیل له فی الجاهلیة لِمَ لاتشرب الخمر فانها تزید فی جرئَتك فقال ما انا بأخذ جهلی بیدی فادخله جو فی ولا ارض ان اصبح سید قوم وامسی سفیهم۔

دهغه مخته وجهی په تائید کښنی دغه کلام ذکر کیږی داسی ذکر سویدي چی ابن ابی الدنیا پریو نشه ئی باندی تیریدی هغه په لاس کښنی بولی کولی په مخ ئی مښلي لکه اودس کونکی اوویل ئی حمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی هغه ذات لره چی اسلام ئی نور گرز ولی ده او اوبه ئی پاکونکی گرزولی دي او له عباس بن مرداس څخه نقل سویده چی یووخت په جاهلیت کښی ودته یوچا وویل چی ته شراب ولی نه چشی داخوستا په جرئت کښی زیاتوب راولی ده ورته وویل چی زه په خپل لاس جهل په خپل نس کښی نه اچوم او نه زه په دی راضی کیږم چی سهار سردار دقوم یم او ما بنام هغه بیعقل دقوم یم۔

﴿ وثانیها ﴾

ماذکره الله تعالیٰ من ایقاع العداوة والبغضاء والصد عن ذکر الله وعن الصَّلٰوة۔

او دویم امر هغه ده چی هغه عبارة ده له وقوع دد بنمنی په خپل میانځ کښی او منع کیدل له یا دخدای(جلّ جلاله) څخه او منع کیدل له لمانځه څخه دغه هر یو اثم کبیر ده یعنی غټه گناه ده۔

﴿ وثالثها ﴾

ان هذه المعصیة من خواصها ان الانسان کلما کان اشتغاله بها اکثرو مواظبة علیها اتم کان المیل الیها اکثروقوة النفس علیها بخلاف سائر المعاصی مثل الزانی اذا فعل مرة واحدةً فترت رغبته فی ذالك العمل وکلما کان فعله لذلك العمل اکثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

كان فتوره اكثر ونفرته اتم بخلاف الشرب فانه كلما كان اقدامه عليه اكثر كان نشاطه اكثرو رغبته فيه اتم فاذا واظب الانسان عليه صار الانسان غرقاً فى اللذات البدنية معرضاً عن تذكرة الاخرة والمعاد حتى يصير من الذين نسو الله فأنسا هم انفسهم وبالجملة فالخمر يزيل العقل واذا زال العقل حصلت القبائح باسرها ولذلك قال عليه الصلوة والسلام الخمر ام الخبائث تفسير كبير (نمبر ٤٠١، ج-٢)

دريم امر داده چې معصيت او گناه دخمر له خواصو څخه ده يعنى چې دانسان شغل هر كله وربانده ډيروى او هميشه توب ئى وربانده تام وى دغو نه ئى ميل ودوى ته ډيروى او نور گنا هو نه دغسى نه دى لكه زانى چى يوار دزنا فعل وكړى نو دده رغبت پدغه فعل كښى سست تيږى يعنى چى څونه ئى دزنا فعل اكثروى دغونه ئى سستى او نفرة ځينى اتم او اكمل وى اوشراب داسى نه دى ځكه چې پر هغو باندى چه څو نه اقدام اكثروى دغو نه ئى رغبت پكښى اتم وى نو هر كله چى انسان هميشه توب وربانده وكړى نو انسان غرق گرزى په لذات بدنيه كښى او اعراض كونكى گرزى له ياده داخرة څخه حتى چى انسان گرزى له هغو كسانو چى الله ئى هيروى او په دوى هير كړى وى خپل نفسو نه اوحال داده الله (جلّ جلاله) وائى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولا تكونو كالذين نسو الله فأنساهم انفسهم۔

یعنی تاسومه کیږی لکه هغه کسانُ چې اَللّٰه (جلّ جلاله) ئی هیر کړی وی او اَللّٰه (جلّ جلاله) هیر کړی وی په دوی باندی خپل نفسونه حاصل دکلام داده چی خمر عقل زائله وی نوکوم وخت چی عقل زائل سی نوټول قبائح گنا هونه او معصیتونه پخپله حاصیلیږی نوځکه رسول الله ﷺ وائی الخمرام الخبائث یعنی خمر دټولو بدو شیانو موردہ۔

﴿ قال الراغب فی کتابه مفردات القران ﴾

سمی الخمر لکونه خامرا للعقل ای ساترا له وهو عند بعض الناس إسم لکل مسکر وعند بعضهم للمتخذ من العنب خاصةً وعند بعضهم المتخذ من العنب والتمر وعند بعضهم بغیر المطبوخ رجح إنه اسم لکل شیءٍ ستر العقل وکذا قال غیر واحد من اهل اللغة منهم الدینوری والجوهری۔

امام راغب په خپل کتاب مفردات القران کښی وائی چی شرابوته خمر وای لدی وجهی چی دوی خامر او پټه ونکی دی عقل لره داخمر په نزد دبعض الناس نوم لپاره دهر مسکرده اوپه نزد دبعض الناس نوم خاص لپاره دهغه شی ده چی له انگورو او له خرما جوړ سوی وی اوپه نزد دبعض الناس نوم لپاره دهغه شی ده چی پوخ سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وی ترجیح وهغه ته ور کول سوی ده چی نوم لپاره دهغه شی ده چی پټیدونکی عقل لره وی اودغه رنګه غیر واحد له اهل لغة څخه پدغه خبره قول کړی ده چی بعض له هغو څخه دینوری او جوهری دی

قال صاحب الهداية من الحنفية الخمر ما اعتصر من ماء العنب اذا اشتدوهو المعروف عنداهل اللغة واهل العلم قال وقيل هواسم لكل مسكر لقوله عليه السّلام كل مسكر خمرولانه مشتق من مخامرة العقل وذلك موجود فی كل مسكر قال ولنا اطباق اهل اللغة على تخصيص الخمر بالعنب ولهذا اشتهر استعمالها فيه ولان تحريم الخمر قطعی وتحريم ماعد المتخذ من العنب ظنی قال وانما يسمی الخمر خمراً لتخمره لالمخامرة العقل قال ولاينا فی ذلك كون الاسم خاصاً فيه كما فی النجم فانه مشتق من الظهور ثم هو خاص

باالثرياء آه صاحب دهدائی له احنافو څخه وائی چه خمر دانګورو اوبوته وائی چه له انګورویه ونښځی ځی او سختی سی او په ځګ سره غور ځیدل کوی دا په نزد داهل اللغة او اهل علم باندی معلوم شئی ده یعنی ودغه مذکور شئی ته وائی اودی وائی چه یوچاویلی دی چه خمر دهر مسکر شئی نوم ده له جهته ددی قول درسول الله ﷺ کل مسکر خمر اوبل خمر مشتق ده له مخامرة دعقل یعنی چه عقل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوټه وی نوئی خمر بولی اوداخمریت په هر مسکر کښی پروت ده۔ اودَی وائی چه مونږ لره اطباق داهل اللغة ده پر تخصیص دخمر ترانگورو پوری یعنی چه اهل اللغة دانگورو والا ته خمر وائی نومونږهم دانگورو وابوته خمرو ایونو لدی وجه استعمال دخمرهم دانگورو په اوبو کښی مشهورده اوبل تحریم دخمرو قطعی ده اوتحریم دهغو شیانوچه هغه له انگورو ماسوی له بل شئی ځخه جوړ سوی وی ظنی ده اودَی وائی چه خمر ته خمر وائی لدی وجه چه خمیره کیږی نۀ لدی وجهه چه عقل پوټه وی او دی وائی چه دالدی سره منافی نده چه یو شئی دی مخامر وی عقل لره خولکن خمر دی نه ورته وائی یعنی تاسی خووایاسُت چه خمر لدی وجه ورته وائی چه عقل پوټه وی نو هرهغه شئی چه عقل پوټه وی هغه خمر ده دَی وائی داخو بعیده خبره نده چه عقل دی پوټه وی او خمر دی نۀ ورته وائی لکه نجوم چه مشتق له نجم ځخه ده اونجم ظهور ته وائی نوبایدو هرستوری ته نجم ووائی ځکه خوهریو ظاهر ده خولکن ؤس خاص ترثریاء پوری ده یعنی تر پیر وینی پوری۔

﴿ قال فی الفتح ﴾

والجواب عن الحجة الاولی ثبوت النقل عن بعض اهل اللغة بأن غیر المتخذ من العنب یسمیٰ خمرا الایری انه قال فی

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاموس اللغة الخمر ما أسكر من عصير العنب او عام وقال العموم اصح لانها حرمت وما باالمدينة خمر عنب وما كان شرابهم الا البسرو التمر انتهى وهذا صريح فى ان الخمر عند بعض اهل اللغة يعم ماء العنب وغيره وان العموم اصح عند صاحب القاموس فتح القدير (نمبر ٢٣، ج-٩) صاحب الفتح وائی چه داول دلیل جواب داده چه له بعض اهل لغتو ځخه دانقل ثابت ده چه هغه شئی چه له انگورو ماسوی له بل شئی جوړ سوی وی هغه ته خمر وائی لکه صاحب قاموس چه په خپل کتاب قاموس اللغة کښی وائی خمر هغه شئی ته وای چه مسکروی هغه له انگورو جوړ سوی وی او که عام وی او ویلی دی چه عموم اصح ده ځکه کوم وخت چه خمر حرام سو په هغه وخت کښی په مدینه منوره کښی دانګورو شراب نۀ ؤو په هغه وخت کښی دو چی خرما اود دلندی خرما شراب ؤ نوابن همام رحمه الله علیه وای چه دغه عبارة صراحةً دا دلالت کوی چه خمر په نزد دبعض اهل اللغة عام دی دانګورو وابوته هم وائی او ونوروته هم وائی وقال الخطابی زعم قوم ان العرب لاتعرف الخمر الامن العنب فيقال لهم ان الصحابةرضی الله عنهم الذين سمو غير المتخذمن العنب خمرا عرب فصحاء فلو لم يكن هذاالاسم صحيحاً لما اطلقوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطابی رحمه الله علیه وائی چه یو قوم داگمان کړی ده چه عرب خمر صرف وهغه شئی ته وائی چه له انگورو جوړ سوی وی نوودغه قوم ته دا ویل کیږی چه صحابه کرامو رضی الله عنهم فصیح عرب دی دهغه باوجود وهغه شئی ته چه له انگورو ماسوی له بل شئی جوړ سوی وی خمر ورته وائی نوکه دغه اسم و هغوشیانو ته صحیح نسی نو صحابه کرامورضی الله عنهم پدغه نامه ولی ورته ویل **وقال ابن عبدالبر قال الکو فیون الخمر من العنب لقوله تعالیٰ اعصر خمراً فقالوا فدل علی ان الخمر هو مایعصر لاما ینبذ قال ولا دلیل فیه علی الحصر قال اهل المدینة وسائر الحجازئین واهل الحدیث کل مسکر خمر و حکمه حکم ما اتخذ من العنب فیکفر مستحلها وتصیر نجسته ولا قیمة لها فی حق المسلم ولا یجوز بیعها ولا الانتفاع بها** ابن البر رحمه الله علیه وائی چه کوفیان صرف دانگورو وابوته خمر وائی لدی وجه چه اَللّٰه (جلّ جلاله) وائی **اعصر خمراً** نودغه اعصر لفظ دلالت پردی باندی کوی چه خمرو هغه شئی ته وائی چه نبنځیځل کیږی وهغه ته نه وائی چه خمیره کیږی نبنځیځل صرف له انگورو کیږی له بل شئی نه کیږی نوځکه صرف دانگورو وابو ته خمر وائی ابن البر رحمه الله علیه وائی پدغه ایات کښی پر دغه حصر باندی هیڅ دلیل نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه اهل المدينة او باقی اهل الحجاز او اهل الحديث يعنی محدثين داوائی چه **كل مسكر خمراً** يعنی هر نشئی شئی خمرده او حكم ئی حكم دهغه شئی ده چه له انگورو جوړ سوی وی او مستحيل ئی كافرده په حق دمسلمان كښی يه قيامت نشته او نفع ور باندی اخستل ناروا ده۔

﴿ قال القرطبی رحمه الله عليه ﴾

الاحاديث الواردة عن انس وغيره على صحتها وكثرتها تبطل مذهب الكوفيين القائلين بان الخمر لايكون الامن العنب وما كانت من غيره فلا يسمىٰ خمراً ولا يتنا ولها اسم الخمر وهو قول مخالف للغة العرب والسنته الصحيحة والصحابة الفصحاء قرطبی رحمه الله عليه وائی هغه ډير احاديث صحيحه چه وارد سوی دی له انس رضی الله عنه وغيره ځخه هغه باطيله وی دكوفيا نومذهب چه دوی قائلين دی پدی باندی چه خمر نوی مگر له انگورو وی او هغه شئی چه له بل شئی وی هغه ته خمر نه وائی اوهغه ته دخمر نوم نه ورشاملیږی دغه قول مخالف له لغتو دعر بوده او مخالف له سنة صحيحه ځخه ده او مخالف له فصيحو صحابه كرامورضی الله عنهم ځخه ده **لانهم لمانزل تحريم الخمر فهموا من الامر باجتناب الخمر تحريم كل مسكرولم يفرقوا بين**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مایتخذ من العنب وبین مایتخذ من غیره بل سووا بینهما وحرمو اکل نوع منها ولم یتوقفوا ولم یشکل علیهم شئی من ذلك بادروا الی اتلاف ماکان من عصیر العنب وهم اهل اللسان وبلغتهم نزل القرآن الکریم فلوکان عندهم فیه تردد لتوقفوا عن الاراقة حتی یستکشفو الامر ویتفصلوا وتحققواالتحریم یعنی دکوفیا نو قول له فصیح صحابه کرامورضی الله عنهم ځخه مخالف ده ځکه کوم وخت چه تحریم دخمر نازل سوچه اَللّٰه (جلّ جلاله) وویل له خمراجتناب وکړی نو صحابه کرامورضی الله عنهم لدغه امره تحریم دهر مسکرو فهما وه فرق یه نه وکو په میانځ دهغه کښی چه له انګورو جوړیږی او دهغه کښی چه له بل شئی جوړیږی بلکه ټول ئی علی السوی حساب کړو اونۀ ئی توقف وکو اونه دغه امر پر دوی مشکل سو بلکه چسفاندی یه وکړه واتلاف دهغه شیانو ته چه له انګورو ماسوی له بل شئی جو ړ سوی وَه اوسره لدی چه صحابه کرام رضی الله عنهم اهل اللسان وه اود دوی پر لغتو باندی قرآن کریم نازل وه نوکه چیری دصحابه کرامو یو څه تردد اوشك پکښی وای نودوی به له چپه کیدلود شرابو منع کړی وای ترهغه وخته چه ودویته امر معلوم میدای اوداپه واضحه توګه ورښکاره کیدای چه فلانی قسم حرام دی او فلانۍ قسم ندی حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ وقد ذهب الى التعميم ﴾

الامام علی کرم اَللّٰه وجهه وسیدنا عمر بن خطاب وسعد ابن ابی وقاص وعبدالله بن عمر وابو موسی اشعری وابو هریرة وابن عباس والسیدة عائشة رضوان الله تعالیٰ عنهم اجمعین اوحال داده چه وتعمیم ته امام علی کرم الله وجهه او حضرت عمر بن خطاب او حضرت سعد بن ابی وقاص او عبدالله بن عمر او ابو موسی اشعری او حضرت ابو هریرة او عبدالله ابن عباس او اُمنا حضرت عائشة رضوان الله عنهم اجمعین دغوٹولو صحابو کر اموتگ کړی ده یو یه هم مختص ترعنب پوری نه بولی او بل حضرت عمر رضی الله عنه چه به کوم وخت په تقریر کښی تحریم دخمر بیانوی ددیٰ تعمیم انکاریوه صحابی هم نه کاوه۔

﴿ وذهب الی التعمیم من التابعین رحمه الله علیهم ﴾

الامام ابن المسیب (رحمه الله علیه) وعروة والحسن البصری (رحمه الله علیه) والسعید ابن جبیر (رحمه الله علیه) وآخرون وهو قول مالك (رحمه الله علیه) والاوزاعی (رحمه الله علیه) والثوری (رحمه الله علیه) وابن المبارك (رحمه الله علیه) والشافعی (رحمه الله علیه) واحمد (رحمه الله علیه) واسحاق (رحمه الله علیه) وعامة اهل

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحديث الفقه على المذاهب الاربعه (۱۸، ج-٥) اودغه رنگه دغه مذکور امامانو له تابیعینو او عام اهل حدیثوهم وتعمیم ته تگ کړی ده حدثنی نافع عن ابن عمررضی الله عنه قال نزل تحریم الخمر وان بالمدینة یومئذٍ لخمسته اشربةٍ مافیها شراب العنب ای الّا قلیلاً وماته حدیث بیان کړ حضرت نافع له ابن عمررضی الله عنه ځخه دَی وائی چه حرمت دخمر نازل سو پدغه وخت کښی په مدینة منوره کښی دپنځو شیانو شراب ؤدانګورو شراب نوو پکښی مګر ډیر کم وه حدثنا عبدالعزیز بن صهیب قال أنسٌ بن مالك ماكان لنا خمر غیر فضیخكم هذٰ الذی یسمّونه الفضیخ فانی لقائم اسقی ابا طلحة وفلاناً وفلاناً اذاجاء رجل فقال هل بلغكم الخبر فقالو او ما ذاك قال حرِّمت الخمر قالو احرق هذه القلال یا انسٌ قال فما سألو اعنها ولا راجعو اها بعد خبر الرجل ومونږته حدیث بیان کړو عبدالعزیز بن صهیب هغه وائی چه انس بن مالك ویل چه زمونږ خمر له فضیخ ماسوی بل شئی نه ؤو فضیخ وهغه شرابو ته وائی چه له خرما جوړ سوی وی نوزه ولا ړوم وابا طلحة وفلان وفلان ته می خمرور کول هغو ځیښل په دغه وخت کښی یوسړی راغی وویل تاسی پداغه نوی خبر باندی خبریاست صحابه کرامو ورته وویل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـم خبر باندی هغه سړی ورتـه وویـل چه خمر حرام سویدی صحابه کـرامـو رضی الله عنهم وویل ای انس دغه منگی چپه کړه انس رضی الله عنه وائی چه دوی لدغه خبره ورسته نه بیا پوشتنه کړی ده دخمرو اونه ئی بیا رجوع ورته کړی ده حـد ثنا عیسیٰ وابن ادریس عن ابی حیـان عـن الشعبی عـن ابـن عـمررضی الله عنهم قال سمعت عمر علی منبر النبی ﷺ یقول اما بعد ایّها الناس انه نـزل تـحریم الخمر وهی من خمسة من العنب والتمر والعسل والحنطة والشعیر والخمر ماخمر العقل بخاری (٦٦٤، ج-٢) عیسیٰ وابـن ادریـس روایـت وکـوله ابن حیان هغه روایت کړی ده لـه شعبی رحـمـه الله علیه هغه روایت کړی ده لـه ابـن عـمررضی الله عنه هغه وائـی چه ما له حضرت عمررضی الله عنه ځخه اوریدلی دی درسول الـله ﷺ پر منبر بـانـدی چـه ویـل یـه اما بعد ای خلګو حرمت دخمر نازل سویده او خمر له پنځو شیانو وی له انګورو او له خرما او له عسلو او لـه غـنـمـو او لـه اور بشو او خمر هغه شی ته وائی چه عقل پوټه وی یعنی خلل وررسوی اعلم ان الخمر اسم لکل شراب مسکر سواء کـان مـن الـعـنـب اوالتمر اوغیر هما من الاشیاء الخمسة التی سبـق ذکـرهـا انـفـابـل قـالـوا لیس منحصرا فی هذه الخمسة ایـضـاً هـذا هـوا الـذی عـلیـه الائـمة الثـلاثة وغیـرهـم مـن

(c) ketabton.com: The Digital Library

الجماهیر السلف والخلف قالوا کل مسکر خمرو کل مسکر حرام وما اسکر کیثره فقلیله حرام حاشیه ترمذی (۱۰، ج-۲) باب ماجاء فی الحبوب پوه سه ای مخاطبه چه خمرد هر مسکر شئی نوم ده هغه له انگورو وی او که له خرماوی او که له بل شئی وی له هغو پنځو شیانو بلکه منحصر پدغو پنځو کښی هم نده داهغه قول ده چه پر هغه باندی ائمة ثلاثة او سلف وخلف جمهور دی دوی وائی چه هر مسکر خمرده او هر مسکر حرام ده اوهغه شئی چه کثیرئی مسکروی دهغه قلیل هم حرام ده انتهی که انسان دانصاف په ستر گو ودی حدیثو مبارکو ته وگوری نو نور منشیات خو پر یږده خود نسوار حرمت صراحةً ځینی معلومیږی ځکه سکر په معنی دنشی ده په معنی دمستی نده لکه الله (جلّ جلاله) چه وائی وَتَرَى النَّاسَ سُكَارٰى وَمَاهُمْ بِسُكَارٰى وَلٰكِنَّ عذاب اللهِ شَدِيْد (سورة الحج) یعنی دقیامت په ورځ به خلگ ووینی نشه او په حقیقت کښی به نشه نوی ولکن د الله عذاب سخت ده او رسول الله ﷺ وائی کل مسکر خمر اواکابرین صحابه وائی لکه حضرت عمررضی الله عنه وغیره الخمر ماخامر العقل یعنی خمروهغه شئی ته وائی چه عقل مغلوبه کوی او رسول الله ﷺ وائی ما اسکر کثیره فقلیله حرام یعنی هغه شئی چه ډیرئی عقل مغلوبه کوی دهغه شئی لږهم حرام ده نو لږ نسوار دغیر عادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان عقل مغلوبه کوی او ډیر نسوار دعادی انسان عقل هم مغلوبه کوی اوډیر نسوار غیر عادی انسان مرګ ته رسوی بلکه عادی انسان هم ختمه وی او په نشه کښی اول وهلت معتبر ده وعادت ته اعتبار نسته حاصل دکلام داسو چه هغه منشیات لکه شراب وترياق وچرس وبنګی مثلاً هغه خودی حرام بلکه نسوار په داسی انداز کښی دی چه په حرمت کښی خودی څوك شك نه کوی یعنی کځه هم خمر ندی دخمر په انواعو کښی که نسی داخل خولکن حرام له شك خلاص دی۔

﴿ اتفقت المذاهب الثلاثة وامام محمد رحمه الله عليه ﴾

من الاحناف المفتی به هورأیه عندالحنیفیة علی تحریم جمیع الاشربة المسکرة قلیلها وکثیرها نیئها ومطبوخها سواء کانت خمرا وهی عصیر العنب المتخمرأم غیرها من الاشربة الاخری المتخذة من الذبیب أو التمر او العسل اوالتین اوالحبوب کا القمح والشعیر والذرة ونحوها ویحدکما سنوضح فی بحث الحدود شارب القلیل او الکثیر منها غیر الحنفیة ولایحد الا باالسکر من الاشربة غیر الخمراو بشرب القلیل او الکثیر من الخمر عندالحنفیة لقوله علیه السلام کل مسکر خمرو کل خمر حرام رواه مسلم والدار قطنی خلاصه الفقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الاسلامی (نمبر ٥٥٠٤، ج-٧) البدائع (١١٧، ج-٥) نتائج الافكار (١٦، ج-١٨) ومابعدها الدرالمختار (٣٢٤، ج-٥) اللباب (نمبر ٢١٥، ج-٢) بداية المجتهد (٤٥٧، ج-١) شرح الكبيرو والدسوقی (نمبر ٣٥٢، ج-٤) القوانين الفقيه نمبر ١٧٤، مغنی المحتاج (نمبر ١٨٧، ج-٤) المهذب (نمر ٢٨٦، ج-٢) المغنی (نمبر ٣٠٤، ج-٤) ومابعدها كشاف القناع (نمبر ١١٦، ج-٤) وما بعدها مذاهب ثلاثة او امام محمد رحمه الله عليه له احنافو چه مفتی به قول په نزد داحنافو هم دغه ده متفق دی پر حرمت د ټولو اشربه مسكره ؤيعنی چه هر نشه راوستونكی شی حرام ده هغه نشه راوستونكی شئی لږوے او كه ډيروی اور مسح كړی وی او كه ئی نوی مسح كړی هغه خمروی چه له انگورو جوړ سوی وی او كه نور اشر به وی چه له وخكو جوړ سوی وی ياله خرما جوړ سوی وی ياله عسلو جوړ سوی وی اوياله انذرو اويالـه دانو لكه غنم او اور بشی اوجواری وغيره او په نزد دغير احنافو باندی پر قليل او كثير باندی انسان په حد كيږی يعنی حد پر قليل او كثير باندی جاری كيږی او په نزد احنافو باندی چه دو نه وخوری چه وسكرته ور سيږی نوحد پر جاری كيږی كه ترهغه كم ؤبيانۀ پر جاری كيږی او په شرابو كښی پر قليل او كثير باندی جاری كيږی په نزد احنافو دغه مذكور كتابو نه ټول داوائی چه هر نشئی شئی حرام ده لكه رسول الله ﷺ چه وائی **وأنا انهاكم عن كل مسكر** يعنی زه تاسوله هر نشئی شی ځخه منع كوم او رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای کل مسکر خمرو کل خمر حرام اور رسول اللهﷺ وائی ما اسکر کثیره فقلیله حرام او رسول اللهﷺ وائی ان من العنب خمراً ومن العسل خمرا ومن الزبیب خمرا ومن الحنطة خمرا ومن التمر خمر اوانا انهاکم عن کل مسکر رواه احمد واصحاب السنن النسائی ددغو حدیثو ترجمه مخته ذکر سویده الحافظ الکبیر ابی بکر عبدالرزاق بن همّام الصنعانی رحمه الله علیه دخمر او اشربه په متعلق تقریباً پنځه پنځوس صفحی حدیث لیکلی دی خومونږئی دخوف تطویل په وجه نسوذکر کولائی دهغو حاصل دادی چه رسول اللهﷺ وائی لکه مونږ چه مخته ذکر کړ وچه هر مسکر خمر دی او هر خمر حرام دی اوزه تاسوله هر نشی شئی ځخه منع کوم دهر نشئی شئی قلیل او کثیر حرام ده اوزر به زما امتیان شراب په نوی نومانو پیدا کړی خو هغه ټول خمر دی حرام دی پر دغه طرز ټولی صفحی ډکی دی مصنف عبدالرزاق نمبر (۲۱۰۰، ج-۹) والله اعلم وعلمه اتم واکمل۔

﴿ المقصد الثانی فی حرمت اکل المسکراة والمفتراة ﴾

دویم مقصد په حرمت دخوراك دمسکراتو او مفتراتو کښی ده دامقصد هم دتیر مقصد په شان متفق علیه ده ځکه په حرمت دمسکراتو او مفتراتو ټول ائمة اربعه او اهل حدیث او کوفین او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حجازئین او خلف وسلف جمهور ټول متفق دی خولکن په درجه دحرمت کښی اختلاف ده نودا مقصدهم دغسئی متفق علیه ده ځکه چه په حرمت دمسکراتو او مفتراتو متفق ؤنو پر حرمت دخوراك دمسکراتوا ومفتراتو به په طریقه اولی سره متفق وی ځکه داسی شئی نسته چه حرام دی وی او خوراك دی جائز وی ولوکی داحرمت دنجائست په وجه نوی بلکه دمسکرة یا مضرة په وجه وی ځکه دالازمه نده چه که یوشئی حلال ؤنو خوراك بی هم حلال وی بلکه یو شئی دحلال وی مگر خوراك دی حرام وی حرمت دی ده یوبل شئی په وجه وی لکه ضرر اوسکر وغیره مثلاً اودالازمه ده چه که یوشئی حرام ؤ خوراك بی هم حرام وی ماسوی له حالت اضطراری اوهغه ځانته مسئله ده نولدی وجه مونږ وایو چه دا مقصد هم متفق علیه ده پر حرمت دخوراك یه ټول علماء متفق دی کځحه هم دتیر مقصد دذکر کولو په وجه ددی مقصد دبیانولو ضرورة نوؤ خولکن پدی مقصد کښی یوځه داسی دلائل اوعبارة ؤ چه هغه ددی جدید عصر تر منشیاتو پوری تعلق لری نولدی وجه مونږ دغه مقصد ځان ته یومقصد وبلئی۔

﴿ لقد زعم بعض الفساق ﴾

ان البیرة حلال شر بها لانهما من مأ الشعیر وکذلك نقیع

(c) ketabton.com: The Digital Library

البلح (العرقی) وخمیر الخبز الشعیر (البوظة) ونبات (القات) و(الحشیش) و(الفتکه) زعموان هذه المشروبات وغیرها من المخدراة حلال شر به بحجة ان هذه المشروبات لم تکن فی عصر الرسول ﷺ ولم یرد نص بتحریمها بعض فاسقانو داگمان کړی ده چه دبیر څښل حلال دی ځکه دا داور بشوله او بو ځخه جو ړیږی اودغه رنگه عرقی چه یو قسم دشرابو ده یعنی هغه شراب دی چه کچه خرما په هغه خپل طرز خمیره کړی کم وخت سی چه شراب سی بیالږ او به ور گډی کړی ودغه ته عرقی وائی اودغه رنگه البوظة داهم یو قسم شراب دی چه له اور بشویه جوړه وی اودغه رنگه القات دایو وابنه ده چه پانی یه ژو ولی کیږی په کثیر کښی کسل اوستی ستړه په قلیل کښی نسته چه په پاکستان کښی پان ورته وای یعنی دا یو قسم پان ده او یو قسم پان دتنبول له پانو جو ړه وی په هغه کښی نشه نسته په شرط ددې چه نورنشئی شیان نکړی په گډ اودغه رنگه حشیش یعنی چرس او فتك چه یو قسم نشه ده دوی داگمان کړی ده چه دغه مشروبات اودغه رنگه نور مخدرات ددغو څیښل او خوراك حلال ده ځکه دغه مشروبات نهٔ درسول الله ﷺ په زمانه کښی ؤ او نه ئی په تحریم باندی نص واردسویده وقد اجتمعت کلمة العلماء علی تحریم هذه

(c) ketabton.com: The Digital Library

المشروبات وغيرها من المخدراة المحدثة مثل الحشيش والا
فيون وغيرهما وقد صدرة الفتوى من فضيلة الاستاذ الاكبر
مفتى الديار المصريه نشرت فى مجلة الازهر فى عدد شعبان
سنه ١٣٦٠ نلخصها هنا لعموم الفائده حتى ينتفع بها
الجميع ويقنع بها من فى قلبه شك اوريب فى حرمتها فنقول
انه لايشك شاك ولايرتاب مرتاب فى ان تعاطى هذا المواد
حرام لانها تودّى الى مضار جسمية ومفاسدة كثيرة فهى
تفسد العقل وتفتك بالبدن الى غير ذلك من المضار
والمفاسد الخطيرة فلا يمكن ان تأذن الشريعة بتعا طيها مع
تحريهمها لما هوا قل منها مفسدة واخف ضرراً ولذلك قال
بعض علماء الحنفية (ان من قال بحل الحشيش زنديق
مبتدع) شامى (٤٥٨، ج-٦) وهذا منه دلالة على ظهور حرمتها
ووضوحها وانه لما كان الكثير من المواد يخامر العقل
ويغطيه ويحدث من الطرب واللذت عند متنا ولها كانت دا
خلة فيما حرمه اَللّٰه (جلّ جلاله) تعالىٰ فى كتابه العزيز
وعلى لسان رسول الله ﷺ (من الخمر) (والسكر) اوپه
تحقيق سره دعلماء كلمة جمع سويده پر تحريم ددغو مشروباتو
اودغه رنگه پر نورو عصريه ؤ مخدراتو لكه چرس او افيون اوغيرهما

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دغه رنگه له اوستاذ اکبر مفتی دیار المصر ځخه فتوی صادره سویده په میاشت دشعبان سنه ١٣٦٠ کښی مونږ دعام فائدی لپاره دهغه خلاصه بیانه ؤ ترداسی حده چه ټول خلق فائده وربانډی واخلی او دهغه چاء چه په زړه کښی ئی شك اوریب وی په حرمت ددغو شیانو کښی هغه شك اوریب ئی له زړه وربانډی و خیږی نومونږ وایو چه شاك او مرتاب دی شك اوریب نۀ کوی پدی کښی چه تعاطی ددغو موادو یعنی شمول اوتناول اخذ و گرفت خوراك او څښاك ددغو مواد و حرام ده ځکه دا مفضی دبدن وضرر اوډ یرو مفاسدوته ده ځکه دغه اشیاء عقل فاسده وی او بدن ته ستی ورپیشه وی دغه رنگه نور ضررونه اوغټ غټ فسادونه صورة ته ورپیښه وی نودا امکان نۀ لری چه شریعة مطهرۀ دی دهغه شئی حرام دتناول او شمول اجازه و کړی چه هغه دی تر دغو موادو په فساد کښی کم وی او په ضرر کښی سپك وی نود دغو اجازه خو په طریقه اولی سره نۀ کوی نولدی وجه بعض علماء احناف وائی کوم څوك چه دحشیش په حلت باندی قول کوی هغه زندیق او مبتدع ده شامی (نمبر ٤٥٨، ج-٦) دغه قول پر ظاهر او واضح حرمت ددوی باندی دلالت کوی او بل داسی ډپر مواد چه هغه عقل خمیره کوی اوعقل پوټه وی او په وخت دشمول اوتناول کښی خوشحالی اوخوند پیدا کوی هغه په هغه شیانو کښی چه اَللّٰه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(جلّ جلاله) په کلام عزیز کښی حرام کړی دی داخل دی او په هغو کښی داخل دی چه اَللّٰه (جلّ جلاله) درسول الله ﷺ په زبه حرام کړی دی چه هغه عبارة له خمراو سکر ځخه ده۔

﴿ قال الشيخ الاسلام ابن تيميّه فی كتابه (السياسة الشرعية)﴾

ماخلاصته ان الحشيش حرام يحد متناولها كما يحد شارب الخمر وهی أخبث من الخمر من جهة انها تفسد العقل والمزاج حتی يصير فی الرجال تخنث ودياثت وغير ذلك من الفساد وانها تصدعن ذكر الله وعن الصلوة وهی داخلة فيما حرم الله ورسوله من الخمر والسكر لفظاً او معناً شيخ الاسلام ابن تيميّه په خپل کتاب سياسة الشرعية کښی ويلی دی خلاصه ئی داده چه حشيش چرس حرام دی څکو نکی ئی داسی په حد کيږی لکه شراب څيښنو نکی چه په حد کيږی او دا حشيش تر شرابو هم بد دی لدی وجه چه دغه عقل او مزاج فاسده وی حتی په سړی کښی نربنځی توب او دؤث توب پيدا کوی او لدی ماسوی نور فسادونه هم پيدا کوی او انسان دخدای (جلّ جلاله) له یاده بنده وی او له لمانځه ئی بنده وی نودا داخل دی په هغه شئی کښی چه اَللّٰه (جلّ جلاله) او دَاللّٰه (جلّ جلاله) رسول حرام کړی دی چه هغه عبارة ده له خمر اوله سکر ځخه يعنی داشيان يا داخل په لفظ دخمر کښی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا یه حکم دخمرده قال ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه یا رسول

افتنافی شرابین کنا نضعهما باالیمن البتع وهو العسل ینبذ

حتی یشتد والمزر وهو من الذرة والشعیره ینبذ حتی یشتد

قال وکان رسول الله ﷺ قد اعطی جوامع الکلم بخواتمه

فقال (کل مسکر حرام) رواه البخاری والمسلم ابو موسی اشعری رضی

الله عنه وویل یا رسول الله ﷺ ومونږ ته فتوی راکړه په دو شرابو

کښی چه هغه مونږ په یمن کښی جوړه وو یو قسم **بتع** دی هغه

شراب دی چه عسل نبیذ کړی تر داسی وخته چه سخت سی او بل

قسم مزر دی هغه بیا جواری او اوربشی نبیذ کړی یعنی په هغه خپله

طریقه ئی سره خشتی کړی تر داسی وخته چه سخت سی او ویلی

دی چه رسول الله ﷺ دداسی کلمو خاوندؤ چه یوْ کلمه به ئی وویله

ترپایه به دغه کلمه وخپلو افرادو ته ور شامیلیده نورسول الله ﷺ په

جواب کښی ورته وویل **کل مسکر حرام** یعنی هر نشئی شئی حرام

ده که داغه شرابین وی او که نور نشئی شیان وی رواه البخاری ومسلم

وعن النعمان بن بشیررضی الله عنه قال قال رسول

الله ﷺ ان من الحنطة خمرا ومن الشعیر خمرا ومن الذبیب

خمرا ومن التمر خمرا ومن العسل خمرا وأنا انهی عن کل

مسکر رواه ابو داؤد وغیره نعمان بن بشیررضی الله عنه وای چه رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ﷺ وویل چه له غنمو خمر وی او له اور بشو خمروی او له وخکو خمروی او له خرما خمروی او له عسلو خمروی اوزه له هر مسکره نهی او منع کوم یعنی تخصیص ترشئی پوری نه لری **وعن ابن عمر رضی الله عنهما ان النبی ﷺ قال کل مسکر حرام وفی روایة کل مسکر خمرو کل خمر حرام رواهما مسلم** دحضرت عمر رضی الله عنه زوی وائی چه نبی علیه السلام وویل چه هر نشئی شئی حرام ده او په بل روایت کښی وائی چه هر نشی شئی شراب ده او هر شراب حرام ده نونتیجه ئی داسوه چه هر نشئی شئی حرام ده **وعن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ کل مسکر حرام وما أسکر الفرق منه فملأ الکف منه حرام قال الترمذی هذا حدیث حسن والفرق مکیال یسع ستة عشر رطلا ومعناه ما اسکر کثیره فقلیله حرام حضرت عائشه رضی الله** عنها وائی چه رسول الله ﷺ وویل چه هر مسکر حرام ده او هر هغه شئی چه فرق ئی مسکر وی له هغه شئی څخه یوموټ هم حرام ده فرق هغه پیمانی ته وائی چه په هغه کښی شپاړس رطل ځائیږی شپارس رطل اوه کلو یو څه بالا کیږی حاصل ئی دادی هر هغه شی چه ډیرئی مسکر وی دهغه لږهم حرام ده یعنی ولوکه ئی دغه لږمسکر نهٔ وی هم دغه لږ حرام ده **وروی اهل السنن عن**

(c) ketabton.com: The Digital Library

النبی ﷺ من وجوه أنه قال (ما أسكر كثيره فقليله حرام)

صححه الحفاظ اهل السنن له رسول الله ﷺ دغه حديث شريف په نورو وجهو هم روايت کړی ده دی وائی چه رسول الله ﷺ وويل دهر هغه شئی چه ډيرئی مسکر وی دهغه شئی لږهم حرام ده حافظانو مبارکانو ودغه حديث شريف ته صحيح ويلی ده **وعن جابر رضی الله عنه ان رجلاً سأل النبی ﷺ عن شراب يشربونه بأرضهم من الذرة يقال له المذر قال أسكر هو قال نعم فقال كل مسكر حرام** حضرت جابر رضی الله عنه وای چه يوسړی له رسول الله ﷺ څخه ديو قسم شرابو پوښته وکړه چه هغه دوی په خپل وطن کښی څيښل او هغه ئی له جوارو څخه جوړ ول دهغو نوم مزرؤ رسول الله په جواب کښی ورته وويل دغه شراب مسکر دی؟ دا سړی ورته وويل هو مسکردی رسول الله ﷺ ورته وويل هر مسکر حرام ده او دا رسول الله ﷺ پسئی وويل **ان على الله عهد المن يشرب المسكر ان يسقيه من طينة الخبال قالوا يا رسول الله ماطينة الخبال قال عرق اهل النار او عصارة اهل النار** رواه مسلم او رسول الله ﷺ وويل کم څوک چه مسکراة څيښی اَللّٰه (جلّ جلاله) دا عهد کړی ده چه وه هغه ته به له هغه فاسدی خټی او بيدل ورکوی صحابه کرامو وويل يا رسول اَللّٰه ﷺ هغه کمه خټه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ﷺ ورته وویل هغه د دوز خیانو وینی او یا خوله یعنی چه په دغو جوړه وی او یا څخخول ددوز خیانو یعنی ددوز خیانو وینی اوخوناب چه په کوم ځائی کښی جمع کیږی اَللّٰه (جلّ جلاله) له هغو او بیدل ورکوی اَللّٰه (جلّ جلاله) دی ټول مسلمانان ځینی وسّاتی وعن ابن عباسرضی الله عنه عن النبی ﷺ کل مخمر وکل مسکر حرام رواه ابو داؤد (والمخمر) ما یغطی العقل ابن عباس رضی الله عنه له نبی ﷺ څخه روایت کوی چه هر مخمر او مسکر حرام ده مخمر هغه شی ته وائی چه عقل مغلوبه کوی والاحادیث فی هذالباب کثیرة جمع رسول الله ﷺ بما اوتیته من جوامع الکلم کل ماغطی العقل وأسکرولم یفرق بین نوع ونوع ولا عبرة لکو نه مأکولاً او مشروباً وکل ذلك حرام وحدوثها بعد عصر النبی ﷺ والائمة لم یمنع من دخولها فی عموم کلام رسول الله عن المسکر فقد حدثت أشربة مسکرة بعد النبی ﷺ وکلها داخلة فی الکلم الجوامع من الکتاب والسنة پدی باب أحادیث ډیر دی خو رسول الله ﷺ هر هغه شئی چه عقل پوټه وی او نشه راولی جمع کړی دی په خپل کلام کښی پدی سبب چه رسول الله ﷺ جوامع الکلم ؤ یعنی هر کلمه ئی جامع وه لکه (کل مسکر حرام مثلاً) اود مسکراتو دانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعـو میانځ کښی فرق نده کړی چـه فـلانـی قسم حرام او فلانی قسم حـلال أو مأکول او مشروب لره هم اعتبار نسته نودغه مسکرات ټول حـرام دی دمـحمد مصطفیٰ ﷺ تر زمـانـه ورسته پیدا سویدی او ائمة کرام رضوان الله عنهم اجمعین هم دامنع نده کړی چه دغه مسکرات درسول الله ﷺ پدغه عام قول کښی ندی داخل چه کل مسکر حرام نـودغه منشیات چه درسول الله ﷺ ترزمانه ورسته پیدا سویدی داټول دقـرآن و حدیث پدغه جامع کلماتو کښی داخل دی چه انما الخمر او مسکردی بیان ئی مخته په کرا توتیر سویده وقد تکلم ابن تیمیّه رحـمـه الـلـه عـلیـه عـن الـحشیثة غیـر مرة فی فتا واه فقال مـاخـلاصة هـذا الـحشیثة الـمـلـعونة هی وآکلو ها ومستحلها الـمـوجبة لسـخـط الـلـه تـعالیٰ وسخط رسوله وسخط عبادة الـمـؤمنین المعرضة صاجها لعقوبة الله تشتمل علی ضرر فی دیـن الـمرء وعقله وخلقه وطبعه وتفسد الامزجة حتی جعلت خـلـقـا کثیـراً مـجانین وتورث من مهانة آکلها ود ناوة نفسه وغیـر ذلك مـالا تـورث الـخـمـر ففیها من المفاسد مالیس فی الـخمر فهی بالتحریم اولی وقداجمع المسلمون علی ان السکر مـنهـا حـرام ومن الستحل ذلك وزعم آنه حلال فانه یستتاب فـان تـاب والا قتـل مـرتدا لایصلی علیه ولا یدفن فی مقابر

(c) ketabton.com: The Digital Library

المسلمين وان القليل منها حرام ايضاً بالنصوص الدالة على

تحريم الخمر (وتحريم كل مسكر) امام ابن تيميه ډير ځله په خپله فتاوی کښی دحشيشو بيان کړی ده ذهغه خلاصه داده چه دغه حشيش او ددوی خوړونکی او مستحل ټول ملعون دی او دغه حشيش موجب دخدای (جلّ جلاله) دغضب او د رسول الله ﷺ دغضب او دمؤ منانو دغضب دی اودغه حشيش د سړی دين ته ضرر رسوی اوعقل ته ئی ضرر رسوی او طبعيت ته ئی ضرر رسوې او دانسان صحت فاسده وی حتی ډير خلق ئی ليونيان کړې او دغه منشيات داسی شئی په ميراث ورکوی چه هغه شئی شراب ئی هم نه ورکوې مثلا خوراك خوار اوحقير او خوړونکی خسيس او ذليل وې او په دغه منشياتو کښی چه کوم مفاسد دی هغه په شرابو کښی هم نسته نولدې وجه دامنشيات په تحريم سره اولی اولائق دی او مسلمانانو اجماع کړی ده پردی باندی چه ددغو حشيشو ټشه حرام ده او که چاء حلال وبلل چه دغه حلال دی هغه دی تو به وکاږی پر دغه خپل گمان که ئی تو به وکښنه خو فبيها والنعمة اوکه ئی نه وکښنه هغه مرتدده قتل دی سی دجنازی لمونځ دی نه ورکوی او مسلمانانو په مقبره کښی دی نۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفن کوی اولدغه نشی ځخه لږهم دغسی حرام ده لکه ډیر په واسطه دهغو نصوصُ چه هغه دلالت پر تحریم دخمر کوی او پر تحریم دهر مسکر۔

﴿وقد تبعه تلميذه الامام المحقق ابن القيم رحمه الله عليه﴾

فقال فی کتابه (زادالمعاد) ماخلاصته ان الخمر یدخل فیها کل مسکر مائعاً کان او جامدا عصیراً او مطبوخاً فیدخل فیها لقمة الفسق والفجور ویعنی بها الحشیشة لان هذا کله خمر بنص رسول الله ﷺ الصریح الذی لامطعن فی سنده ولا اجمال فی متنه اذ صح عنه قوله کل مسکر خمرو صح عن اصحابه رضی الله عنهم الذین هم اعلم الائمة بخطابه ومراده بأن الخمر ماخمر العقل علی آ نه لولم یتناول لفظه صلی الله علیه وسلم کل مسکر لکان القیاس الصحیح الصریح الذی استوی فیه الاصل والفرع من کل وجه حاکما بالتسویة۔ بین انواع المسکر فالتفرقه بین نوع ونوع تفریق بین متماثلین۔ من جمیع الوجوه او دامام ابن تیمیه شاگرد امام

(c) ketabton.com: The Digital Library

محقق ابن القیم رحمه الله علیه په خپل کتاب زادالمعاد کښی ویلی دی خلاصه ئی داده چه په خمر کښی هر مسکر داخل ده نرم وی او که وچ وی عصیر وی او که پوخ کړی سوی وی نوهغه دفسق او دفجور گوله هم پکښی داخله ده پدی سره زمونږ چرس مراد دی ځکه داټول شراب دی په حدیث درسول الله ﷺ سره هغه داسی صریح حدیث ده چه نه ئی په سند کښی ترطعن او تهمت لاندی کس سته او نه ئی په متن کښی اجمال سته ځکه صحیح داقول له رسول الله ﷺ ځخه نقل سویده **(کل مسکرخمر)** اوصحیح داقول له صحابه کرام رضی الله عنهم ځخه نقل سویده **(الخمر ماخمر العقل)** اوصحابه کرام رضی الله عنهم هغه کسان دی چه تر ټول امت په خطاب او مراد درسول الله ﷺ شه پوهیدل او که بالفرض والتقدیر درسول الله ﷺ دغه **کل مسکر** شامل نسی دغه حثیشو وغیره لره نوبیابه هغه قیاس صحیح وصریح چه په هغه کښی اصل و فرع من کل وجه برابروی هغه به حاکم سی پر تسویه او برابر تیا داقسامو دمسکر نو په میانځ داقسامو دمسکر کښی تفرقه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

داتفرقه ده په میانځ دمتماثلین کښی من کل وجوه اوداباطیله ده ځکه قیاس وائی ودیته۔ چه په اصل کښی یو حکم وسی دیو علت په وجه نوبیا چه هغه علت په فرع کښی موجود سی هغه داصل حکم وربانذی کیږی حاصل ئی داده چه که چیری ددغو منشیاتو حرمت چه په حدیث شریف سره نسی ثابت په قیاس سره له شك خلاص ثابت ده **وقال صاحب (سبل السلام شرح بلوغ المرام) أنه يحرم ماأسكر من اى شئى وان لم يكن مشروباً كا الحشيشة** دسبل السلام شرح بلوغ المرام صاحب ویلی دی هغه شئی چه مسکروی هغه که له هر شئی ځخه وی حرام ده کځه هم مشروب نه وي لکه حثیش **ونقل عن الحافظ ابن حجر ان من قال ان الحشيشة لاتسكروانماهى مخدر مكابر فانها تحدث ماتحد ثه الخمر من الطرب والنشوة** له حافظ ابن حجر ځخه نقل سویده هغه څوك چه وای حثیش مسکرندي یعنی نشه او مستی نه لری بلکه مخدر دی یعنی سستی او کهالی صرف لری دغه دعوه بلا دلیله ده ځکه لدغو چرسو هغه څه پشی بری کم څه چه له شرابو پیشی بری

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه هغه عبارة له خونداوله خوشحالی ځخه ده۔

﴿ و نقل عن ابن بيطار من الاطباء ﴾

ان الحشيشة التی توجد فی مصر مسكرة جداً اذا تناول الانسان منها قدر درهم او درهمين وقبائح خصالها موجودة فی الافيون وفيه زيادة مضار له ابن بيطار طبيب ځخه نقل راغلی ده وائی هغه حشيش چه په مصر کښی پيدا کيږی هغه ډير مسکردی هغه وخت چه انسان يودرهم يادوه درهم ځينی وخوری اوقبيح بدخصلتو نه ئی ډيردی بعض علماؤ يوسل شل ۱۲۰ ـ دينی او دونيا وی ضررونه شميرلی دی او هغه بدخصلتو نه ئی په افيونو کښی موجود دی او افيون تر دوی زيات ضرر منددی وما قاله الشيخ الاسلام ابن تيمية وتلميذه ابن القيم رحمه الله عليه وغير هما من العلماء هوالحق الذی يسوق اليه الدليل وتطمئن به النفئس وأذقد تبين أن النصوص من الكتاب و السنة تناول الحشيش فهی تناول الافيون ايضاً الذی بين العلماء انه اكثر ضرراً ويترتب عليه من المفاسد مايزيد على مفاسد

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحشيش وتناول ايضاً سائر المخدرات التى حدثت ولم تكن
معروفة من قبل اذهى كا الخمر من العنب مثلاً فى انها تخامر
العقل وتغطيه وفيها ما فى هذه الخمر من مفاسد و مضار
وتزيد عليها بمفاسد أخرى كما فى الحشيش بل افظع
واعظم كما هو مشاهد ومعلوم ضرره ولا يمكن ان تبيح
الشريعة الاسلامية شيئاً من المخدرات ومن قال بحل شئى
منها فهو من الذين يفترون على الله الكذب او يقولون على
الله مالا يعلمون هغه چه شيخ الاسلام ابن تيميه او دهغه شاگرد ابن
القيم او نورو علماء له دوى ماسوى چه كم څه ويلى دى هغه حق ده
داسى حق چه ددليل مطابق ده او دنفس اطمينان وربانده كيرى او
پدى وخت كښى په تحقيق سره داشكاره سوه چه هغه نصوص له
قرآن او حديث څخه چه حشيشو ته ورشا ميلرى هغه نصوص دغه
رنگه افيونو ته هم ورشا ميلرى هغه افيون چه علما ئوئى بيان كړى ده
چه تر حشيشو ډير ضرر مندده او كم مفاسد چه په افيونو مرتب دى
هغه ترمفاسدو دحشيشوزيات دى اودغه رنگه دغه نصوص ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخدراتو ته ورشا میلږی هغه مخدرات چه ؤس پیدا سویدی او مخته چاء نۀ پیزندل ځکه دغه مخدرات لکه د انګورو شراب داسی دی په خمیره توب او پوټیدل دعقل کښنی او هغه مفاسد او مضار چه په شرابو کښنی دی هغه مفاسد پدغه مخدراتو کښنی موجود دی او پدی مخدراتو کښنی داسی مفاسد دی چه هغه دحثیشو تر مفاسدوهم زیات دی بلکه پدی مخدراتو کښنی ډیر بد اوډیر غټ مفاسد دی لکه څنګه چه هغه بالمشاهده دی او دهغو ضرر معلوم ده او دا امکان نۀ لری چه شریعة اسلامیه دی یوشئی له مخدراتو مباح کړی اوهغه څوك چه یوشئی له دغو مخدراتو حلال بولی هغه له هغو کسانو ده چه پر اَللّٰه (جلّ جلاله) باندې دروغ تړی او یا پر اَللّٰه (جلّ جلاله) باندی

قول کوی په هغه شئی چه دوی علم نۀ په لری وقد سبق أن قلنا ان بعض علماء الحنفية قال ان من قال (بحل الحشيشة زنديق مبتدع) واذا كان من يقول بحل الحشيشة زنديقاً مبتدع فاالقائل بحل شئی من هذا المخدرات الحادثة التی هی اكثر ضرراً ولكبر فساداً زنديق مبتدع ايضاً بل اولی بأن يكون كذلك دامخته مونږ ذکر کړو چه بعض عالمانو داحنافو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلی دی هغه څوك چه دحثیشو په حلت باندی قول کوی هغه زندیق اوبدعت کونکی ده نو هغه څوك چه ددغو نویو مخدراتو په حلت باندی قول کوی چه دهغو ضرر تر حثیشو زیات ده اوفسادئی ترحثیشو غټ ده هغه هم زندیق مبتدع ده بلکه اولی وبهتره داده چه دغه کس دی زندیق مبتدع سی وکیف تبیح الشریعة الاسلامیه شیاءً من هذه المخدرات التی یلحق ضررها البلیغ بالأمه افراداً وجماعات مادیاً وصحیاً وأدبیاً حیث ان مبنی الشریعة الاسلامیة علی جلب المصالح الخاصة اوالراجحة وعلی رده المفاسد والمضار کذلك او څنګه به شریعت اسلامی یوشئی لدغو مخدراتو مباح کړی هغه مخدرات چه دهغه ضرر بلیغ دأمت په هر فرد او جماعت پوری پیوسته کیږی من حیث الماده او صحت و آداب ته نۀ ګوری چه دشریعت اسلامی بنیاد پر جلب دمصالحو خاصه ؤیارا حجه باندی ده او په رد دمفاسد واومضار باندی هم دغه رنګه ده یعنی په کم شئی کښی چه مصلحت خاصه او یارا جحه وی هغه ته شریعة اسلامی جواز ور کوی او په کم شئی کښی چه فساد او ضرروی هغه منع کوی وکیف یحرم الله سبحانه تعالیٰ العلیم الحکیم الخمر من العنب مثلاً کثیرها وقلیلها لمافیها من المفسدة ولان قلیلها داعٍ الی کثیرها

(c) ketabton.com: The Digital Library

وذريعة اليه ويبيح من المخدرات مافيه هذه المفسدة ويزيد عليها بما هوا عظم منها واكثر ضرراً للبدن والعقل والدين والخلق والمزاج هذالحكم لايقوله الارجل جاهل بالدين اسلامي اوزنديق مبتدع كما سبق القول به فتعاطى هذه المخدراة على اى وجه من وجوه التعاطى من أكل اوشرب اوشم اواحتقان حرام باجماع الأمة اوځنګه الله (جلّ جلاله) سبحانه دانګورو شراب مثلاً حرام کړی دی لږ اوډير ځکه په دوی کښی فساد ده او لږئی داعی دډيروده او ذريعه وسبب د ډيرودی او مخدرات دی مباح کړی هغه مخدرات چه په هغو کښی دغه فساد وی او ضرر دی وبدن وعقل ودين وطبعيت ته تر شرابوهم زيات وی دغه حکم يعنی چه شراب دی حرام وی او مخدرات دحلال وی نۀ کوی مګر هغه څوك ئی کوی چه په دين اسلامی ناخبره وی اويازنديق مبتدع وی لکه څنګه سی داخبره مخته تيره سوه نوشمول ددغو مخدراتو په هره وجه دوجهو دشمول يعنی خوراك اوڅښاك بوئی دل اوڅخه ول حرام ده په اجماع دامة باندې۔

﴿ ان اعداء الاسلام يروجون الحشيش ﴾

وغيره من المخدرات بقصد اضعاف شباب الأمة الاسلاميه وضياع مالها ورجولتها وفتل شهامتها وافساد عقول رجالها

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتى تستمر فى التأخر عن مصاف الامم المتقدمه ويتغلب عليها الاجانب ويقهر الاعداء ويستعمرون بلادهم كما تفعل اسرائيل من ترويج الحشيش والافيون بين بلاد العربية بقصد هلاكها ولو ان الناسُ فهموا هذالحكم الشرعى ووعوه وعملوابه واعرضوا عن تعاطى هذه المخدرات وتلك المسكراة لحفظنا على الأمة شبابها وقوتها وعزها وكرامتها وحريتها واستقلالها الفقه على المذاهب الاربعه نمبر ٣٩، ج-٥ داسلام

دشمنان حشيش او نور مخدراة پدى قصد رواجوى چه دأمت ځوانان ضعيف کړى او مال ئى ورضائع کړى اومر دانيت ئى ورختم کړى او هيبت وقوة ئى ورمات کړى او عقلو نه ئى ورفاسد کړى حتى په آخير کښى دامت متقدمه له نقش او قدم ځخه ئى خطا کړى او بيگانه وربانډى غالبه کړى او دشمن وربانډى قوى کړى اوښارونه ځينى قبضه کړى لکه څنګه چه اسرائيليا نو حشيش او افيون په عربو ممالکو کښى روا جول په قصد دهلاکت دعربو نوکه چيرى خلګ پدى شرعى حکم باندى پوهه سى او ويساتى او عمل وربانډى و کړى اولدغو مخدراتو او مسکراتو ځخه اعراض و کړى نودأمت ځوانان أوقوة وعزت وکرامت وحريت واستقلال به وساتى **أكل الافيون وجلد الخشخاش حرام لانه يفسد العقل والمزاج وينشئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

الغفلة فتاوی شامي نورالهدی ٤١٦ دافیونو او دخشخاش د پټو کی خوراك حرام ده ځکه عقل او طبعیت فاسده وی او غفلت پیدا کوی۔

﴿ والخلاصته ان جمیع المخدراة الحادثة ﴾

من قرون بعد القرون الستة الأولی حرام کالخمر لمخامر تها العقل وتغطیتها ایاه وفیها مفاسد الخمر ومضاره وتزید علیها فهی اکثر ضرراً واکبر فساداً من الخمر لانها تضر الأمة ضررا بلیغاً وافراداً وجماعات مادیاً وصحیاً وأدبیاً ولا شك بأن الشریعة الاسلامیة تحرم المفاسد والمضار وتجیز مافیه مصالح حقیقة خالصة أوراجحةً واما مایز عمونه من مصالح ومنافع فهی وهمیة خادعة حاصل ئی داده چه ټول هغه مخدرات چه له شپاږ پیړیو ورسته پیداسویدی حرام دی لکه شراب ځکه دغه مخدرات هم عقل خمیره کوی اوپوټه وی او پدغه مخدراتو کښی هغه مفاسداومضار دی کم چه په شرابو کښی دی بلکه ضرر یه ترشرابو ډیرده او فسادیه دترشرابو غټ ده ځکه دغه مخدرات وأمة مسلمة ته ضرر بلیغ رسوی وهر فرداوجماعت ده من حیث الماده وصحت وأدب اوپدی کښی هیڅ شك نسته چه شریعة اسلامیه مفاسد او مضار حرامه وی او اجازه ورکوی وهغه شئی ته چه په هغه کښی حقیقةً مصلحت وی خالصاً اویاراجحاً او هغه څوك چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داګمان کوی چه پدغه مخدرات کښی مصلحت او نفع ده هغه محض وهم او دوکه ده الفقه الاسلامی ۵۵۱۶، ج-۷ مخته په کراتو اومراتو باندی داخبر ذکر سوه چه هر نشه دار شئی حرام ده اوخوراك یه هم حرام ده داقول دامام محمد رحمه الله علیه تعالیٰ ده اوداقول ټولو فقهاأ رحمه الله علیه مفتی به گرزولی ده۔

﴿ وحرمها محمد مطلقاً وبه یفتی ﴾

شامی ۲۹۲، ج-۵ ، والکل حرام عند محمد وبه یفتی ردالمحتاد ۴۵۶، ج-۶، اوداخبره هم مخته ذکر سوه چه حرمت داشیأ موقوف پر سیلان باندی نده لکه څنګه چه علامه حصکفی رحمه الله علیه لیکلی

دی شامی ۴۵۷، ج-۶، کتاب الاشربة ویحرم أکل البنج والحشیشة والأفیون لانه مفسد للعقل ویسد عن ذکر الله وعن الصلوة

درالمختار علی هامش ردالمحتار ۳۹۴، ج-۵، دبنګو او دچرسواودأ فیونو خوراك حرام ده ځکه دغه شیان مفسد عقل لره دی اوانسان

دخدای (جلّ جلاله) له یاده اوله لمانځه ځخه بنده وی قال العلامة الحرار الیمنی رحمه الله علیه ولایجوز أکل البنج ولحشیش والافیون وذلك کله حرام الجوهرة النیرة ۲۷۰، ج-۴، ومثله فی

خلاصة الفتاوی ۲۰۵، ج-۴، کتاب الاشربة قال العلامة شمس الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد بن عبدالله التمر تاشی رحمه الله علیه ویحرم أكل

البنج والحشيشة والافيون لكن دون الحرمة الخمر تنوير الابصار

علی صدر ردالمحتار ٤٥٧، ج-٦، کتاب الاشربة ومثله فی فتاوی قاضیخان علی حامش الهندیه ٢٣١، ج-٣، ومثله فی الفناوی الکاملیة ٢٧٠ کتاب الاشربة فتاوی حقانیه ٤٣٥، ج-٦، بعض اهل علم لیکلی دی که چاء دبهنگو اوحثیثو وغیره پر حلت باندی فتوی وکړه علامة ابن تیمیة هغه دحلال ویلو والاته کافر ویلی ده ترداسی حده چه نجم الدین زاهدی داسی سړی مباح القتل ښودلی ده درمختار علی هامش ردالمحتار ٢٩٥، ج-٥، الحلال والحرام ومثله فی الفتاوی محمودیه للمفتی محمود الحسن رحمه الله علیه واما الاشربة المتخذة

من الشعر أو الذرة او التفاح اوالعسل اذا اشتد وهو مطبوخ

او غير مطبوخ فانه يجوز شربه مادون السكر عندابی

حنفية وابی يوسف رحمه الله عليه وعند محمد حرام شربه

قال الفقيه وبه نأخذ كذا فی الخلاصة علمگری ٤١٤، ج-٥، هغه اشربة چه له اوربشو یا له جوارو یاله عسلو اویاله سیبانو جوړ سوی وی هغه وخت چه سخت سی پخ کړ سوی او که نوی پخ کړی سوی دهغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څیښناك جائز ده ترهغه وخته چه حد دسکر ته نۀ وی رسیدلی په نزد دامام ابو حنفیة رحمه الله علیه او امام ابی یوسئف رحمه الله علیه او په نزد دامام محمد رحمه الله علیه باندی حرام ده فقیه رحمه الله علیه وائی چه دغه اخیری قول مفتی به **ده السکر من البنج ولبن الرمکة حرام بالا جماع کذافی** جواهر الاخلاطی علمگری ٤١٥ء، ج-٥، دبنگواود مادیانی دشیدو نشه کول په اجماع سره حرام ده **ومع نهی ولی الامر عنه حرم قطعاً** درمختار ٤٦٠، ج-٦، او له کوم شئی څخه چه اولو الامر منع وکړی هغه قطعی حرام ده څکه خو اتباع یه لازم ده وعن ابی امامة رضی الله عنه

﴿ قال قال رسول الله ﷺ ﴾

لاتذهب اللیالی والایام حتی تشرب طائفة من امتی الخمر ویسمونها بغیر اسمها رواه ابن ماجه له ابی امامة رضی الله عنه څخه روایت ده دی وائی چه رسول الله ﷺ وویل شبی او ورځی به نسئی تیری تر هغه وخته پوری چه زماله امته به یوه پارتی شراب څیښنی اونامداره کړی بی وی په بل نامه سره یعنی ترقیامت مخته به

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما بعض امتیان داسی نشی کوی چه هغه به عین شراب وی خولکن صرف نوم بی وربدل کړی وي **يشرب الناس من أمتي الخمرويسمونها بغير اسمها** رواه انسائی رحمه الله علیه هغه نوی نومان چه په وس وخت کښی پر ایښی دی هغه لکه **افيون البيرة البوظة القات التنكة العرقی وغيره** له مسکرا توځخه ځکه داثابته سوه چه هر مسکر ته خمر ویل کیږی یعنی که عین خمر نسئی په معنی دخمر کښی خو بالاتفاق دی والله اعلم بالصواب

﴿ المقصد الثالث فی اتجار المخدراة والمسكراة ﴾

دریم مقصد په تجارة دمخدراتو اومسکراتو کښی ده

دا مقصد مختلف فیه ده په مابین دعلماء رحمه الله علیه کښی امام ابو حنفية رحمه الله علیه تعالیٰ علیه وائی (خمر) عبارة ده له **عصير العنب الذی قذف بالزبد** ځخه لکه څنګه چه مخته ذکر سو ونورو مسکراتو ته (خمر) حقیقة نۀ ویل کیږی نود نورو مسکراتو حرمت د(خمر) تر حرمت کم ده حاصل ئی داده چه دنورو مسکراتو په قلیل خوراك باندی حد نۀ جاری کیږی تر څو چه سکر ته نوی رسیدلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شرابو کښې په قلیل او کثیر باندې حد جاری کیږی ځکه په شرابو کی علت دحرمت خمریت ده او په نورو مسکراتو کی علت دحرمت مسکریت ده چه سکرته نۀ وی رسیدلی حد نۀ پر جاری کیږی یعنی حرمت دخمر قطعی ده او مستحیل یه کافرده او بیع یه ناجائزه ده او دنورو مسکراتو حرمت ظنی ده۔

او مستحیل یه کافرنده او بیع یه جائزه ده دلیل پدی قول درسول الله ﷺ وائی (أدرؤو الحدود بالشبهات) حدود په شبهات سره ونړه وی یعنی په کم شئی کښې چه شبهه وی قطع او یقین په کښې نوی په هغه حد نسی جاری کیدای نو ددغو مسکراتو خرمت ظنی ده قطع او یقنن نسته پکښې نوبیع یه داسی جائز ده لکه دسرقین سرقین کځه هم نجس دی خوبیع یه جائز ده ځکه سرقین مال متقوم اومنتفع بها شرعاً دی او امام شافعی رحمه الله علیه وای چه خمر تخصیص تریو خاص مسکره پوری نۀ لری بلکه هر مسکر ته خمر ویل کیږی لکه څنګه چه زمونږ په اول اودویم مقصد کی پردی بحث وکونو چه خمر ورته وویل سؤو دخمر مستحیل خوکافر ده او حدیه پر قلیل خوراك او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کثیر باندی جاری کیږی او نفع ورباندی حرام ده او بیع یه ناجائزه ده دنورو مسکراتو هم دغه حکم ده ځکه هغه هم عین خمر دی اوداهل دمدنی منوری او داکثر ججازئین او محد ثینوهم داغسی رایه ده او دغه رنگه امام مالك رحمه الله علیه او امام احمد بن حنبل رحمه الله علیه هم داغسی وای او له احنافو رحمه الله علیه ځخه

﴿ امام ابو یوسئف او امام محمد رحمه الله علیه ﴾

یه هم دوا ړه بیع ددا سی مسکراتو ناجائزه بولی امام ابو حنیفة دبیع دجواز دا دلیل وائی۔

﴿ انه یقول هذا شراب مختلف فی اباحة شربه ﴾

بین العلماء رحمهم الله فیجوز بیعه کا المثلث وهذا لأنه لیس من ضرورة حرمة تناول حرمة البیع فان الدهن النجس لایحل تناوله ویجوزبیعه وکذلك بیع السرقین جائز وان کان تناوله حراماً والسرقین محرم العین ومع ذلك کان بیعه جائزاً فکذلك المنصف وما اشبه وبطلان بیع الخمر عرفناه بالنص الوارد فیه وما عرف بالنص لایلحق به

(c) ketabton.com: The Digital Library

الامایکون فی معناه من کل وجه وهذه الاشربة لست فی معنی الخمر من کل وجه بدلیل حکم الحد وحکم النجاسة فجاز بیعها باعتبار الاصل مبسوط ۱۹، ج-۱۲ ، امام ابو حنیفة رحمه الله علیه وائی چه له عصیر العنب ماسوی په داغه نورو اشربهٔ ؤ کښی دعلماء اختلاف ده په څیښلو کښی ددوی بعض وای چه څیښل ئی جائز دی ترهغه وخته چه سکر ته نوی رسیدلی او بعض وائی چه دقلیل او کثیر څیښل حرام دی لکه دعصیر العنب نولدی وجه ئی بیع جائز ده لکه دمثلث چه بیع یه جائز ده مثلث هغه شرابوته وای چه دانګورو له او بوئی جوړ کړی اوبیا یه په اور باندی جوش کړی دوی حصی په اور باندی په جوش سره ختم کړی او یوه حصه پاته سی هغه پاته حصی ته مثلث وای او دا خبره ثابته ده ځکه دا لازمه نده چه تناول او شمول وشئی ته که حرام ؤنوبیع یه بی هم حرام وی لکه مردار غوړی چه تناول ورته حرام ده مګر بیع یه جائزه ده اودغه رنګه خوشای بیع یه جائزه ده او تناول ورته حرام ده او خوشای محرم العین دی او سره لدی بیع یه جائزه ده او دغه رنګه منصف منصف

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه شرابو ته وائی چه دانگورو له ابو جوړ سوی وی بیا یه په اورسره جوش کړی ترثلثین کم ختم سی نصف ته ورسیږی او که نوی رسیدلی او هغه چه مشابه وی لده سره لکه جمهوری ونقیع الزبیب والفضیح والسکر او دخمر دبیع بطلان خو مونږ پیز ندلی ده په نص سره هغه نص چه په خمر کښی نازل سویده او هغه شئی چه په نص سره وپیزندل سی په هغه پوری بل شی نه پیوسته کیږی مگر هغه شئی پوری پیوسته کیږی چه هغه من کل وجوه دده په معنا سره وی اودغه اشربه په معنی دخمر من کل وجه ندی په دلیل دحکم دحد او حکم دنجاست یعنی پر دغو اشربه ؤحدنهٔ جاری کیږی او پر خمر حد جاری کیږی او دغه اشربه نجس ندی او خمر نجئس دی نولدی وجه ددغو اشربه ؤبیع جائز ده امام شافعی رحمه الله علیه او ملگری دبیع

دعدم جواز دا دلیل وای **عن انس رضی الله عنه قال لعن**

رسول الله ﷺ فی الخمر عشرة عاصرها ومعتصرها

وشاربها وحاملها ومحمولة الیه وساقیها وبائعها وأکل ثمنها

والمشتری لها والمشتری له رواه الترمذی وابن ماجه ومشکوة شریف ۲۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه انـس رضـی تـعـالیٰ عنه ځخه روایت ده دی وائی رسول الله ﷺ په شرابو کښی پـر لسو شیانو لعنت ویلی ده پرجو ړه ونکی باندی دځان لپـاره وی او کـه دبل لپاره او پر هغه چا چه دجو ړه ولـو طلب یه کوی دځان لپاره یاد بل لپاره او پر ځینښونـکی باندی اوپر باره ونکی باندی اوپـر هـغـه چـا چـه ودتـه وربـاری ږی اوپـر او بیـدونـکـی بـاندی اوپر خـر ځیدونـکـی بـانـدی کځه هــم وکیـل یـادلال وی اوپـر هـغـه پیسوخو ړونـکـی بـانـدی هـغـه پیسی چه پدغه بیع سره موجودی سی ځخه هم داخو ړنـکی بائع نوی او پر اخیستونکی باندی د ځینښلو لپاره وی کـه دی تـجارة لپاره وی اوپر هغه چاچه دده لپاره اخیسنتل کیږی

ولا یـحـل لـلـمسـلـم بیـع الـخمر ولا اکل ثمنها لان الله تعالیٰ

سـمـاهـا رجسـاً فیـقـضی ذلك نجـاسة العین وفسـادالمـالیة

والتـقـوم کـمـا فـی المیتة والـدم ولـحـم الخنـزیـر وقد آمـر

بـالاجتـنـاب عـنهـا فاقتضی ذلك ان لایجوز للمسلم الاقتراب

منها علی جهة التمول بحال وفی الحدیث اووائی چه مسلمان ته نـهٔ دخـمر بیع حلاله ده او نهٔ ئی دپیسو خوراك ځکه اَللّٰه (جلّ جلاله)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مردار ورته ویلی ده نودا تقاضی دنجس العین کوی او دفسادالمالیة والتقوم یعنی نۀ مال ده او نۀ متقوم ده لکه مرداره او مسفوحه وینه او خنزیر چه نجس العین دی او فساد المالیة والتقوم دی اواَللّٰه (جلّ جلاله) آمرپه اجتناب کړی ده لدوی ځخه په **انما الخمر والمیسر** الایة کښی نودا تقاضی کوی چه و مسلمانان ته هر قسم نزدیکت په هر حال کښی پر جهة تمول اود میلان ناجائز او ناروا ده **وفی الحدیث ان ابا عامر کان یهدی لرسول الله** ﷺ **راویة من خمر کل عام فاهدی له فی العام التی حرمت فیه فقال علیه السلام ان اللّٰه قدحرم الخمر فلا حاجة لی فی خمرك قال خذها وبعها وانتفع بثمنها فی حاجتك فقال علیه الصلوة والسلام یا ابا عامر ان الذی حرم شربها حرم بیعها واکل ثمنها** ابا عامر به هر کال ورسول الله ﷺ ته یوه راویة شراب هبه کول۔

نو په هغه کال چه شراب حرام سوی وه هم ده ورسول الله ﷺ ته شراب هیبه کړو رسول الله ﷺ ورته وویل شراب حرام سویدی زه سټاوشرابو ته احتیاج نه لرم ابا عامررضی الله عنه ورته وویل در وائخله خرخی کړه په پیسو یه خپل حاجت پوره کړه رسول الله ﷺ ورته وویل ای ابا عامره رضی الله عنه دکوم شئی چه څیښناك حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

سی دهغه بیعه هم حرام ده او روپیه هم حرامی دی۔

وسئل ابن عمر رضی الله عنه عن بیع الخمر واکل ثمنها فقال قاتل الله الهیود حرمت علیهم الشحوم فجملوها وباعوها واکلو ثمنها وان الذی حرم الشرب حرم بیعها واکل ثمنها وممن لعنه رسول ﷺ فی الخمر بائعها ومشتریها

مبسوط ۲٤، ج-۲٤ له ابن عمررضی الله عنه الله عنه ځخه سوال وسئو له بیع دشرابو اوله خوراك دپیسو دشرابو ده رضی الله عنه ورته وویل اَللّٰه (جلّ جلاله) لعنت کړیده پر یهودُ باندی واز گی پردوی باندی حرامی کړی دوی به وِلّی کړی بیابی خرڅی کړی روپیئی بی وخوړی او دکم شئی چه څیښناك حرام وی دهغه بیع هم حرام ده او دپیسو خوراك ئی هم حرام ده او له هغه چاء چه رسول الله ﷺ لعنت پر ویلی ده په شرابو کښی خرڅیدونکی اواخیستونکی هم ده ان

الاتجار بالمخدرات بیعاً وشراً وتهریباً وتسویقاً امر حرام کخرمة تناول المخدرات لان الوسائل فی الشریعة تأخذ حکم المقاصد ویجب سدالذرائع الی المحرمات بمختلف الامکانات والطاقات لان التاجر یسهّل رواج المخدراة وتعاطیها فیکون الثمن حراماً والمال سحتاً والعمل ضلالاً والا تجاربها اعانةً علی المعصیت والبیع باطیل قال الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالیٰ وتعاونو علی البر والتقوی ولا تعاونو علی الاثم والعدوان المائده ٥-٢، الفقه الاسلامی ٥٥١٦ج-٧، داقول مطلق ده تعلق یه تریوه مذهبه پوری هم نده ورکړی حاصل ئی داده چه دمخدراتو تجارة یعنی خرڅول اخیستل په گوریزی باندی ورڅل اوبل پر وړلو باندی باعث کول داسی حرام کار ده لکه دمخدراتو خوړل و څیښل او څکه ول ځکه په شریعت محمدی ﷺ کښی اسبابو او وسائلو لره حکم دمقاصدُ وی او هغه شئی چه سبب او ذریعه وحراموته وی دهغه سبب بنده ول په مختلف طاقتو سره واجب ده ځکه تاجر رواج او شمول دمخدراتو اسانه کوی پر خلگو باندی نودغه پیسی حرامی دی او مال ئی حرام و مباح الاخذ ده او عمل ئی گمراهی ده او تجارة ئی اعانة علی المعصیت ده اوبیع ئی باطلَ ده اَللّٰه (جلّ جلاله) وائی پر نیکی اوپر تقوی باندی معاونت سره کوی پر گناه او پر دشمنی باندی معاونت مه سره کوی یعنی دغه تجارت خریداو فروخت معونت علی المعصیت ده اوسبب و ذریعه وخوراك وڅیښناك ته ده خوراك او څیښناك ئی حرام ده نودغه تجارة چه سبب دخوراك او څیښناك ده داهم حرام ده امام ابو یوسئف رحمه الله علیه و محمد رحمه الله علیه علیهما وائی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ ان عين المسكراة محرمة التناول فلايجوز بيعه ﴾

كا الخمر وهذا لان البيع باعتبار صفت المالية والتقوم باعتبار كو نه منتفعاً به شرعاً ولا منفعة فى هذا لمشروب سوى الشرب واذاكان محرم الشرب شرعاً كان فاسدا لماليته والتقوم شرعاً فلايجوز بيعه كالخمر ولان صاحب الشرع صلى الله عليه وسلم سوى فى الخمر بين البيع والشرب حين لعن بايعها ومشتريها كما لعن شاربها وهذا لان البيع يكون تسليطاً للمشترى على الشرب عادة فاذا كان الشرب حراماً حرم البيع ايضاً وهذالمعنى موجود فى هذه الاشربة مبسوط ١٨، ج-١٢، دوی دواړه وای چه عين دمسكراتو ته شمول حرام ده نو بيعه يه هم حرامه ده لكه دشرابو او داخبره ثابته ده ځكه بيع په اعتبار دصفت ماليت سره وی او تقوم ئی په اعتبار ددی سره وی چه منتفع به شرعاً وې اوپدغه مشروباتو كښی له څيښلو ما سوی بل منفعت نسته او څيښل ئی په شرع كښی حرام ده نو ماليت او تقوم ئی هم په شرع كښی فاسده نومالیت او تقوم چه په شرع كښی فاسد سو نوبيع يه هم ناجائزه ده لكه دشرابو ځكه خوبيع په اعتبار دماليت او انتفاع به شرعاً سره وی او صاحب الشرع صلى الله عليه وسلم په شرابو كښی تفرقه نده كړی په ميانځ دبيع او دځيښلو كښی په هغه وخت كښی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لعنت ئی پروایو پرخرخیدونکی اواخستونکی یه داسی لعنت ویلی ده لکه پر څیښونکی باندی او داخبره ثابته ده ځکه په بیع سره مشتری مسلط کیږی پر څیښلو باندی نو څیښل چه حرام وی بیعه بی هم حرام وی اودغه معنی پدغو اشربه وٴ کښی موجوده ده یعنی خوراك او څیښاك دټولو حرام ده نوبیع یه هم حرامه ده دایوه قاعده کلیه ده لپاره دفقهاء رحمه الله علیه چه دهرشی خوراك یا څیښاك حرام وی یا بل داسی دلهو او لعب شئی وی چه معصیت قائم پده پوری وی دهغه بیعه حرام ده لکه څنګه چه مونږ په پنځمه قاعده کښی ذکر کړو ځکه په دابیع سره مشتری مسلط کیږی پر خوراك او څیښاك دهغه شئی نوچه خوراك او څیښاك یه حرام وی بیع یه بی هم حرام وی لدی وجهه سی داعین معونت علی المعصیت ده **ویجوز بیع البربط والطبل والمزمار والدف والنرد وآشباه ذلك فی قول ابی حنفیة رحمه الله تعالیٰ علیه وعندهما لایجوز بیعها قبل الکسر الی قوله۔**

﴿ والفتوی علی قولهما ﴾

امام ابو حنیفة رحمه الله علیه وائی چه دبربط بیع جائز ده بربط داسی شی ده لکه دو تاره فرق ئی داده چه کاسه ئی تر دوتاری غټه ده او دسته ئی تر دو تاری کوچنئی ده اودغه رنګه دڈاله بیع جائز ده اودغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنگه دنل بیع جائز ده او د دریا بیع جائز ده او دکلب و کرم بوڈ بیع جائز ده اود اشباه ددوی بیع جائز ده او امام ابو یوسف رحمه الله علیه وامام محمد رحمه الله علیه وائی چه تر ماتیدو مخته ئی بیع نده جائز یعنی یوار دی مات کړی چه له آلیت دسرود ځخه ووزی بیادی خرڅ کړی ددی عبارة په اخیر کښی داقول ده چه فتوی پر قول دصاحبین

ده قال ابو حنیفة رحمه الله علیه یجوز بیع الاشربة المحرّمة کلها الا الخمر وعلی مستهلکها الضمان وقال ابو سف و محمد رحمهما الله لایجوز بیعها ولا یجب الضمان علی مستهلکها کذافی المحیط علمگری۱۱۶، ج-۳، امام ابو حنیفة رحمه الله علیه وای د ټولو حرامو اشربه بیع جائز ده ماسوی له شرابو او هغه څوك چه دغه اشربه په قصد هلاك کړی پر هغه ضمان یعنی تاوان سته او صاحبین وائی نهٔ ئی بیع جائز ده او نهٔ پر مستهلك باندی ضمان سته وجاز بیع عصیر العنب ممن یعلم آنه یتخذ خمراً لان المعصیت لاتقوم بعینه بل بعد تغیره وقیل یکره لاعانة علی المعصیت ونقل المصنف عن السراج والمشکلات ان قوله ممن ای من کافرٍ اما بیعه من المسلم فیکره ومثله فی الجوهرة والباقانی وغیرهما زاد القهستانی معزیا للخانیة آنه یکره بالاتفاق درمختار۳۹۱، ج-۶، دعصیر العنب بیع خرید

(c) ketabton.com: The Digital Library

فروخت پر هغه چاء باندی جائز ده چه هغه لدغه عصیر العنب ځخه شراب جوړه وی ځکه معصیت خوقائم په ذات دعصیر العنب پوری نده بلکه ورسته له تغیره پوری قائم ده او چاء ویلی دی چه دغه بیع مکروه ده ځکه دا اعانة علی المعصیت ده ولو که معصیت پوری قائم نهٔ وے او مصنف نقل له سراج والمشکلات ځخه کړی ده چه دغه ممن ځخه کافر مراد ده یعنی دغه عصیر العنب پر هغه کافر باندی خرڅول چه ته په خبرئی چه دغه کافر شراب ځینی جوړه وی جائز ده اوپر هغه مسلمان باندی خرڅول ناجائز ده چه ته په خبرئی چه شراب ځینی جوړه وی دغه رنگه نورو کتابو هم پدغه اخیری طرز لیکلی دی۔

﴿ اقول وهو خلاف اطلاق المتون ﴾

وتعلیل الشروح بمامروفیه انه لایظهر الاعلی قول من قال ان الکفار غیر مخاطبین بفروع الشریعة والاصح خطابهم وعلیه فیکون اعانة علی المعصیت فلا فرق بین المسلم والکافرفی بیع العصیر منهما فتدبر ردالمحتار ۳۹۱، ج۔۶، علامه ابن عابدین رحمه الله علیه وای چه دغه قول یعنی چه پر کافر باندی خرڅول جائز ده اوپر مسلمان باندی ناجائز ده داد متنو داطلاق مخالف ده ځکه متنونو مطلق ناجائز۔ بللی ده اودشروحود تعلیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاف ده چه اعانة علی المعصیت ده یعنی داقول هلته صحیح کیږی چه کفار مخاطب په فروعو دشریعت سره نسی اواصح داده چه کفار مخاطبین په فروعو دشریعت سره دی نود کافر او دمسلمان پدی بیع کښی هیڅ فرق نسته په دواړو کښی اعانة علی المعصیت ده یعنی لکه څنګه چه دعصیر العنب خرڅیدل پر مسلمان باندی منع دی په هغه مسلمان چه ته په خبرئی چه شراب ځینی جوړه وی دغه رنګه پر کافر باندی هم منع دی پر هغه کافر چه شراب ځینی جوړه وی

بخلاف بیع الامر دممن یلوط به وبیع سلاح من اهل الفتنة لان المعصیة تقوم بعینه حواله مذکوره ویکره تحریماً بیع السلاح من اهل الفتنة لانه اعانة علی المعصیت آه ردالمحتار ۲٦۸، ج-۳، لغړ زنی غلام پر هغه چاباندی خرڅول چه هغه لواطة ورسره کوی ناجائز ده ځکه معصیت قائم په ذات دده پوری ده اودغه رنګه سلاح پر اهل دفتنی خرڅول ناروا ده ځکه معصیت په ذات پوری قائم ده او په بل ځائی کښی وای چه سلاح خرڅول په اهل دفتنو باندی مکروه تحریمی ده ځکه دا اعانة علی المعصیت ده قال العلامة ابن نجیم رحمه الله علیه ان ماقامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریماً آه بحر الرائق ۱٤۳، ج-٥ ، علامة ابن نحیم رحمه الله علیه وای چه هر هغه شئی چه معصیت پوری قائم وی په ذات

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه شی پوری دهغه شئی بیع مکروه تحریمی ده وایضاً قال

االعلامة رحمه الله علیه نظیره بیع المزامیر یکره هنا ان

ماقامت المعصیت بعینه یکره بیعه والا فلا البحر الرائق بتغیریسر او

دغه رنگه علامة رحمه الله علیه وای چه مثال ئی نل و دول وغیره دی

یعنی بیع ددغوشیانو مکروه تحریمی ده یعنی که پر هر شئی پوری

معصیت قائم وه دهغه بیع ناجائز ده اوکه معصیت پوری نۀ وه قائم

دهغه بیع جائز ده ومثله فی تفقیح الحامدیه ۱۵۳، ج-۲، کتاب الاجاره فتاوی

حقانیه ۴۶، ج-۶، ان البیع الکرم ممن یتخذ الخمر من عینه جائز

لابأس به وکذ الارض ممن یغرس فیها کرما یتخذ من عینه

الخمر وهذا قول ابی حنیفة وهو القیاس وکره ذلك ابو

یوسف و محمد رحمهما الله استحساناً لان البیع العصیر

والعنب ممن یتخذ خمرا اعانة علی المعصیت وتمکین منها

وذلك حرام واذا امتنع البائع یتعذر علی المشتری اتخاذ

الخمر فکان فی البیع منه تهیج الفتنة وفی الامتناع تسئکینها

ومن اهراق خمرمسلم فلا ضمان علیه لان الخمر لیس بمال

متقوم فی حق المسلم واتلاف ما لیس بمال متقوم لایجب

الضمان کاتلاف المیتة وهذا لان الضمان انما یجب

جبرالمادخل علی المتلف علیه من نقصان المالیة مبسوط ۳۲،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج-۱۲، دانگورو تاکان پر هغه چا خر څول چه هغه شراب ځینی جوړه وی جائز ده پروانه لری اودغه رنگه زمکه پر هغه چاخرڅول چه هغه دانگورو تاکان پر ایږدی اوبیاله تاکانو شراب جوړه وی جائز ده داقول دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه ده اوقیاس هم داده او امام ابو یوسف رحمه الله علیه وامام محمد رحمه الله علیه ئی مکروه بولی استحساناً ځکه دانگورو او به یا انگور پر هغه چا خرڅول چه هغه شراب ځینی جوړه وی دا اعانة علی المعصیت ده او قدرة پر معصیت ده او داحرام ده ځکه خو اَللّٰه (جلّ جلاله) وای **ولا تعاونو علی الاثم والعدوان** چه خر څیدونکی دغه شیان نکړی پر خرڅ نو پر اخیستونکی باندی شراب جوړه ول سخت اوګران شو نود دغو شیانو په بیع کښی پرداسی سړی باندی فتنه انګیزی او پورته کیده دفتنی دی او په منع کښی ئی دفتنی ختمی ده دی او چاکه دمسلمان شراب توی کړل په هغه تاوان نسته ځکه شراب مال متقوم ندی په حق دمسلمان کښی کوم شئی چه مال متقوم نوی دهغه په تلفیدو سره تاوان هم نه لازمیږی لکه دمړزګی په تلفیدو کښی چه تاوان نسته ځکه دغه تاوان خو په عوض دهغه نقصان کښی لازمیږی کوم نقصان چه دمال ومالیته رسیدلی وی دمبسوط پر مذکور متن باندی یوځه بحث کول پکار دی ترهغه مخته به یواریوبل متن نقل کړوبیا بحث پروکړ وانشاء

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله۔

﴿ ان الارباح التى يستفيد منها التجار والمتعاملون فى المخدراة كلها سحت وحرام ﴾

لمايأتى ١ ۔ قوله تعالىٰ ولاتأكلوا اموالكم بينكم بالباطيل البقرة ١٨٨ وأكل المال بالباطيل يتناول جرائم السرقة والخيانة والظلم والغصب والقمار والعقود المحرمة من بيع وشراء ونحوهما من التجارات وكل الخدمات المبذولة فى سبيل ارتكاب المعاصى والمنكرات وكل ما حرمه الشرع وان رضى به المالك ٢ الحديث النبوى ﷺ وهو مارواه ابن أبى شيبة عن ابن عباس أن رسول الله ﷺ قال ان الله اذا حرم شيأ حرم ثمنه فكل ماحرم الله الانتفاع به حرم الانتفاع بعوضه أو ثمنه بدليل مارواه احمد ومسلم والنسائى عن ابن عباس والحميدى عن أبى هريرة فى بيع الخمر ان الذى حرم شربها حرم بيعها وروى مسلم وغيره عن ابى سعيد الخدرى ان النبى ﷺ قال ان الله حرم الخمر فمن ادركته هذه الآية اى اية (انما الخمروالميسر) المائده ٩٠ وعنده منها شئى فلايشرب ولايبيع قال فاستقبل الناس بما كان عندهم منها طرق المدينة فسفكوها وروى ابو داود عن ابى

(c) ketabton.com: The Digital Library

هريرة مرفوعاً ان الله حرم الخمر وثمنها وحرم الميتة وثمنها وحرم الخنزير وثمنه الفقه الاسلامی ۵۵۱۸، ج-۷، هغه ګټی ونفعی چه تجاران ومعامله ګرځه کوی په مخدراتو کښی ټولی حرامی دی یولدی وجه چه اَللّٰه (جلّ جلاله) وائی تاسو په خپل میانځ کښی مالونه په باطل اوناحقه سره مخوری دباطل مال خوراك غلا وخیانت وظلم وغصب وقمار او حرام عقدونه مثلاً خر څیدل او اخیستل او نور دغسی عقدونه لکه اخیستل او خر څیدل کوم چه په تجارتو کښی کیږی او ټول هغه خدمتونه چه دګناه او دمنکراتو په لار کښی کیږی او په هر هغه شئی کښی چه شریعت حرام کړی وی که ئی څه هم مالك په راضی وی دغو ټو لو ته ورشا ملیږی نوځکه ددغو مخدراتو ګټه او تجارت حرام ده اوبل لدی وجه چه دنبی علیه الصلوة والسلام حدیث مبارك ده هغه حدیث ابن ابی شیبة له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ځخه روایت کړی ده هغه وائی رسول اِلله ﷺ وویل چه اَللّٰه (جلّ جلاله) چه کم وخت یو شئی حرام کړی دهغه پیسی هم حرام وی یعنی په هر هغه شئی باندی چه اَللّٰه (جلّ جلاله) نفع اخستل حرام کړی دهغه شئی په عوض یا په پیسو باندی بیا نفع اخیستل هم حرام ده دمثال په تو ګه که یوسړی خر پریو ظالم او مردار خواره قصاب باندی خرڅ کړی او پدی هم خبروی چه دغه ئی دحلالیدو لپاره اخلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصاب هم ورته وای چه دحلالید و لپاره ئی اخلم نودغه قصاب که په عوض کښی هر شئی ور کړی پیسی وی او که بل شئی وی پر هغه باندی دخره مالك نفع نسئی اخیستی ځکه خوپرخره باندی دخوراك نفع اخستل اَللّٰه (جلّ جلاله) حرام کړی ده په دلیل دهغه حدیث مبارك چه احمد ومسلم والنسائی له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ځخه روایت کړی ده او حمیدی له ابی هریرة رضی الله عنه ځخه روایت کړی ده په بیع دشرابو کښی هغه شئی چه دهغه څیښل حرام سویده دهغه بیع هم حرام ده او مسلم وغیره له ابی سعید خدری رحمه الله علیه ځخه روایت کړی ده چه نبی علیه الصلوة والسلام وویل اَللّٰه (جلّ جلاله) شراب حرام کړی دی نو که چا ته دغه ایات ورسیدو

یعنی ایات **دانما الخمر والمیسر** اولده سره یوشی ؤله شرابو نوندی څیښی اوندی خرڅوی ابی سعید خدری رضی الله عنه وائی چه خلګو راتګ وکو په شرابو سره کوم چه لدوی سره وه پرلاړو دمدنی منوری اوټول ئی چپه کړو اوابو داود روایت کړیده له ابی هریرة رضی الله عنه ځخه هغه ورسول الله ﷺ ته رسولی ده وای اَللّٰه (جلّ جلاله) شراب حرام کړو او عوض دشرابوئی هم حرام کو او اَللّٰه (جلّ جلاله) مړزګه حرام کړی ده عوض دمړزګی ئی هم حرام کړی ده او اَللّٰه (جلّ جلاله) خنزیر حرام کړی ده او عوض دخنزیرئی هم حرام کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده نودغه ایات اواحادیث مبارکانو وټولو مسلمانانو ته داسبق ورکوی چه گټه او تجارة دټولو مخدراتو حرام اونارواده ولوکه نسواروی ځکه داټول یا مسکرات دی او یا مفترات دی دحرمت ذکر او اثبات ئی مخته ذکر سو۔

﴿ اعلم ان المکروه اذا اطلق فی کلامهم یرادبها التحریم ﴾

قال ابو یوسف قلت لابی حنیفة اذا قلت فی شئی أکرهه فمارأیك فیه قال التحریم ردالمحتار ۱۵۰، ج-۱ ، پوه سه ای مخاطبه پردی باندی مکروه چه مطلق ذکر سی په کلام دفقهاء کښی مراد ځینی تحریم ده امام ابو یوسف رحمه الله تعالیٰ علیه وای چه ما وامام ابو حنیفة رحمه الله علیه ته وویل۔ کوم وخت چه ته داو وائی په یو شئی کښی چه زه دغه مکروه بولم لدی ستاځه مرادوی امام ابو حنیفة رحمه الله تعالیٰ علیه را ته وویل چه زما تحریم ځینی مقصد وی حاصل ئی داسو چه امام ابو یوسف رحمه الله علیه او امام محمد رحمه الله علیه ددغو مذکوروشیانو بیع حرام بولی کوم چه په مبسوط کښی ذکر سو۔

﴿ واذا کان فی مسئلة قیاس واستحسان فاالعمل علی الاستحسان ﴾

الافی مسائل معدودة مشهورة وایضاً قال الرملی رحمه الله علیه لو کان احدهما استحسان والاخر قیاس الاصل تقدیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

الاستحسان الافيما استثنى كما قدمناه فيرجع اليه عندالتعارض ردالمحتار ٤٩، ج-١ ، كه په يو مسئله كښې قياس او استحسان دوا ړه ؤعمل په استحسان باندې كول كيږي ماسوى له هغويو څو معدودو مشهورو مسئلو ځخه اودغه رنگه امام رملى رحمه الله عليه ويلى دى واى كه چيرى يو استحسان ؤ اوبل قياس ؤ اصل تقديم داستحسان ده پر قياس باندې ماسوى له هغويو څو مسئلو ځخه لكه څنگه چه مونږ مخته ذكر كړو په وخت دتعارض دقياس او استحسان كښې وهغه ته رجوع كوى۔

﴿ وان خالف أبا حنيفة رحمه الله تعالىٰ عليه صاحباه فى ذلك ﴾

فان كان اختلافهم اختلاف عصر و زمان كا القضاء بظاهر العدالة يأخذ بقول صاحبيه لتغير أحوال الناس وفى المزارعة والمعاملة ونحوهما يختارقولهما لاجتماع المتأخرين على ذلك قاضيخان ٣، ج-١ كه امام ابو حنيفة رحمه الله تعالىٰ عليه په يو مسئلة مختلف فيها كښې له صاحبين سره مخالف ؤ نو دغه ددوى اختلاف كه اختلاف دعصرو زمان ؤ نو نيول په قول ده صاحبين باندې كيږي او په كښتو ومعاملو كښې ددوى قول مختاره ده ځكه پر دى اجماع دمتاخرينو راغلى ده حاصل ئى داسو چه دمبسوط په متن كښې امام ابو حنيفة رحمه الله عليه قياس كوى او صاحبين ئى

(c) ketabton.com: The Digital Library

استحسانا حرام بولی په وخت دتعارض دقیاس او استحسان کښی ترجیح استحسان ته ده پرقیاس باندی ماسوی له یوځو معدود ځایو اودغه رنگه په وخت داختلاف دامام ابو حنیفه رحمه الله علیه کښی له صاحبین سره په مزارعا تو ومعاملا تو کښی ترجیح وقول دصاحبین ته ده دغه رنگه په هررسمی مفتی کښی لیکلی دی چه فتوی پر قول دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه ده په عباداتو کښی مطلقا او پر قول دامام محمد رحمه الله علیه ده په بیوعو کښی او پر قول دامام ابو یوسف رحمه الله علیه ده په قضاء وشهاداتو کښی اوپر قول دامام زفر رحمه الله علیه په اولس مسائلو مشهور وکښی نود مخدراتو او مسکراتو بیع مکروه تحریمی ده ځکه صاحبین ئی مکروه تحریمی

بولی ویجوز بیعها ای المسکرات ویضمن متلفها عند ابی حنیفة رحمه الله علیه خلافاً لهما فیهما لانه مال متقوم وما شهدت دلالت قطعیة بسقوط تقومها بخلاف آه قال ابن همام تحت هذ القول (لانه مال متقوم وما شهدت آه) اقول فیه نظر اما اولاً فلانهم صرحوا بان معنی تقوم المال اباحة الانتفاع به شرعاً وسیجئ التصریح عن قریب بان هذه الاشربة ممالا ینتفع بها بوجهه من الوجوه فکیف یتصور التقوم فیها واماثانیاً فلان الدلالت القطعیة انما تعتبر فی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق وجوب الاعتقاد دون وجوب العمل ألاترى أن خبر الواحد من السنة يوجب العمل ولا يوجب علم اليقين بل يوجب غلبة الظن على المذهب الصحيح المختار عندالجمهور كما تقرر فى علم الاصول وما نحن فيه من العمليات فينبغى ان يكتفى فيه بمجرد غلبة الظن كيف لاوقد اكتفى به فى الحكم بحرمة هذه الاشربة اذ هى ايضاً اجتهادية لاقطعية كما صرح به آنفا فتح القدير ۳۱، ج-۹ امام ابو حنيفة رحمه الله عليه واى چه دمسكراتو بيع جائز ده اوپر تلف كونكى باندى تاوان سته اوصاحبين ئى ناجائز بولى دامام صاحب دليل داده واى چه دغه شيان مال متقوم دى او يو دلالت قطعي نده پيش سوى پر سقوط دتقوم ددوى باندى او علامه ابن همام صاحب فتح القدير دامام صاحب پرقول باندى اعتراض لرى واى يوخو فقهاؤ رحمه الله عليهم پر دى باندى تصريح كړى ده چه مال متقوم هغه ته واى چه په شرع كښى نفع اخستل باندى مباح وى اونږ دى به دغه تصريح راسى بان هذه الاشربة مما لا ينتفع بها بوجه من الوجوه يعنى پدغه اشربه ؤباندى په يو وجه له وجوه نفع نهٔ اخستل كيږى نوبيابى څنگه سړى دتقوم تصور ووهى اوبل دلالت قطعى په حق دوجوب داعتقاد كښى معتبر ده نهٔ په حق دوجوب دعمل كښى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته نهٔ وینی چه خبرواحد له احادیثو عمل واجبه وی او علم یقین نهٔ
واجبه وی بلکه غلبة الظن واجبه وی پر مذهب صحیح المختار باندی
په نز دد جمهورو لکه څنگه چه دغه خبره په علم اصولو کښی ثابته
سویده اوز مونږ بحث په اعمالو کښی ده نو باید په مجرد غلبة الظن
باندی اکتفا وسی او ولی به نهٔ وسی ځکه په حکم کښی په حرمت
ددغو اشربهٔ هم په غلبة الظن باندی اکتفا سویده دلالت قطعی نسته په
کښی علامه ابن همام رحمه الله علیه کځه هم حنفی مذهبه ده لکن
په بعض ځایو کښی تفرد کړی وی ځکه بعض معاصرینو په طبقه
دمجتهدینو کښی حسابلی ده او بعض له اهل ترجیح حسابلی ده لکه
پدغه ځائی کښی چه تفرد کړی ده ترجیح یه وقول دصاحبین ته
ورکړی ده حتی ترصاحبینو یه تجاوز کړی ده یعنی تفرد یه له ټولو
کړی ده ځکه صاحبین ددغو مسکراتو بیع ناجائزه بولی عدم جواز په
معنی دعدم حلت اخلی نه په معنی دعدم صحت یعنی عقد دبیع
صحیح ده لکن حرامه ده او ابن همام رحمه الله علیه عدم جواز په
معنی دعدم صحت اخستی ده یعنی نفس عقد دبیع صحیح نده ځکه
ده رحمه الله علیه دغه مسکرات له مالیته متقومه ځخه ایستلی دی
لکه څنگه چه امام شافعی رحمه الله علیه وغیره ایستلی دی داکځه
هم ده دامام صاحب پر قول اعتراض کړی ده خولکن داد ده رائی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ځکه جواب ئی نده ور کړی والله اعلم وعلمه اتم۔

﴿تطبیق په مابین داحنافو کښی﴾

دفقهائو رحمة الله تعالیٰ علیه له کتب داصراحة معلومیږی چه بیع دهغو شیانو چه معصیت قائم په هغه شئی پوری وی أو دهغو شیانو چه معصیت قائم په هغه شئی پوری نوی خولکن سبب او ذریعه لپاره دهغه شئی وی چه په هغه شئی پوری معصیت قائم وی اول لکه بیع دمسکراتو ومخدراتو او ډول وسرنا وچکه وغیره ځکه دا معصیت قائم پدوی پوری ده اودویم لکه بیعه دانګورو پرهغه چا باندی چه شراب ځینی جوړه وی هغه مسلمان وی او که کافروی دغه دواړه قسمه بیع داخله په اعانة علی المعصیت کښی ده په خاص بیع دمسکراتو کښی دامام شافعی رحمه الله تعالیٰ علیه مذهب داده چه بیع یه نده صحیح ځکه دامال متقوم نده داعین خمر دی لکه څنګه چه مخته ذکر سوو دعلامه ابن همام رحمه الله علیه اود محمد بن محمود صاحب العنایه رحمهم الله هم دغسئی رأیه ده اود نورو احنافو رحمه علیه تعالیٰ علیهم پدی کښی مختلف اقوال دی امام ابو یوسف رحمه الله علیه او امام محمد رحمه الله علیه یو ارقول په کراهیت سره کړی ده لکه پدی قول ددوی کښی **وکره ذلك ابو یوسف رحمه الله علیه ومحمد رحمه الله علیه استحساناً**

لان البيع العصير والعنب ممن يتخذ خمرا اعانة على المعصيت وتمكين منها وذلك حرام الخ مبسوط ۳۲، ج-۱۲، اوبل واريه قول په عدم جواز سره کړی ده لکه پدی قول کښی ان عين المسكرات محرمة التناول فلايجوز بيعه كالخمر تردی ځای پوری لان البيع يكون تسليطاً للمشترى على الشرب عادةً فاذا كان الشرب حراماً حرم البيع ايضاً وهذه المعنى موجود فی هذه الاشربة مبسوط ۱۸، ج-۱۲، او بل داقول فقهاء يه دمطلق احنا فوله طرفه ذکر کوی يعنی دامام صاحب اود صاحبين پکښی اتفاق ده ان ماقامت المعصيت بعينه يكره بيعه تحريماً آه بحرالرائق ۱۴۳، ج-ه، دغه دری سره بيعی فی الجمله اعانة على المعصيت ده کځه هم په خپل میانځ کښی يوځه فرق سره لری اوسره لدی چه يواريه قول په کراهيت مطلق کړی ده اوبل واريه په عدم جواز سره کړی ده اودريم قول يه په مکروه تحريمی سره کړی ده دغه رنګه امام ابو حنيفة رحمه الله عليه يوار قول په جواز باندی کړی ده لکه پدی قول کښی يجوز بيع الاشربة المحرمة كلها الاالخمر آه علمگری ۱۱۶، ج-۳، اوبل واريه په مکروه تحريمی سره کړی ده لکه په هغه قول متفق عليه کښی ان ماقامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً آه بحرالرائق ۱۴۳، ج-ه، نوؤس دلته دصاحبين اقوال په خپل میانځ کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ټکردی او دامام صاحب رحمه الله علیه اقوال په خپل میانځ
کښې سره ټکر دی دغه رنګه دصاحبین رحمه الله علیه اقوال دامام
ابو حنیفة رحمه الله علیه له اقوالو سره ټکردی داحقر بنده په نظر
باندې تطبیق داسی کیږي فقهاء رحمة الله تعالیٰ علیهم په بیوع کښې
دوه لفظ استعمالوی (یجوز) او (لایجوز) یجوز په معنی د(یحل)
اویجوز په معنی د(یصح) یجوز که په معنی دیحل سره سی بیاله
حرمت اوکراهیت سره منافی ده او که په معنی دیصح سره سی
صحت منافات له حلت او حرمت اوکراهیت سره نۀ لری مثلاً
صحیح به هم وی او حرام به هم وی صحیح به هم وی او مکروه به هم
وی صحیح به وی نۀ به حرام وی او نه به مکروه وی بلکه حلال به
وی مګر هغه صحیح چه هم صحیح وی اوهم حلال وی هغه صحیح
ته مقابل حرام ویل کیږی او هغه صحیح چه هم صحیح وی او هم
حرام وی وهغه صحیح ته مقابل حلال ویل کیږی (او لایجوز) کله په
معنی د(لایصح) سره وی او کله په معنی د(لایحل) سره وی که په
معنی د(لایصح) سره وه نوبیا حلت او حرمت وکراهیت ورسره منافی
دی ځکه دلایصح خودا معنی ده چه نفس عقدیه نۀ صحیح کیږی او
حلت وحرمت وکراهیت خوافراد دیصح دی او دیصح دا معنی ده چه
نفس عقدیه صحیح ده بیا به یا حرام وی یا به حلال وی مثلاً او که په

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنی د (لایحل) سره وه بیاحلت ور سره منافی ده او حرمت وکراهیت منافات نۀ ورسره لری بلکه حرمت ورسره عین ده ځکه عدم تحلیل مرادف دتحریم ده نوؤس که دصاحبین واقوالوته نظر وسی هیڅ تکرٍ به نسی پکښی پیدا ځکه لدوی دری قوله صادر سوی ؤ اول یه په لایجوز سره ؤ اوبل مکروه تحریمی ؤ اوبل مکروه مطلق هغه لایجوز په معنی دلایحل سره ده لایحل مرادف دیحرم ده دغه رنگه د (لایجوز) دکلام اخیر الفاظ هم دال پردی باندی دی چه هغه لایجوز چه په سر کښی ذکر ده هغه په معنی دلایحل سره ده هغه اخیر الفاظ دادی **لان البیع یکون تسلیطاً للمشتری علی الشرب عادة فاذا کان الشرب حراماً حرم البیع ایضاً** آه مبسوط ۱۸، ج-۱۲، یعنی په اخیر کښی لفظ دحرم ویلی ده او مکروه تحریمی وحرام په نزد دجمهور علماء سره عین دی دریم کلام یه مکروه مطلق ؤ اودا مختصه ذکر سو مکروه چه مطلق ذکر سی مراد ځینی تحریم ده ردالمحتار ۱۵۰، ج-۱، نودتو لواقوالو مفادئی داسو چه دهر هغه شئی بیع چه په هغه کښی اعانة علی المعصیت وی دهغه بیعٌ حرام ده ولوکی نفس عقد صحیح وی دغه رنگه دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه په یوه قول کښی چه (یجوز) ذکر ده او په بل قول کښی (مکروه تحریمی) ذکر ده (یجوز) په معنی دیصح سره ده له صحت سره حرمت منافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نده یعنی هم صحیح ده او هم حرام نودا هغه یصح ده چه مقابل دحلال وی او مکروه تحریمی هم مقابل دحلال ده نود دواړو قولو مفادیه داسو چه په هر هغه شئی کښی چه اعانة علی المعصیت وی بیع یه حرام ده نو دصاحبین رحمه الله علیه اقوال په خپل میانځ کښی هم متحد او متفق سواوله اقوالو دامام صاحب رحمه الله علیه هره هم متحد سو دغه رنګه دامام صاحب رحمه الله علیه اقوال په خپل میانځ کښی هم متفق سو او له اقوالو دصاحبین سره هم متفق سو ځکه د تو لو قول داسو چه ددی شیانو بیعه حرامه ده ولو کی نفس عقد صحیح ده لکه څنګه چه **علاء الدین حصفکی رحمه الله علیه ویلی دی وصح بیع غیر الخمر ممامر ومفاده صحة بیع الحشیشة والافیون قلت وقد سئل ابن نجیم رحمه الله علیه عن بیع الحشیشه هل یجوز؟ فکتب لایجوز فیحمل علی أن مراده بعدم الجواز عدم الحل قاله المصنف** درمختار ٤٥٤، ج-٦، کتاب الاشربة وای مخته تیر سوچه له شرابو ماسوی دنورو شیانو بیعه صحیح ده مفادئی داده چه دچر سو او افیونو بیعه صحیح ده او له ابن نجیم رحمه الله علیه ځخه دچرسو دبیعی پوشتنه وسوه ده په جواب کښی لایجوز ورته ولیکل وای زه وایم چه دده مراد په عدم جواز سره عدم حل ده یعنی حلاله نده بلکه حرامه ده (سوال) **بیع افیون وبنګ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحیح أست یا نهٔ وبرتقدیر اول حلال أست یا نهٔ

(جواب) این بیع صحیح أست ونافذ أست اما جلال نیست

مجموعة الفتاوی علی خلاصة الفتوی ۲۵، ج-۳ کتاب البیوع سوال دا فیونو او دبنگو بیع صحیح ده او که نهٔ که صحیح وی حلاله ده او که نهٔ جواب ددغه بیع صحیح او نافذه ده مگر حلاله نده ویجوز بیعها آه (ای المسکرات) اقول المراد بالجواز مایترتب علیه الثمرات مطلوبة لاما یقابل الحرمة سعدی چلپی علی هامش فتح القدیر ۳۱، ج-۹، سعدی چلپی رحمه الله علیه پدی قول کښی ویجوز بیعها وائی چه مراد په جواز سره هغه جواز ده چه ثمرات مطلوبه وربانده مرتب کیږی یعنی نفس عقدئی صحیح ده او مالك درقبی اود تصرف سو پدغه بیعه سره هغه جواز نده چه مقابل دحرام ده یعنی حرام وس هم ده ان المسلم ممنوع عن التصرف فی الحرام اقول فینبغی ان لایجوز بیعها لکن المراد بالجواز فی قوله ویجوز بیعها لیس ما یقابل الحرمة بل ترتب الثمرات المطلوبة کما فی البیع المکروه سعدی چلپی علی هامش فتح القدیر ۳۲، ج-۹، مسلمان په حرامو کښی له تصرف ځخه منع ده سعدی رحمه الله علیه وای نو مناسب داده چه ددغو شیانو بیعه نسئی جائز او مراد په جواز سره په هغه قول کښی ویجوز بیعها هغه جواز نده چه مقابل دحرام ده بل هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینی مراد ده چه ثمرات مطلوبه باندی مرتب کیږی لکه په بیع مکروه کښی ودغه بیع حرامی ته په شریعت کښی بیع فاسده او بیع مکروه او بیع منهی عنه وای له جهته دورود نهی له دغه بیع ځخه حکم ددی بیع داده چه کول ئی حرام ده او فاعل ئی گناهگار ده که ئی بالفرض له دغه حرمة سره دابیع و کړه ثمرات مطلوبه ورباندی مرتب کیږی چه هغه عبارة له نفس عقد او ملك رقبه و ملك تصرف ځخه دی دابیع مقابل دباطیلی ده په بیع باطیله کښی نهٔ نفس عقد صحیح کیږی او نهٔ ملك رقبه فائده کوی او نهٔ ملك تصرف والله اعلم بالصواب۔

﴿ فائده دتطبیق داختلاف داده ﴾

که دغه تطبیق نهٔ و کړ سی او یجوز ولایجوز په خپله معنی متبا دره سره سی نوبیا باید ټولو فتاویٰ ؤ پر بیع دهغه شئی چه په هغه کښی اعانة علی المعصیت وی حکم په لایجوز باندی کړی وای ځکه دامخته ذکر سوچه دمفتی دارسم ده چه په بیوعو او معاملا تو کښی دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه اود صاحبین اختلاف سره راسی فتوی به پر قول دصاحبین کوی قاضیخان۳، ج-۱، اوسره لدی چه بعضی فتاویٰ وی ددی شئی پر بیع باندی حکم په لایجوز سره کوی او بعضی یه په یجوز سره کوی له تطبیق ورسته دامعلومه سوه چه نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختـلاف په مابين دامام ابو حنيفة رحمه الله عليه او دابو يوسف رحمه الـلـه عـليه ومحمد رحمه الله عليه كښې سته او نه اختلاف په ميانځ دفتاوى و كښې سته يعنى نزاع دټولـو لـفظى ده هغه فتاوىٰ وى چه په لايـجوز سره حكم كوى هغه لايجوز په معنى دلايحل ده عدم تحليل مـرادف دتحريم ده يعنى دابيعه حرامه ده ولو كه ئى نفسُ عقد صحيح وى او هـغه فتاوىٰ وى چه حكم په يجوز سره كوى هغه يجوز په معنى ديصح ده هغه يصح چه مقابل دحلال ده دحرام نده يعنى دابيعه حلاله نـده بـلـكـه حـرامـه ده ولـو كـه ئـى نفس عقد صحيح وى نو دا تر لمر ظاهره سوه چه دترياقو اوا فيونو او چر سو اود ټولو مسكراتو او مفتراتو بيـع فـاسده او حرامه ده په مذهب داحنافو رحمهم الله دترياقو دبيع په بـطـلان بـانـدى به انشاء الله په بحث دايجارى كښې دلائل ذكر كو

هـذا مـا عـندى والله اعلم وعلمه اتم واكمل **وقـال رسول الله** ﷺ

ان الله اذا حرم شيأً حرم ثمنه اخرجه ابن همام فتح التحرير ٤٤، ج-٦،

او رسـول الـلـه ﷺ وائى اَللّٰه (جلّ جلاله) چه كم وخت يو شئى حرام كړى دهغه شئى عوض هم حرام وى۔

وقـال رسـول الـلـه ﷺ **ان الـله تعالىٰ اذا حرم على قوم أكل شـئى حرم عليه ثمنه** اخرجه مسلم اور رسـول الله ﷺ واى اَللّٰه (جلّ جـلاله) چه كوم وخت پريو قوم باندى ديو شئى خوراك حرام كړى نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه شئی عوض هم حرام وی هغه عوض پیسی وی او که بل شی

وی وقال حسان بن ابی سنان مارأیت شیاءً اهون من الورع

دع مایریبك الی مالایریبك رواه البخاری ۲۷۵، ج-۱-

حسان بن ابی سنان رحمه الله علیه وای ماتر پرهیز گاری اسانه شئی نده لیدلی دفع کوه هغه شئی چه تا په شك کښی اچوی وهغه شئی ته چه تا په شك کښی نۀ اچوی رواه البخاری ۲۷۵، ج-۱-

وقدور دعن رسول الله ﷺ احادیث کثیرة فی تحریم بیع

الخمور منها ماروی البخاری ومسلم عن جابررضی الله عنه

ان النبی ﷺ قال ان الله حرم بیع الخمر والمتیة والخنزیر

والاصنام له رسول الله ﷺ ډیر حدیثونه دشرابو دبیع په حرمت کښی نقل سویدی بعض له هغو هغه ده چه امام بخاری ومسلم رحمهما الله له حضرت جابررضی الله عنه نقل کړی ده وای رسول الله ﷺ وویل اَللّٰه (جلّ جلاله) دشرابو او دمړ زګی او دخنزیر او دبتانو بیع حرامه کړی ده علت ئی داده چه پر دغو مذکور شیانو اَللّٰه (جلّ جلاله) نفع اخستل حرامه کړی ده نوځکه ئی بیع جرامه ده ووردة عنه أحادیث

کثیرة تفید أن ماحرم الله الانتفاع به حرم بیعه وأکل ثمنه

فیتناول التحریم بیع هذا المخدرات لمایترتب علی ترویجها

من المفاسد والمضاربین افراد الامت فهو کا المتسبب فی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلا كها ودمارها بل أنه يقتل الانفس ويضيع الاموال فهى وان كانت تجارة فى ظاهرها كما بظن بعض الناس لكنها تجارة بأرواح الناس وفساد الشباب وضياع الاخلاق وهلاك الامت له رسول الله ﷺ ډير احادث منقول دى مفادئى داده اَللّٰه (جلّ جلاله) چه هر هغه شئى حرام كړى وى دهغه شئى بيع يه هم حرامه كړى ده اودعوض خوراك ئى هم حرام كړى ده نودا دمخدراتو دبيع وحرمت ته هم ورشا مليږى ځكه دمخدراتو په روا ځولو باندى دأمت ډه افرادو كښى فسادونه او ضررونه مرتب كيږى نودغه بائع لكه متسبب داسى ده په هلاكت او خرا بتيا ده افرادو دأمت كښى بلكه نفسونه قتل كوى او مالونه ضائع كوى نوداكه څه هم په ظاهر كښى تجارة ده لكه څنكه چه بعض خلكو داگمان كړى ده لكن په حقيقت كښى دخلكو په روحو اود ځوانانو په فسادو او داخلاقو په ضائع كيدو او دأمت په هلاكيدو باندى تجارت ده فلاشك فى حرمت الاتجاربها ولانها تعين على المعصيت والله تعالىٰ قد نهانا عن التعاون على الاثم والعدوان فقال الله تعالىٰ وتعاونوا على البروالتقوى ولاتعاونو على الاثم والعدوان فالتجارت فى هذه الاشياء لاشبهة فى حرمتها لدلالت القرآن الكريم على تحريمها ولهذا قال جمهورالعلماء بان هذه المخدرات

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاقيمة لها فی حق المسلم فلا يجوز بيعها ولايضمن غاصبها ولا متلفها لان ذلك دليل عزتها وتحريمها دليل اهانتها وقدروی عن النبی ﷺ أنه قال ان الذی حرم شربها حرم بيعها وأكل ثمنها الفقه علی المذاهب الاربعه ٤٥، ج-٥-

نوشك په حرمت دتجارة دمخدراتو کښی نسته اوبل دغه بيع وخريد معونت پر گناه ده او حال داده چه اَللّٰه (جلّ جلاله) مونږ له معونت ځخه پر گناه او دشمنی باندی منع کړی يو اَللّٰه (جلّ جلاله) وای معونت پر نيکئی او تقوی باندی سره کوی پر گناه او دشمنی باندی مه سره کوی نوپه حرمت دتجارة ددغو شيانو کښی هيڅ شك او شبهة نسته لجهة ددلالت دقرآن کريم پر تحريم ددغو شيانو باندی نوځکه جمهور علماء ويلی دی چه ددغو مخدراتو قيامت په حق دمسلمان کښی نسته نو نئی بيعه جائز ده او نه ضمان پر غاصب او تلف کونکی باندی سته ځکه قيامت او ضمان ئی دليل دعزت ده او حرمت ئی دليل دسپکتيا ده او له نبی ﷺ ځخه روايت نقل سويده چه دکم شئی چه ځيښل حرام وی دهغه بيعه هم حرام ده او عوض ئی هم حرام ده

الفقه علی المذاهب الاربعه ٤٥، ج-٥،

﴿ او بعض هم عصر علماء ﴾

دترياقو اوچر سووافيونو وغيره بيع جائز بولی قياس ئی پر سلاح باندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوی وای دغه افیون وغیره مثلاً داسی دی لکه سلاح دسلاح بیع جائز ده ځکه عقاب اوثواب پر استعمال دسلاح باندی مرتب کیږی مثلاً که دی په جهاد کښی استعمال کړه خدای(جلّ جلاله) ثواب درکوی او که دی پر مسلمانانونا حقه استعمال کړه اَللّٰه (جلّ جلاله) عذاب درکوی دغه افیون اوغیره هم داغسی دی مسلمان دی خرڅوی او له استعماله دی ځان ساتی له هغودلائلو ماسوی چه مو نږ پر حرمت دبیع دمسکراتو باندی ذکر کړل ودغو علمائو ته **اول داجواب** ورکوؤ دا نۀ منو چه بیع دسلاح مطلقاً جائز ده اوعقاب ئی منحصر په استعمال کښی ده ځکه بیع سلاح پر هغه چا باندی چه هغه برسری عداوت وی له مسلمانانو سره ناجائز او خرامه ده ځکه داعانة علی المعصیت ده ولو که ئی استعمال بائع نده کړی او ناحقه استعمال ئی پر مسلمانانو خو عین معصیت ده په شریعت مطهره کښی لکه څنګه چه معصیت منع او حرام ده دغه رنګه اعانة علی المعصیت هم منع او حرام ده دغه بحث مخته په مراتوتیر سویده علامه ابن عابدین رحمه الله علیه دانګو روخرڅول پر هغه کافر باندی چه شراب ځینی جوړه وی حرام بللی ده اوپر مسلمانانو باندی خو په اتفاق سره حرام ده هغه مسلمان چه خمر ځینی جوړه وی نوافیون وغیره به بیا څنګه جائز سی پر کفارو باندی ځکه انګورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسته له تبدیله دماهیة حرام شئی ځینی جوړیږی او افیون وغیره په خپله حرام دی او سره لدی عبدالرحمن جزیری رحمه الله علیه لیکلی دی چه اسرائیل هر وخت داکوشش کوی چه دمخدراتو مواد په عربی مملکتو کښی رواج کړی ددوی دهلاکت لپاره نوبیا خود مخدراتو خرڅول پر کفارو باندی عین دسلاح خرڅول دی پر دشمنانو باندی او سلاح خر څول پر دشمنانو داسلام باندی په اتفاق

دفقهاء باندی حرام او اعانة علی المعصیت ده اودویم **داجواب** ورکوؤ چه ددغه مسکراتو قیاس پر سلاح باندی نۀ صحیح کیږی ځکه سلاح مال متقوم ده او مباح الاصل ده قطع نظر له استعماله او بعد له استعمال ثواب او عقاب دواړه پر مرتب کیږی او مسکرات مال دی خولکن غیر متقوم دی ځکه مال متقوم هغه ته وای چه په شریعت کښی چه نفع اخستل ور باندی مباح وی او پر مسکرات ومفتراتو باندی نفع اخستل حرامه ده لکه څنګه چه مخته ذکر سواو بعد له استعماله عقاب او ثواب دواړه نۀ پر مرتب کیږی بلکه یوازی عقاب پر مرتب کیږی نودا قیاس مع الفارق ده او بعض هم عصر علماء رحمه الله علیه ئی پر سرقین قیاسه وی وای خوشائی محرم التناوله دی اوسره لدی بیعه ئی جائزه ده نومسکرات هم محرم التناوله دی باید بیعه ئی جائزه سی مونږ داجواب ورکوؤ چه دغه بیا قیاس مع

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفارق ده ځکه سرقین مال متقوم ده یعنی منتفع به شرعاً ده مثلا اور په بلول یا په زمکه کښی شندل دز مکی دقوت لپاره داجائز دی او په بیع کښی اعانة علی لمعصیت نسته او مسکرات خومال غیر متقوم دی لکه څنگه چه ذکر سو یعنی غیر منتفع به شرعاً دی او په بیع کښی اعانة علی المعصیت ده نولدی وجهی یه قیاس پر سرقینو نهٔ صحیح کیږی او بل دغه سرقین که دخوراك لپاره انسان واخلی یا یه دخوراك لپاره خرځ کړی نوبیاد دوی بیع هم حرامه ده او پیسی یه حرامی دی ځکه دایوه قاعده وه دمبسوط مخته هم ذکر سوه چه په بیع سره تسلط دمشتری راځی پر مبیعه باندی او دامبیعه که په عرف او عادت کښی دهرشی لپاره اخستل کیده وهغه شئی ته کتل کیږی که هغه شئی حلال ؤ بیعه ددغی مبیعی هم حلاله ده او که هغه شئی حرام ؤنو بیعه هم حرامه ده مثلاً خاوره پاکه او حلاله ده اوبیع عادتاً دبناء لپاره کیږی بناء یو حلال او جائز کار ده نو بیعه یه هم حلاله ده او دغه رنگه سرقین حرام اومرداردی مگر بیع عادتاً داور بلولو اودزمکی دپاشلو لپاره کیږی اودادواړه حلال دی نوبیعه یه هم حلاله ده او مسکرات مثلاً حرام دی او بیعه عادتاً دخوراك او څیښاك لپاره کیږی خوراك او څیښاك ئی حرام ده نوبیعه یه هم حرامه ده او بالفرض والتقدیر که خاوره یاسرقین دخوراك لپاره خرځ سی خوراك ئی حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده نوبیعه یه هم حرامه ده اویامسکرات ددوائی لپاره خرڅ سی دوائی په کول جائز ده نو بیا پدغه وخت کښی بیع هم جائز ده او دغه رنگه انگور مثلاً حلال دی بیع یه عادتاً دخوراك لپاره کیږی خوراك ئی حلال ده نوبیعه یه هم حلاله ده او که بالفرض دشراب جوړه ولو لپاره خرڅ سی نوبیا یه بیعه حرامه او فاسده ده پدی قاعده سره هغه توهمات دفعه سؤوچه بعض متوهمینُ به دا تو هم کاوه چه خاوره اوسرقین وتیل نجس وغیرهم دی تر دی قول لاندی سی **قال رسول الله**ﷺ **ان الله اذا حرم شیئاً حرم ثمنه** یعنی رسول اللهﷺ ویلی دی اَللّٰه (جلّ جلاله) چه کم وخت یو شئی حرام کړی دهغه عوض هم حرامه وی اوتر دی قول دی لاندی سی **قال رسول الله**ﷺ **ان الله تعالیٰ اذا حرم علی قوم أکل شئی حرم علیهم ثمنه** اخرجه مسلم یعنی رسول اللهﷺ ویلی دی اَللّٰه (جلّ جلاله) تعالیٰ چه کم وخت دیوشئی خوراك په یو قوم حرام کړی دهغه عوض هم حرامه وی اوبعض متوهمین داتوهم کوی چه مسکرات دی تردغه قول لاندی سی **قال الله تعالیٰ (خلق لکم مافی الارض جمیعاً)** نوداتول توهمات دفع سو وتفصیل ته ضرورت نه لری والله الموفق والمعین

(c) ketabton.com: The Digital Library

(المقصد الرابع فی الربح الناتج من التجارة المخدراة)

څلورم مقصد په گټه دتجارت دمسکراتو کښی ده لقد علم ان بیع هذه المخدراة حرام فیکون الثمن الناتج من هذه التجارة حراماً لقوله تعالیٰ (ولاتأکلوا اموالکم بینکم بالباطل) ای لایاخذ ولایتبادل بعضکم مال بعض بالباطل وذلك من وجهین الاول اخذه علی وجه الظلم والسلب والسرقة والنهب والخیانت والتدلیس وماجری مجری ذلك الثانی اخذه من جهت محظورة کاخذه بلعب القمار اوبطریق غیر شرعی کالعقود المحرمة کما فی المعاملة بالرباء و بیع ما حرم الله الانتفاع به کاالخمر المتناولة للمخدرات المذکورة فان هذا کله حرام مثل السرقة سواء بسواء وان کان بطیبة النفس من مالکه دا معلومه سوه چه بیع ددغو مخدراتو حرامه ده نوهغه پیسی چه پدغه تجارت سره ئی انسان وگټی هغه هم حرامی دی لجهة ددی قول د اَللّٰه (جلّ جلاله) ولاتأکلو اموالکم بینکم باطل یعنی تا سی خپل مالونه په خپل میانځ کښی په ناحقه مد سره خوری یعنی مئی اخلی او مئی بعضی له بعضو سره خپل مال په ناحقه بدلوی اودغه اخستل اوبد لیدل په ناحقه سره له دو وجهو کیږی یو اخستل دی په طریقه دظلم او دغصب او دغلا او د لو ټماری

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خیانت او دودیعت یعنی فریب وچل ودوکه اونور دغسی شیان او دویم اخستل دی په یو محظور او ممنوع وجه سره لکه په قیمار سره اخستل او یا په بله غیر شرعی طریقه سره لکه حرام عقدونه لکه دسود په معامله کښی او بیع دهغو شیانو چه پر هغو باندی اَللّٰه (جلّ جلاله) نفع اخیستل په شرع کښی حرامه کړی وی لکه شراب هغه شراب چه ودغه مخدراتو ته هم ور شامیلږی ځکه دغه ټول حرام دی او لکه غلا په غلا باندی یعنی یوسړی له بله ځخه وزنی یا کیلی یا عددی شئی غلا کړی او هغه بل بیا لده ځخه هغه رنگه شی هغو نه مقدار غلا کړی که ئی څه هم مالك په راضی وی خولکن دا خوراك او تبدیل په باطیل سره ده او بل لجهة دهغو حدیثو چه هغه دلالت پر حرمت دثمنو دهغه شئی کوی چه پر هغه باندی نفع اخستل په شرع کښی حرامه وی لکه داقول درسول الله ﷺ ان اللّٰه اذا حرم شیاءً حرم ثمنه رواه ابن شیبة عن ابن عباس و قدجاء فی الکتاب زادالمعاد مانصه قال جمهور الفقهاء أنه اذا بیع العنب لمن یعصره خمرا حرم أکل ثمنه بخلاف ما اذا بیع لمن یأکله وکذلك السلاح اذا بیع لمن یقاتل به مسلماً حرم أکل ثمنه واذا بیع لمن یغزبه فی سبیل الله فثنمه من الطیبات وکذلك ثیاب الحریر اذا بیعت لمن یلبسها ممن یحرم علیه لبسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرم أكل ثمنها بخلاف بيعها ممن يحل له لبسها آه واذ
كانت الاعيان التى يحل الانتفاع بها اذا بيعت لمن يستعملها
فى معصيت الله على رائى الجمهور الفقهاء وهو الحق يحرم
ثمنها لدلالت ماذكرنا من الأدلة وغيرها عليه كان ثمن
العين التى لايحل الانتفاع بها كاالمخدرات حراماً من باب

أولى رسول الله ﷺ واى الله (جلّ جلاله) چه يو شئى حرام كړى دهغه عوض هم حرامه وى روايت ئى ابن شيبة له ابن عباس رضى الله عنه ځخه كړيده انگورچه په هغه چاء خرڅ كړى چه هغه شراب ځينى جوړه وى دهغو انگورو پيسى حرامى دى او چه په هغه چاء ئى خرڅ كړى چه هغه ئى خورى بيا پروانۀ لرى او دغه رنگه سلاح چه پر هغه چا خرڅ كړى چه هغه مسلمان په وژنى دهغى وسليح عوض حرام ده او چه پر هغه چاء ئى خرڅه كړى چه هغه جهاد په كوى نوبيا يه عوض طيب او حلال ده اودغه رنگه وريښمنه جامه چه پرهغه چاء خرڅه كړى چه هغه ئى اغوندى او غوستل يه وى پر حرام نوبيا يه پيسى حرامى دى او چه پر هغه چائى خرڅه كړى چه وهغه ته ئى اغوستل جائز وى بيا عوض هم جائز ده نو چه دهغواعيانو او ذواتو چه پر هغو نفع اخستل جائز او حلال وى هغه پر داسى چاء خرڅول چه هغه ئى په معصيت الله كښى استعمالوى عوض ئى ناجائز او حرام ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مذهب دجمهور ؤ فقهاء اوهغه حق هم ده لجهة دهغو دلائلو چه موبږ ذکر کړو وغیره نودهغوا عیانو وذواتو چه دوی په خپله حرام وی ده هغو عوض په طریقه اولی سره حرام ده۔

﴿ واذا کان ثمن هذه المخدرات حراماً کان خبیثاً ﴾

وکان انفاقه فی القربات کالصدقات وبناء المسجد وحج بیت الله الحرام غیر مقبول ای لایثاب المنفق علیه نوهر کله چه پیسی ددغو مخدراتو حرامی سوی نوخبیث دی طیب نهٔ دی نودغه پیسی په ثوابی شیانو کښی نفقه کول لکه خیرات کول او مسجد په جوړه ول اوحج په کول غیر مقبولی دی یعنی اَللّٰه (جلّ جلاله) پردغو قرباتو باندی ثواب نهٔ ورکوی فقد روی مسلم عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان الله طیب لایقبل الّا طیباً وان الله تعالیٰ امرا المؤمنین بما آمر به المرسلین فقال الله تعالیٰ یاایها الرسول کلومن الطیبات واعملوا صالحاً الایة وقال الله تعالیٰ یاایها الذین آمنو کلو من الطیبات مارزقناکم وشکروا الله ان کنتم ایاه تعبدون ثم ذکر الرجل یطیل اسفر أشعث أغبر یمدیده الی السماء یا رب یا رب ومطعمه حرام و مشربه حرام و ملبسه حرام وغذی بالحرام فانی یستجاب لذلك؟ امام مسلم رحمه الله علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه ابـی هریرةرضی الله عنه ځخه روایت کړی ده وائی رسول الله ﷺ ویلی دی چه اَللّٰه (جلّ جلاله) طیب ده طیب مال قبلوی خبیث نۀ قبلوی او اَللّٰه (جلّ جلاله) مؤمنـان پـه هـغـه شـئـی امر کوی په کم شئی چه رسولان امر کړی دی اَللّٰه (جلّ جلاله) ویلی دی ای رسولانو خوراك له طیبـا تـو ځـخه کوی یعنی له پاکو او حلالو شیانو ځخه او صالح عمل کوی او په بل ایات کښی اَللّٰه (جلّ جلاله) ویلی دی ای کسانو مؤمنانو خـوراك لـه پاك او طیب هغه رزق ځخه کوی کم چه مونږ درکړی ده او د اَللّٰه (جلّ جلاله) شـکـر اداء کوی که چیری تا سی خاص دَاللّٰه (جلّ جلاله) عبـادت کـوی بیـا رسـول الله ﷺ هغه سړی ذکر کړ چه وژد سـفرئی کړی وی او ببـر سـرئـی وی او په خاور وخړ پـڑوی اولاسونه داسـمان طرفته کشوئ او دیارب یارب ناری وهی او خوراك ئی حرام وی او څیښناك ئـی حـرام وی او جـامـۀ ئـی حرام وی اولوی سوی پـه حـرامـو وی نـوزه ددغـه سـوال قبلوم یعنی اَللّٰه (جلّ جلاله) وای ددا سی سړی سـوال نـه قبـلـوم خبیـث او طیب چه پدغه ایا تو کښی ذکر دی

ویـحـرم علیه الخبائث آه کلو من الطیبات الایة مفسرین کرام وای چـه هـر ضـارشئی په خبیث کښی داخـل ده اوهـر نـافع په طیب

کښی داخل ده **وقـد جـاء فـی الـحـدیـث الـذی رواه احمد فی مسـنـده عـن ابـن مسـعـودرضی الله عنه أن رسول الله** ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

قال والذی نفسی بیده لایکسب عبد مالاً من حرام فینفق منه فیبارك له فیه ولا یتصدق فیقبل منه ولا یترکه خلف ظهره الاکان زاده فی النار ان الله لایمحو السیئی بالسیئی ولکن یمحو السیئی بالحسن ان الخبیث لایمحوالخبیث او په حدیث شریف کښی راغلی دی هغه حدیث چه احمد په خپل مسند کښی له ابن مسعود رضی الله عنه ځخه نقل کړیده چه رسول الله ﷺ ویلی دی زماد قسم په هغه ذات وی چه زما نفس دده په لاس کښی ده یو بنده به دحرام مال کسب نهٔ وکړی چه بیا له هغه زکات ورکړی او الله (جلّ جلاله) دته برکت پکښی ورواچوی او نهٔ به له حرامو صدقه وخیرات وکړی چه الله (جلّ جلاله) ئی ځینی قبول کړی او نه به ئی ترشا پریږ دی مگر تو شهٔ به ئی په اور کښی وی الله بدی په بدی باندی نهٔ محوکوی بلکه الله بدی په نیکئی باندی نیستی کوی خبیث خییث نسئی نیستی کولی وروی عن ابی هریرةرضی الله عنه عن النبی ﷺ وسلم قال من کسب مالاً حراماً فتصدق به لم یکن له آجر وکان اجره یعنی اثمه وعقوبته علیه ابی هریرةرضی الله عنه له رسول الله ﷺ ځخه نقل کوی وائی که چاء دحرام مال کسب اوکاروبار کا وه اوبیا په خیرات ځینی وکو دهغه اجر نسته او گناه وعذاب ئی پرده باندی ده وما فی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مراسل القاسم بن مخيرة قال رسول الله ﷺ ماأصاب مالاً من مأثم فوصل به رحمه اونفقه فی سبيل الله جمع ذلك جميعاً ثم قذف به فی نار جهنم وائی رسول الله ﷺ ویلی دی کچاء په غیر شرعی طریقه سره مال حاصل کو اوبیا په وصل رحمی په و کړه او یا یه خیرات ځینی وکواویا یه دخدای په لار کښی نفقه ځینی وکړه داټول را جمع کیږی په اور ددوزخ کښی غور زیږی وروی عن النبی ﷺ آنه قال انه اذا خرج الحاج بالنفقة الخبيثة فوضع رجله فی الغدز ای الرکاب وقال لبيك ناداه ملك من السماء لا لبيك ولا سعديك وحجك مردود عليك له رسول الله ﷺ ځخه روایت سویده وای حاجی چه په حرام نفقه سره را ووزی دحج لپاره او پښه په رقاب کښی کښیږدی او ووائی لبيك یعنی په خدمت ولا ږیم تالره یو ملکه له اسمان ځخه اواز وکړی وائی لا لبيك یعنی په خدمت نئی ولاړ وخپل رب ته ولا سعديك اوندی نيك بختی او خوشحالی وی تالره او حج دی مردود ده پر تا باندی یعنی غیر مقبول ده فهذه الاحاديث التی يشد بعضها بعضاً تدل علی آنه لايقبل الله صدقة ولا حجة ولا قربة اخری من القربات من مال حرام من أجل ذلك نص علماء الحنيفة علی أن الانفاق علی الحج من الحرام حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه احاديث چه بعضی دبعضو تائيد کوی دلالت کوی پر دی باندی چه اَللّٰه (جلّ جلاله) له حرام مال څخه نه صدقه قبلوی او نهٔ حج قبلوی او نه بل ثوابی او خيراتی کار قبلوی نولدی وجه علماء احنافو تصريح کړی ده پر دی باندی چه په حرام مال باندی حج کول حرام ده ونستطع أن نلخص ما ذكر ناه فيما يأتي مونږ طلب دتوفيق ځهٔ چه هغه شيان چه مونږ ذکر کړو چه دهغو خلاصه بيان کړو اولاً

تحريم تعاطی الحشيش والأفيون والقات وغيرها من المخدرات المسكراة والمفتراة

ثانياً تحريم الاتجار فيها واتخاذها حرفة تدر الربح

ثالثاً حرمة تهريبها ومساعدة التجار على رواجها والتدليس

عليهم رابعاً حرمت زراعتها لاتخاذ المادة المخدرة لتعاطيها

او الاتجاربها خامساً ان الربح الناتج من الاتجار فی هذه

المواد حرام خبيث وان انفاقه فی الطاعات غير مقبول الفقه

علی المذاهب الاربعه ٤٢، ج-٥، خلاصه ئی داده اول دچر سو او افيونو اود ټولو مخدراتو که مسکروی او که مفتروی خوراك او څيښناك او څکيدن حرام ده دويم ددغو مخدراتو تجارت اودځان دګټی لپاره کسب جو ړول حرام ده دريم له تجارا نوسره په ګريزی او کرايه و مزدوری سره وړل ددغو مخدراتو حرام ده څلورم ددغو مخدراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل کرل هغه دخپل خوراك او څکیدن لپاره وی او که دتجارة لپاره وی حرام ده پنځم هغه ګټه چه ددغو مخدراتو په تجارة کښی یعنی په خریداو فروخت کښی حاصله کړی هغه پیسی وی او که بل شئی وی حرام ده دهغو نفقه کول په طاعاتو کښی غیر مقبول ده حرام پردوه قسم دی یو قسم هغه حرام دی چه دانسان په ملك کښی نۀ رائی مثلاً لکه مال دسرقی اودغصب او هغه پیسی چه په بیوع باطیله ؤ باندی یه ځانته حاصلی کړی وی دغسی مال دانسان ملك نه ګرزئی پدی باندی انسان غنی نۀ بلل کیږی یعنی پدی باندی پر انسان نۀ حج فرضیږی او نۀ زکوٰة او بل قسم هغه حرام دی چه د انسان ملك ګرزئی لکه ثمن او مثمن دبیوعو فاسده ؤ او دسود وغیره مثلاً پدی باندی انسان غنی بلل کیږی او حج پر پرضیږی اوز کوة پر فرضیږی او دغه رنګه سړی حج په وکړی یاز کوة ځینی ور کړی فرض په سا قطیږی خولکن قبلیږی نۀ ګټه او تجارة ددغو مخدراتو له دغه اخیره قسم ځخه ده ځکه دامو نږدز کر کړو چه ددغو مسکراتو بیعه فاسده ده هغه ثمنی ئی حرامی دی پدغه حرمت سره یعنی چه حج پرفر ضیږی اوز کوة پرفر ضیږی مثلاً او په اداء سره یه هغه فرض هم ځینی ساقطیږی خولکن قبلیږی نۀ۔

ویجتهد فی تحصیل نفقة حلال فانه لایقبل بالنفقة الحرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کماورد فی الحدیث مع انه یسقط الفرض عنه معها بحر الرائق ۳۰۹، ج-۲، تحت قوله هو زیارة مخصوص الخ وکذا فی الشامی ۱۹۱، ج-۲، علمگری ۲۳۰، ج-۱، فتاوی رحیمیه ۳۷، ج-۸، فتح القدیر ۳۱۹، ج-۲، یعنی دحلال نفقی کوشش دکوی ځکه په حرام نفقه سره نۀ قبلیږی لکه څنګه چه به حدیث شریف کښی هم دغسی راغلی دی که څه هم فرض په نسا قطیږی او قبلیږی نۀ ځکه داسقاط دفرضو اود عدم قبول په میانځ کښی منافات نسته لکه څنګه چه ابن همام رحمه الله علیه ویلی دی ولا تنافی بین سقوطه وعدم قبوله فلایثاب لعدم القبول ولا یعاقب فی الاخرة عقاب تارك الحج فتح القدیر ۳۱۹، ج-۲،

﴿ المقصد الخامس فی ذراعت المخدراة ﴾

پنځم مقصد په کشت دمخدراتو کښی ده دمسکرات و مفتراتو کشت په اتفاق سره حرام ده دمختینو مقاصد و ځخه دکشت حرمت په واضحه تو ګه سره و هر چا ته معلو میږی وتفصیل ته ضرورة نۀ لری نو لهذا په یوځو محدود دلائلو اکتفاء کؤ ځکه مشت نمونه خرواراست۔

﴿اتفق الائمة علی تحریم ذراعة الحشیش والخشخاش﴾

لاستخراج المادة المخدرة منهما لتعاطیها او الاتجارفیها

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحرمت ذراعتها من وجوه ـ

﴿ اولاً ماروی ﴾

عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال (ان من حبس العنب ایام القطاف حتی یبعه ممن یتخذه خمرا فقد تقحم النار) فهذا دلیل علی حرمت ذراعتها بطریق

دلالت النص ټول اما مان پر حرمت دکشت دچرسو او دخشخا شو متفق دی ځکه پدی کشت سره مخدره مواد حاصلیږی هغه مواد دخپل ځان دخوراك اودځکیدن لپاره وی او که دتجارة لپاره وی او دکشت حرمت له ډیرو وجهو ده او له وجهه هغه ده چه له ابن عباسؓ رضی الله عنه ځخه روایت سویده وائی چه رسول الله ﷺ وویل کچاء انګور د رسداو دپختیا په وخت کښی بند کړو نهٔ ئی خرڅول ددی لپاره چه بیابی پر هغه چاء خرڅ کړی چه هغه شراب ځینی جوړه وی نو هغه سړی خپل ځان په شدة او مشقت سره په اور دجهنم کښی واچاوه نو دغه حدیث دلالت پر دی باندی کوی چه کشت دهغو مخدراتو چه هغه یا عین شراب دی او یا په حکم دشرابو کښی دی بناءً علی اختلاف المذهبین حرام ده ځکه چه پاکه او حلاله میوه ایښودل حرامه ده پدی نیت چه بیا یه پر هغه چاء خرڅه کړی چه هغه شراب ځینی جوړه وی او رسول الله ﷺ هغه وعید ورته بیان کړی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

نودهغو حرامو او مضر موادو کرل به بیا څنګه نسی حرام چه دهغو ضرر و نقصان وهرچاته ترلمر شکاره ده او وهغه کرونکی ته به بیا هغه وعید څنګه نسی راجع کم چه ؤس ذکر سو۔

﴿ثانیاً﴾

ان زراعة هذه المخدرة اعانة على المعصيت وهى تعاطى المخدرة والاتجار فيها والا عانة على المعصيت معصيت

دویم وجهه دحرمت دادهٔ چه ددغو مخدراتو کشت اعانة على المعصيت ده هغه معصیت او ګناه چه هغه خوراك او څکیدن او تجارة دمخدراتو ده او دګناه په کار کښی کومك او مدد کول ګناه ده نو دمخدراتو کشت او فصل کرل هم ګناه او حرام ده۔

﴿ثالثاً﴾

ان زراعتها لهذا الغرض رضأمن الزارع بتعاطى الناس لها واتجارهم فيها والرضاء بالمعصيت معصيت وذلك لان انكار المنكر بالقلب الذى هو عبارة عن كراهية القلب وبغضه المنكر فرض على كل مسلم فى كل حال بل وردفى صحيح مسلم عن رسول الله ﷺ ان من لم ينكر المنكر بقلبه (بالمعنى الذى بينا) ليس عنده من الايمان حبة خردل

دریمه وجهه دحرمت داده چه د مخدراتو کشت ددی غرض لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرل چه خوراك څکیدن او تجارة ده لدی دامعلومیږی چه دغه کرونکی پدغه خوراك او څکیدن او تجارت دخلګو باندی راضی ده اورضاء په ګناه باندی ګناه ده او ذاخبره ثابته ده ځکه له منکر شئی ځخه په زړه باندی انکار په هر حال کښی پر هر مسلمان باندی فرض ده انکار دمنکر لدی عبارة ده چه له منکر ځخه به په زړه باندی کرهه او بغض کوی بلکه له رسول الله ﷺ ځخه په صحیح مسلم کښی نقل سویده که چاء له منکر شئی ځخه په زړه باندی انکار نۀ کا وه له هغه سره دیوه نخود ددانی په مقدار ایمان نسته **وفیه مخالفة لولی الامر الذی نهی عنها بالقوانین التی وضعت لذلك لوجوب طاعة ولی الامر فیما لیس بمعصیة لله ولرسوله باجماع المسلمین** الفقه علی المذاهب الاربعه ٤٠، ج-٥ ، او بل دمخدراتو په کرلو کښی دآمیر مخالفت ده هغه آمیر چه مخدرات ئی بند کړی وی په هغه قانون باندی چه دمخدراتو دبندیدو لپاره ئی ایښی وی او اطاعت دآمیر واجب ده په اجماع دمسلمانانو په هغه شئی کښی چه په هغه کښی دالله (جلّ جلاله) او دالله (جلّ جلاله) درسول ګناه او نافرمانی نۀ وی الفقه علی المذاهب الاربعه لکه رسول الله ﷺ چه وائی **لاطاعت للمخلوق فی معصیة الخالق** یعنی په کوم شئی کښی چه انسان دالله (جلّ جلاله) په معصیت او ګناه کښی واقع کیږی په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شئی کښی دمخلوق اتباع او اطاعت نسته هغه مخلوق آمیروی او که موراو پلاروی او که پیراو استادوی که هرڅوك وی زراعة الحشیش والخشخاش والقات وتصنیع الافیون والکوکابین والهروین ان کل مایودی الی حرام فهو حرام وکل مایعین علی المعصیت فهو معصیت فتکون زراعة الحثیش وغیرها واستخراج المواد المخدرة العنایة بها حفظاً وتعلیماً وتهریباً ونقلاً من مکان الی آخر امراً حراماً فی شرع الله ودینه للأسباب التالیة دغه بیان په کشت دچرسو او دخشخاشو او دالقات کښی ده اوپه جوړه ولو دافیونو او دکوکابینو او دهریوینو کښی ده القات هغه وا ښه ته وائی چه له پانو یه پان جوړیږی حاصل ئی داده چه هر هغه شئی کښی چه اعانة علی المعصیت وی هغه معصیت ده نودچرسو وغیره ؤ کشت او دمخدره موادو جوړه ول او غم خوردنی په کول مثلاً ساتل او ورښودل او زده کول او یا په کریټ اوکاټن کښی بنده ول ځکه په بعضی نسخو کښی دتعلیماً پرځائی تعلیباً راغلی ده او په گریزی باندی ورڼل او له یوه مکان ځخه بل مکان ته نقل کول دادخدای(جلّ جلاله) په شرع او په دین کښی یو حرام کار ده ددغورا روانو اسبابو په وجهه

١ ـ ان زراعة مایؤ دی الی الحرام یعد رضاً صریحاً من

(c) ketabton.com: The Digital Library

الـزراع بتـعـاطـى الـنـاس لـه واتـجـارهـم فيـه والـرضـاء بالمنكر أو المعصية يعد منكراً وعصياناً

٢- تبيـن مـمـاذكـر أن كـل مـافيـه اعـانة عـلى المعصيت يعد معصيت كما أن الزراعة لوسائل المخدرات معصيت

٣- روى ابـو داود فى سنة عن ابن عباس رضى الله عنه ان رسـول الـلـه ﷺ قال ان من حبس العنب أيام القطاف حتى يبيـعـه مـمـن يتخذه خمراً فقد تقحم النار، وهذا دليل صريح عـلـى حـرمة زراعة الـحشيش والقات وكل مايؤدى لاستخراج عصارة الافيون والهروين والكوكابين وغير ذلك الفقه الاسلامى ۵۵۱۷، ج-۷، پـدى ځـائـى کښى نـور دلائـل هـم ذکـر دى خود ټولو حاصل هغه ده کم چه په مخته عبارة کښى ذکر سونو لدى وجهى يه ترجمه هـم نه ذکر کوؤ اکتفاء په هغه مختنى ترجمه باندى کؤو،

﴿ داسوال دى ثوک نۀ کوى ﴾

چـه دانـگـورو کشـت دى هـم حـرام سـى ځکه خوله هغو هم شراب جوړيږى لـدى وجهـى چـه دامـخـتـه ذکـر سـو چـه په بيغه سره تسلط

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمشتری رائی په مبیعه باندی نو هغه مبیعه عادةً که دهر شئی لپاره اخستل کیده وخر څیده وهغه شئی ته کتل کیږی که هغه شئی حرام ؤ دغه بیعه هم حرامه ده او که هغه شئی حلال ؤ دغه بیعه هم حلاله ده نودلته هم دغه قاعده ده انگور عادتاً دخوراك لپاره کرل کیږی خوراك ئی حلال ده نو کرل ئی هم حلال او جائز ده او بالفرض که په نیت او قصد دخموریّت وکرل سی بیا یه کرل حرام ده او مسکرات عادتاً دخوراك او څکیدن لپاره کرل کیږی خوراك او څکیدن ئی حرام ده نو کشت ئی هم حرام ده نوذا معلومه سوه چه دانگورو قیاس پر مخدراتو نسئی کیدلی والله اعلم وعلمه اتم واکمل۔

﴿ المقصد السادس فی اجارة المخدراة ﴾

شپږم مقصد په اجاره دمخدراتو کښی ده په اجاره دمسکراتو ومفتراتو کښی عین هغه بحث ده کم چه په بیع دمسکراتو ومفتراتو کښی مونږ ذکر کړو ځکه اجاره عین بیع ده صرف دافرق یه ده چه بیع

﴿ عقد علی الاعیان بعوض اواجاره عقد علی المنافع بعوض ﴾

تکمله فتح التقدیر ۱۴۵، ج-۷، البدائع ۱۷۴، ج-۴، تبین الحقائق ۱۰۵، ج-۵،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغیرها نولدی وجه هغه بحث مکمل دوباره نه ذکر کوؤ هغه باید په غور وکتل سی لکن یوڅو مهمی خبری ذکر کوؤ یوه اجاره علی المعصیت ده او یوه اجاره پر اعانة علی المعصیت ده په اجاره علی المعصیت کښی نفس عقد نهٔ صحیح کیږی او په اجاره دمعونت علی المعصیت کښی نفس عقد صحیح ده خولکن حرام ده یعنی اجاره فاسده ده او په اول کښی نفس عقد ځکه نهٔ صحیح کیږی چه په اجاره کښی داشرط ده چه معقود علیه به مباح وی شرعاً او معصیت خو مباح نده بلکه حرام د ه **الشرط الثالث ان تكون المنفعة مباحة لغير ضرورة وان تكون مقصودة فلا تصح الاجارة على ضرب شخص او فعل حرام كالنياحة كمالا تصح اجارة الدار لتكون محلاً للباغيات او بيع الخمر او للقمار او نحوذلك ممالا يحل** الفقه علی المذاهب الاربعه ۱۰۶، ج-۳، دریم شرط داده چه دغه منفعت به مباح وی بغیر له حالته اضطراری ځخه او مقصود به وی دسړی پر وهلو باندی اجاره نهٔ صحیح کیږی او دغه رنگه پر فعل حرام باندی نهٔ صحیح کیږی لکه نیاحة مثلاً یعنی یو چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته پیسی ور کړی چـه ته راسه زما پرځائی زما پر مړی باندی چیغاری وبغاری وهه او سرو گریبان شکوه دغه مزدوری نۀ صحیح کیږی لکه څنگه چـه سرای ور کول په اجاره باندی نۀ صحیح کیږی وهغه چاته چه دباغیانو ځائی ومرکز ځینی جوره وی او یادشرابو خرید وفروخت په کښی کـوی اویا قیمار په کښی کـوی او یا بل داسی کار په کښی کـوی چـه هـغـه پـه شریعت کښی ناروا وې **ویـجـوز الـعقد علی المنافع المباحة ـ**

﴿اما المنافع المحرمة کما عرفنا فلا تجوز الاجارة علیها﴾

لانهـا مـحـرمة فـلا یـجـوز اخـذ الـعوض علیها کالمیتة والدم وذلك بـاتـفـاق العلماء الـفـقـه الاسلامی ۷۵۹، ج-٤، عـقد دمزدوری پر مباحـو مـنـافـعـو بـانـدی جـائـز ده او پر حرامو منافعو باندی مزدوری اخستل نده جائز ځکه هغه خو حرام دی او پر حرامو مزدوری اخستل نـاروادە لـکه پر مړزگـه او مسـفـوحة وینـه باندی چه عوض اخستل نـاروادە او پـر دی خبره باندی ټول عـلـماء متفق دی۔ **قـال العلامة المـرغیـنانی رحمه الله علیه ولا یجوز الاستجار علی الغناء**

(c) ketabton.com: The Digital Library

والنوح وكذا سائر الملاهی لانه استیجار علی المعصیت

والمعصیت لاتستحق بالعقد الهدایه ۳۰۱، ج-۳ ، علامه مرغینانی رحمه الله علیه وای چه أجرة اخستل پر سرود او پر چیغارو وبغارو اوپر دول ودو تاره وغیره باندی ناروا ده ځکه دا أجرت اخستل دی پر ګناه باندی او ګناه په عقد سره نه مستحق کیږی ځکه په عقد داجاری سره تسلیم دمعقود علیه مستحق کیږی شرعاً او دانده جائز چه عقد داجاری دی پر سړی داسی شئی حق کړی چه په هغه دی ګنهګار کیږی لدی وجه نده جائز چه دمعصیت اضافت شرع ته ونۀ

سی قال العلامة ابو البرکات النسفی رحمه الله علیه ولایجوز

علی الغناء والنوح والملاهی کنزالدقائق ۳٦٤ کتاب الاجارة ومثله فی ردالمحتار ۵۵، ج-٦، مطلب فی استیجار علی المعاصی الفتاوی حقانیه ۲۵۷، ج-٦،

ان تکون المنفعة المعقود علیها مباحة شرعاً آه الفقه الاسلامی ۷٤٤، ج-٤، داقول اتفاقی ده یعنی په اتفاق دعلماء باندی داعقد باطیل ده او بل اجاره پر اعانة علی المعصیت ده پدی کښی بیا هغه اختلاف ده کم چه په بیع کښی ذکر سوو حاصل ئی داده چه بعد التطبیق له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقوالو داحنافو ځخه هم له فساد او له حرمت ځخه په یو آن کښی
نسئی خالی کیدائی یجوز للشخص عندابی حنیفة رحمه الله
علیه ان یؤجر نفسه أوسیارته اودابته بأجر لتعمر کنیسة
اولحمل خمر ذمی لالعصرها لان لامعصیة فی الفعل عینه
لان عقد الاجارة علی الحمل لیس بمعصیة ولا سبب لها
وانما تحصل المعصیة باختیار الشارب وقد یکون حملها
للاراقة أوالتخلیل اما عصرها بقصد الخمریة کمعاصر
الخمور فی بلادنا أوفی امریکا مثلاً من مسلم فیحرم لان
المعصیة فی الفعل عینه وأجاز ابو حنیفة أیضاً اجارة بیت
لاتخاذه کنیسة أوبیع الخمر فیه فی بلاد غالب أهلها اهل
الذمة لأن الاجارة تقع علی منفعة البیت ولهذا تجب الأجرة
بمجرد تسلیم ولا معصیة فیه وانما المعصیة بفعل المستأجر
وهو مختار فیه ولا تجوز تلك الاجارة فی بلاد غالب اهلها
اهل الاسلام لان أهل الذمة لایمکّنون من اتخاذ الکنائس
واظهار بیع الخمورو ونحوذلك فی الاصح۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

وقال الصاحبان والائمة الثلاثة لاينبغى كل تلك الاجاراة

وهى مكروهة لأنها اعانة على المعصيت ولأنه عليه الصلواة

والسلام لعن فى الخمر عشرة وعدّمنها۔ (حاملها)

واعتبر أبو حنيفة الحديث محمولاً على الحمل المقرون

بقصد المعصية وعلى كل حال فر أى أبى حنيفة قياس

ورأى الصاحبين استحسان وهو المعول عليه فى كثير امن

الفتاوى الفقه الاسلامی ۲٦۸۸، ج-٤ ، امام ابو حنيفة رحمه الله عليه وائی چه سړی په خپله یا په موټر باندی یا په حیوان باندی دکفارو دعبادت خانی په جوړلو کښی او یاله ذمی سره دشرابو په وړه ولو کښی مزدوری و کړی دا جائز ده نۀ دشرابو په جو ړه ولو کښی یعنی دشرابو په جوړو لوباندی مزدوری اخستل ناجائز ده ځکه په نفس فعل دوړلو کښی خو گناه نسته ځکه دغه عقد دا جاری پر و ړلو باندی خو نۀ گناه ده او نۀ سبب لپاره دِ گناه ده ځکه وړل خوئی کله دتو یه ولو لپاره او کله دسر که کیدلو لپاره هم وی او معصیت خو په اختیار دځیښونکی کښی ده لکن مسلمان چه په قصد دشرابو جوړه وی لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه جوړه ونکی چه زمونږ په وطنو کښی جوړه وی او یا یه په امریکا کښی جوړه وی مثلاً هغه حرام ده ځکه پدغه نفس فعل کښی معصیت او ګناه ده اودغه رنګه امام ابو حنیفة رحمه الله علیه جائز ګڼی ده کوټه په کرایه ورکول وکافرته چه هغه عبادت خانه ځینی جوړه کړی اویا شراب په کښی خرڅ کړی په هغه وطنو کښی چه غالبه اهل ئی اهل ذمه وی ځکه دغه اجارهٔ وکرایه خو پر منفعت دکوټی واقع کیږی نولدی وجه یه په نفس تسلیم سره أجرة وا جبیږی او ګناه خو یه په فعل دمستأجر کښی ده یعنی چه شراب خرڅول دی او یاکفری عبادت کول دی او هغه پدغه خپل فعل کښی اختیار مند ده اودغه اجاره نده جائز په هغه وطنو کښی چه غالبه اهل ئی اهل السلام وی ځکه اهل ذمه بیا دا قدرت نه لری چه عبادت خانه جوړه کړی او یا شراب په بنکاره باندی خرڅ کړی او یا بل داغسی کارو کړی۔

او امام ابو یوسف رحمه الله علیه و محمد رحمه الله علیه سره له امانو ثلاثهٔ وائی دغه مذکوری اجاری تولی مکروه دی ځکه دغه اعانة

(c) ketabton.com: The Digital Library

علی المعصیت ده او بل رسول الله ﷺ په شرابو کښی پر لسو کسانو لعنت ویلی ده له هغو لسو ځخه یو و ړونکی ده او امام ابو حنیفة رحمه الله علیه دغه حدیث حمل کړی ده پر هغه ورلو باندی چه په قصد دمعصیت وی خو په هر حال رأی دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه قیاس ده اورأی دصاحبین استحسان ده اودغه دصحابین رأی په ډیرو فتاوی ؤ کښی معول علیه ومرجع الیه ده یعنی مفتی به ده۔

قال الزیلعی علی هذا الخلاف لواجره ای الکافر دابته لینقل علیها الخمر اواجره بنفسه لیرعی له الخنازیر یطیب له الاجر عندابی حنیفة رحمه الله علیه وعندهما یکره شامی

استنبولی کتاب الحظروالاباحة ۳٤٥، ج۔٥، وفی الخلاصة ۱٤۹، ج۔۳، کتاب الاجاره زیلعی رحمه الله علیه وائی که چا کا فرته حیوان په کرایه ورکو ددی لپاره چه شراب ورباند یو سی او یا یه خپل ځان ور مزدور کو ددی لپاره چه دهغه خنزیران وروپیائی دغه مزدوری ورته جائز ده په نزد دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه او په نزد دصاحبین باندی دغه مزدوری مکروه ده اودامو نړ ذکر کړی دی چه مکره چه مطلق ذکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سی مراد ځینی تحریم ده وکذالو اجر نفسه لیحمل له الخمر یکره لان التصرف فی الخمر حرام قال رحمه الله علیه هکذا اطلق لکن هذا قولهما واما علی قول ابی حنیفة رحمه الله علیه لایکره احقر محمد شفیع دیو بندی رحمه الله علیه ددی عباره ترجمه دتیز عبارة په شان ده اگرچه نفس عقد جائز هے مگر بوجه اعانت علی المعصیت ایسے معاملات سے احتراز لازم هے بنده اصغر حسین رحمه الله علیه عفی عنه امداد المفتین ۷۱۷، ج-۲، ومثله فی عزیز الفتاوی ۶۳۸، ج-۱ ، لدی مذکور وعباراتو داصراحةً معلومیږی چه دتر یاقو وهل په مزدوری باندی ناجائز ده په نزد دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه سره له صاحبین ځکه دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه له صاحبین سره اختلاف په جوړه ونکی او نیښځی ځونکی دشرابو کښی نسته یعنی دهغه کس مزدوری چه انګور په قصددشرابو باندی نیښځی ځی او یا شراب له بل شئی ځخه جوړه وی لکه څنګه چه دصاحبین په نزد ناجائزه ده دغه رنګه دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه په نزدهم ناجائزه ده نو تریاق وهل په نزد دټولو باندی ناجائزه ده ځکه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهل یه عین جوړه ول دی نودغه وهل عین معصیت سو او دعین معصیت په حرمت او ممانعت کښی ددوی اختلاف نسته او بالفرض والتقدیر که دا وویل سی چه دغه فعل دو هلویه معصیت نده بلکه اعانة علی المعصیت ده او په اعانة علی المعصیت کښی دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه له صاحبین سره اختلاف ده امام صاحب رحمه الله علیه یه طرف دجواز نیولی ده او صاحبینو یه دعدم جواز او کراهیت نیولی ده نودابه په جواب کښی ورته ووایل سی چه دامام ابو حنیفة رحمه الله تعالیٰ علیه وجواز ته دی څوك نۀ گوری ځکه دامخته مونږ ذکر کړو چه تعارض دقیاس او استحسان چه سره راسی استحسان پر مقدم ده ردالمحتار ۴۹، ج-۱ ، په اعانة علی المعصیت کښی امام ابو حنیفة رحمه الله علیه قول په قیاس سره کوی او صاحبین یه په استحسان سره کوی اوبل دامو نږ ذکر کړو اختلاف دامام ابو حنیفة رحمه الله علیه او دصاحبین رحمه الله علیه چه سره راسی اخذ په قول دصاحبین کول کبیری قاضیخان ۳، ج-۱ ، اوبل دامونږ ذکر کړو په مقصد دبیع دمسکراتو کښی چه جواز او فساد سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

منافی نۀ دی جائز دی هم وی او فاسد دی هم وی یعنی امام ابو حنیفة رحمه الله علیه چه وداسی عقد ته جائز وای سره له جوازه دی فاسدوی ځکه **الفاسد من العقود ماکان مشروعاً بأصله دون وصفه والباطیل مالیس بمشروعاً اصلا لابأصله ولا بوصفه**

ردالمختار ٤٦، ج-٦، فاسد عقد هغه ته وای چه من حیث الذات مشروع او منعقد وی او من حیث الوصف باطیل وی او باطیل عقد هغه ته وای چه نۀ نفس ذات دعقد منعقد وی او نۀ ئی وصف۔

حاصل دی بیان داسو چه دغه تریاق وهل په مزدوری باندی په صورة دمعصیت کښی یعنی چه دغه وهل یه معصیت سی نودغه عقدئی باطیل او حرام ده په نزد دټولو احنافو باندی او که بالفرض والتقدیر معصیت نسی اعانة علی المعصیت خوبالاتفاق ده نو په صورة داعانة علی المعصیت کښی هم دغه عقد فاسد اوحرام ده پرقول مفتی به باندی داتقریر دمقصد له سره بیاتر دغه ځائی پر دی تقدیر ده چه دعمل په مقابل کښی نقدی پیسی ور کړی او چه دعمل په مقابل کښی یعنی په أجرة کښی تریاق ور کړی لکه څنګه چه معمول ده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کښې بيا داحقر بنده په خيال راجح داده چه دغه اجاره باطيله ده ځکه په أجرة کښې داشرط ده چه مال به متقوم وی نوترياق کځه هم مال دی خو متقوم نۀ دی۔

﴿وأما شروط الأجرة فهی اولاً تکون الاجرة مالاً متقوماً معلوماً﴾

البدائح المصدر السابق ١٩٣ الفقه الاسئلامی ٧٤٩، ج-٤، يعنی دأجرة شرائط دادی چه أجرة به مال متقوم وی او معلوم به وی والمال عند الحنيفية كما عرفنا سابقاً مايميل اليه الطبع ويمكن اذخاره لوقت الحاجة وبعبارة اخری هوكل مايمكن ان يملكه الانسان وينتفع به على وجه معتاد والاصح انه هو كل عين ذات قيمت مادية بين الناس والمتقوم مايمكن اذ خاره مع اباحته شرعاً وبعبارة اخری هو ماكان محرزاً فعلاً ويجوز الانتفاع به فی حالة الاختيار حاشيه ابن عابدين ٣، ج-٤، الفقه الاسلامی ٤٥٨، ج-٤، مال په نزد داحنافو لکه څنګه چه مونږ مخته وييزندی هغه ته وای چه طبعيت سليمه ميلان ورته کوی او ذخيره کيدل ئی دو قت دحاجة لپاره ممکن وی او په بل عبارة مال هر هغه شئی ته وائی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی امکان لری چه انسان ئی په ملك کښی راولی او په معتاد وجه سره نفع وربانډی واخلی او ډیر صحیح داخبره ده چه مال هر هغه ذات ده چه خاوند دقیمت مادی وی په میانځ دخلګو کښی اومتقوم هغه شئی ته وائی چه ذخیره کیدل ئی ممکن وی سره له اباحت شرعی او په بل عبارة متقوم هغه شئی ته وای چه بالفعل محرزوی یعنی ساتل کړی سوی وی او په حالت داختیار کښی نفع وربانډی اخستل جائز وی او مسکرات ټول غیر منتفع به دی شرعاً لکه څنګه چه صاحب دهدائی ویلی دی ان هذه الاشربة ممالا ینتفع بهابوجه من الوجوه فکیف یتصورالتقوم فیها الهدایه فی فتح القدیر ۳۲، ج-۹ ، دغه اشربه له هغه قسم دی چه په یوه وجهه له وجهو نفعه نهٔ وربانډی اخستل کیږی نوبیا به دتقوم تصور څنګه په دوی کښی ووهل سی وقال رسول الله ﷺ کل مسکرو مفتر حرام وقال رسول الله ﷺ اذا حرم شیأً حرم ثمنه وقال رسول الله ﷺ اذا حرم علی قوم أکل شئی حرم علیهم ثمنه اخرجه مسلم ددی حدیثو ترجمه مخته مکرره ذکر سویده حاصل ئی داده چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکرات و مفترات حرام دی او دحرامو پیسی حرامی دی نو بیابه دتقوم تصور څنګه انسان پکښی ووهی دغه رساله اکثره پر دی ولیکله سوه چه دغه حرام غیر منتفع به شرعاً دی واعادی ته یه ضرورة نسته نو هر کله چه دغه شرط ؤ په ایجاره کښی چه أجرة به مال متقوم وی او مسکرات ومفترات مطلقا متقوم نوؤ نو په أجرة کښی نسی ورکیدلی ځکه په انتفاء دشرط سره انتفاء دمشروط راځی او کم وخت چه په أجرة کښی نۀ سوای ورکیدای نو اجاره باطیله ده ځکه أجرة شرط ده په ایجاره کښی نو بیا هغه قاعده ده چه په انتفاء دشرط سره انتفاء دمشروط راځی نو هر کله یه چه ایجاره باطیله سوه نوبیعه یه هم باطیله ده ځکه لکه څنګه چه داشرط ؤ چه أجرة به مال متقوم وی په ایجاره کښی دغه رنګه داشرط ده چه مبیعه به مال متقوم وی په بیع کښی **وکون المبیع مالاً متقوماً مقدور التسلیم وسیجی ذکرها مشتتا** الهدایه الثالث حاشیه ٢٤، ج-٣، **وان یکون مالاً متقوماً شرعاً مقدور التسلیم فی الحال** أوفی تالی الحال کذافی الفتح القدیر علمگیری ٣، ج-٣، یعنی مبیعه به مال متقوم وی یعنی منتفع به شرعا

(c) ketabton.com: The Digital Library

به وی او مقدور التسلیم به وی په حال دعقد کښی یا په ورسته دعقد کښی او بل هر هغه شئی چه صلاحیت دثمنیت لری په بیع کښی هغه صلاحیت دأجرة لری په اجاره کښی او هر هغه شئی چه صلاحیت دأجرة لری په اجاره کښی دالازمه نده چه هغه به صلاحیت دثمنیت لری په بیع کښی یعنی أجرة دایجاری عام ده تر ثمنیت دبیعی نو هر کله چه تریاقو وغیره من المسکرات والمفترات صلاحیت دأجرة نه درلود په اجاره کښی نو صلاحیت دثمنیت په طریقه اولی سره نۀ لری په بیع کښی ځکه نفی دعام مستلزم وی نفی دخاص لره نوځکه یه بیعه هم باطیله ده **وما جازان یکون ثمنا فی البیع جاز ان یکون أجرة فی الاجارة لان الأجرة ثمن المنفعة فیعتبر بثمن المبیع ومالا یصلح ثمناً یصلح أجرة ایضاً کالاعیان** الهدایه الثالث ص ۲۹۱، ج-۳-

دائی دعموم او دخصوص بیان ده یعنی هر هغه شئی چه صلاحیت دثمنیت لری په بیع کښی هغه صلاحیت دأجرة لری په اجاره کښی ځکه أجرة ثمنی دمنفعة دی نومعتبر یږی په ثمنو دمبیعی باندی او هغه شئی چه صلاحیت دثمنیت نۀ لری په بیع کښی هغه هم صلاحیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دأجرة لری په اجاره کښی لکه اعیان ذوات وما صلح ان یکون ثمناً فی البیع کا النقود والمکیل والموزون صلح ان یکون أجرة فی الاجارة ومالا یصلح ثمناً صلح أجرة ایضاً کاالاعیان مثل العبید والثیاب کذافی الکافی علمگری ٤١٢، ج-٤،

حاصل ددوارو عبارتو یو ده۔

حاصل دټول باب داده لکه څنګه چه په بیع کښی دا شرط ده چه ثمن او مثمنی به دواړه مال وی او متقوم به وی یعنی منتفع به شرعاً به وی په حالت اختیاری کښی او معلوم به وی او مقدور التسلیم به وی دغه رنګه په عقد داجاری کښی دا شرط ده چه أجرة به مال وی متقوم به وی معلوم به وی او مقدور التسلیم به وی نوتریاق کځه هم مال دی خولکن نه متقوم دی او نۀ معلوم دی او نۀ مقدور التسلیم دی دعدم معلومتیا او دعدم مقدور التسلیم وجهی بی انشاء الله په ائنده مقصد کښی ذکر کړو نو چه شرط منتفی سو مشروط هم منتفی کیږی نو اجاره باطیله ده پدی دلیل سره دعلامۀ ابن همام رحمه الله علیه تائیدوسو چه په مقصد البیوع کښی ذکر سوچه هغه ئی بیع

(c) ketabton.com: The Digital Library

باطیله بلله او دغه رنگه پدی دلیل سره ئی اما مان اربعه یعنی امام ابو حنیفة رحمه الله علیه وامام الشافعی رحمه الله علیه وامام مالك رحمه الله علیه وامام احمد بن حنبل رحمه الله علیه او محدثین او امام ابو یوسف رحمه الله علیه وامام محمد رحمه الله علیه ټول ئی اجاره باطیله بولی او پدی کښی اختلاف نسته نوتریاق په مزدوری کښی ورکول ناجائز او ناروادی عقدئی باطیل ده والله اعلم وعلمه اتم واکمل۔

﴿ المقصد السابع فی اجارة المخدراة بالحصة ﴾

اوم مقصد په مزدوری دمخدراتو کښی ده په حصه سره هر کله چه داثابته سوه چه په أجرة کښی مطلق تریاق ور کول ناجائز دی نو داخو په طریقهٔ اولی سره ناجائز دی۔

﴿ چه په أجرة کښی تریاق ورکړی په حصه سره ﴾

ځکه یو خونفی دعام مستلزم وی نفی دخاص لره او بل دوی وجهی دبطلان داجاری نوری په کښی پیدا سوئی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ اول وجهه داده ﴾

چه تریاق په حصه سره په معنی کښی دقفیز طحّان دی قفیز طحّان منهی عنه ده هر هغه شئی چه په معنی کښی دقفیز طحّان وی هغه هم منهی عنه وی قفیز طحّان هغه ته وائی چه زرنده وال ته (آسیوان) دری گونی غنم مثلاً ور کړی چه دغه دری گونی وړه کړه بیا یوه گونی وړه ستادی یا یوه گونی غنم ور کړی چه دریمه حصه یا څلورمه حصه مثلاً بیا ستاده له قفیز طحّان ځخه رسول الله ﷺ منع

کړی ده **لانه ﷺ نهی عن عسب الفحل وعن قفیز الطحّان**

رواه الدار قطنی عن ابی سعید خدری رضی الله عنه نیل الاوطار ۲۹۲، ج-ه، ځکه رسول الله ﷺ منع کړیده دمنده له ختلو او له قفیز الطحّان ځخه یعنی رسول الله دهغه مرداری نطفی په بدل کښی چه أجرة اخلی له هغه ئی منع کړیده لکه په ؤس وخت کښی چه غوا په پیسو باندی غوائی

ته نیسی او له قفیز الطحّان ځخه ئی منع کړی ده **صورة قفیز**

الطحّان أن یستاجر الرجل من آخر ثورا لیطحن له الحنطة

علی ان یکون لصاحبها قفیز من دقیقها او یستاجر انسانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لينطحن له الحنطة بنصف دقيقها او ثلثه أوما اشبه ذلك

فذلك فاسد علمگری ٤٤٤، ج-٤، یعنی صورة دقفیز الطحّان داده چه یوسړی له بل سړی ځخه نر غوائ کرایه کړی پر دی باندی چه زه به دغه غنم په زرنده کړم بیا به وتا ته یوه پیمانه وړه در کړم او یا انسان مزدور کړی پر دی باندی چه دغه غنم رازرنده کړه بیا به نیم و ړه یا دریم حصه یا څلورمه حصه مثلاً در کړم دغه عقد فاسد ده ځکه علت منعی دقفیز الطحّان عدم قدرة دمستأجر یعنی دغنمو دمالك ده پر تسلیم دأجری په وخت دعقد کښی ځکه په اجاره کښی داشرط ده چه مستاجر یعنی دکار مالك به قادر وی پر تسیلم دأجرة په وخت دعقد کښی نو په هر اجاره کښی چه أجرة جزء وی له عمله دآجیره یعنی دمزدوره هغه فاسده ده ځکه یوخو عمل دآجیر په وخت دعقد کښی وجود نهٔ لری اوبل هغه جزء دعمل دآجیر خوه حاصیلبزی په فعل دآجیر سره نهٔ دمستأجر نومستأجر قادر نهٔ بلل کیږی په قدرت دغیر سره چه آجیر ده نو حاصل ئی داسو چه مستأجر قادر نهٔ سو پر تسیلم دأجرة په وخت دعقد کښی دغه عدم قدرت یه علت منعی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومن دفع الى حائك غزلاً ينسجه بالنصف فله أجر مثله

وكذا اذا استأجر حماراً يحمل عليه طعاماً بقفيز منه

فالاجارة فاسدة لانه جعل الاجر بعض ما يخرج من عمله

فيصير فى معنى قفيز الطحّان وقد نهى النبى عليه السلام

عنه وهو ان يستاجر ثورا ليطحن له حنطة بقفيز من دقيقه

هذا اصل كبير يعرف به فساد كثير من الاجاراة لاسيماً فى

ديارنا والمعنى فيه ان المستأجر غاجز عن تسليم الاجرة

وهو بعض المنسوج او المحمول وحصوله بفعل الاجير فلا

يعد هو قادر بقدرة غيره الهدايه ۳۰۳، ج-۳، که چاء و کنمی باب ته

یعنی اُو بُدُونکئ ته د میږو دوړ یوځخه او یا دبزو داوز غنو ځخه او

بدلی تار ورکو چه لدغه کمبله مثلا راجوړه کړه بیا موسره نیمی ده او

یا یه وړی او وزغنی مثلا ور کړی چه لدغه تاریعنی ؤرته راجوړ کړه

په نیمائی باندی نودغه اجاره فاسده ده ودغه مزدورته به أجر مثل

ورکوی او دغه رنگه یو سړی خر کرایه کو چه زه پردغه باندی غنم

وړم زرنده کوم یه بیا له هغه وړو ځخه یوه کا سه مثلاً درکوم دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجاره هم فاسده ده ځکه دغه أجرة دآجیر دعمل جزء ده نو دغه په معنی دقفیز طحّان کښی ګرزی او له قفیز الطحّان ځخه رسول الله منع کړیده هغه داده چه نرغوائیئ کرایه کړی چه زه غنم په وړه کوم بیاله هغه وړوځخه دو نه مقدار مثلاً وړه درکوم او دایوه غټه قاعده ده پدی قاعده سره ډیر فسادونه په اجارو کښی په پیز ندل کیږی او بیا خاص کر زمونږ په علاقه کښی ددی علت داده چه مستأجر عاجزه ده له تسیلم دأجرة ځخه چه هغه بعض دهغه اُو بَدَلُ کړی سویده او یا بعض دهغه بار کړی سویده نو دغه مستأجر قادر نهٔ بلل کیږی په قدرت دغیر ومثله فی الفقه علی المذاهب الاربعه ۱۲۸، ج-۳ او ترياق په حصه سره هم أجرة ده له عمل داجیره یعنی مستأجر قدرت پر تسیلم دأجرة نهٔ لری په وخت دعقد کښی دغه عدم قدرة یه علت منعی ده لکه په قفیز الطحّان کښی۔

﴿ دویم وجهه داده ﴾

چه معلومیت دأجری شرط ده په ایجاره کښی لکه څنګه چه داشرط ؤ په اجرة کښی چه مال متقوم به وی او مقدور التسیلم به وی دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنگه داشرط ده چه أجرة به معلوم وی۔

ان تكون الأجرة مالاً متقوماً معلوماً وهذا باتفاق العلماء ومحترزات هذا لشرط معروفة كمامر فی عقد البيع والاصل فی اشتراط العلم بالأجرة قول النبی ﷺ (من استأجر اجيراً فليعلمه أجره) والعلم بالأجرة لايحصل الابا الاشارة والتعين او بالبيان تكمله فتح القدير ۱٤۸، ج-۷، البدائع ۱۹۲، ج-٥، الفقه الاسلامی ۷٤۹، ج-٤ ، یعنی أجرة به مال متقوم وی او معلوم به وی اودا په اتفاق دتولو علماء ده او ددی شرط محترزات معلوم دی لکه څنګه چه په عقد دبیع کښی تیر سو او دلیل په اشتراط دعلم کښی پر أجرة باندی درسول الله ﷺ قول ده یعنی که چاء مزدور ودراوه مزدوری دی ور معلوم کړی او علم پر أجرة باندی نۀ حاصیلیږی مګر په اشاره او په تعین باندی او یا په بیان باندی ولو دفع سمسماً الی دهّان ليعصره على ان يكون بعض الدهن له او شاة ليذبحها على ان يكون بعض الحم له لايجوز كذافی خزانة المفتين الفتاوی الهندیه ٤٤٥، ج-٤، که چاء کنجدی وغورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایستونکی ته ور کړی چه غوړی ځینی راوباسه بیا یوځه غوړی ستادی او یا یه پسه ور کو چه دغه راحلال کړه بیا یو څه غو ښی ستادی دغه

عقد ناجائز ده فلو قال له انفض لی هذه الشجرة هزماً ولك سدس ما ینزل منها او ثمنه او نحوذلك فانه لایصح لان الشجر یختلف فی ذلك فمنه مایسقط من ثمره بالهز کثیر ومنه مایسقط قلیل فیکون القدر الذی ینزل منه مجهول وکذا اذا قال له اعصر هذا الزیتون او القرطم ولك جزء مما یخرج منه فانه لایصح لان القدر الذی یخرج من الذیت مجهول وصفت الزیت الخارج بالعصر مجهولة اذ یمکن أن یکون جیداً وأن یکون ردئیاً ثخیناً اور قیقاً نقیاً او مشوباً

بما ینقصه الفقه علی المذاهب الاربعه ۱۳۲، ج-۳، یعنی که چا مزدور ته وویل چه دغه درخته راو څنډه دهغه میوی شپږمه حصه یا اتمه حصه یا بله حصه مثلاً بیا ستاده دانهٔ صحیح کیږی ځکه پدی کښی درختی سره مختلفه وی بعضی درختی ډیره میوه کوی او بعض درختی لږ میوه کوی نو هغه اندازه یه نهٔ معلومیږی چه دغه درخته مثلاً خاص دو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مقدار میوه کوی او دغه رنگه که ئی مزدورته وویل چه دغه زیتون راونیبن څیځه او یادغه دعصفر تخم راونیبن څیځه قرطم یوقسم وابنه ده چه درنگیدلو رنگ ځینی جوړی وی او له غوټیو ځخه ئی دوائی جوړیږی بیاله هغه ما حصل غوړو ځخه یو څه حصه ستاده دا هم نهٔ صحیح کیږی ځکه هغه مقدار غوړی کم چه له زیتون او یا له هغه تخم ځخه راوزی هغه ندی معلوم او صفت دغوړو هم نده معلوم ځکه دا امکان لری چه ښه دی وی او دا امکان هم لری چه بد دی وی او دغه رنگه کیدلی سی چه ټینګ دی وی او داهم کیدلی سی چه نری دی وی او دغه رنگه داکیدلی سی چه صاف دی وی او داهم کیدلی سی چه نهٔ دی وی صاف بلکه هغه شئی دی په ګډوی کم شئی چه دوی ته تاوان ورسوی هغه تریاق چه په حصه سره په اجرة کښی ورکول کیږی هغه هم دغسی مجهول دی ځکه پنځم مَنْ یا شپږم یا لسم مثلا دمزدوروی اوپر دی۔

یوخدای (جلّ جلاله) علم لری چه دغه فصل شل منه کوی یادیرش کوی نو چه له سره ئی محصل مجهول سو أجرة بی خامخا مجهول

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی اودغه معلومیت دأجرة په یوه طریقه سره هم نسی کیدای ځکه خوټول مجهول دی بلکه معدوم دی معلومتیا یه نۀ په اشاره اوتعین سره کیږی او نۀ په بیان سره کیږی ځکه خوقلت او کثرت جیذت او ردئت ئی مستأجر ته نده معلوم نوبیا بی اجیر ته څنګه ور معلوم کړی لدغو وجهو چه هره یوه په یو شئی کښی موجو ده سی دهغه اجاره ناجائزه ده اوټولی چه پکښی موجودی سی لکه په تریاقو کښی نوبیا یه په طریقه اولی سره ناجائزه ده ټولی دفساد او دحرمت دری وجهی په تریاقو کښی پیدا سوی یوه په مختنی فصل کښی ذکر سوه چه عدم تقوم ده او دوی په صورة دحصی کښی پیدا سوی چه عدم مقدور التسلیم او عدم تعین ومعلومتیاده۔

﴿ بعض خلګ داسوال کوی ﴾

چه تریاق په حصه سره دی قیاس پر مزارعت سی ځکه مزارعت په معنی دقفیز الطحّان ده او سره لدی چه اجازه ور کړه سویده مونږ په یوځو وجهو جواب ور کوؤ۔

﴿ اوله وجهه ﴾

دا ده چه تریاق په حصه سره په مزارعت نسی قیاس کیدائی ځکه تریاق په حصه سره په دلالت النص سره ثابت دی هغه نص چه په قفیز الطحّان کښی وارد سویده او مزارعت په قیاس سره ثابت ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه تریاق په حصه سره من کل وجوه په معنی دقفیز الطحّان ده او مزارعت من وجه په معنی دقفیز الطحّان ده او من وجه په معنی دمضاربت ده نو په مزارعت کښی دوی وجهی دی یوه دجواز او بله دمنع پدی وجهه چه په معنی دقفیز الطحّان ده نو ممنوع ده ځکه دقیاس داتقاضی ده چه منع دی سی او په دی وجه چه په معنی دمضاربت ده نو جائز ده ځکه خو مضاربت جائز ده نو دخلگو داحتیاج په وجه فقهاء کرامو مخالف القیاس جواز ورکو ودیته استحسان وائی یعنی استحسان من وجه عمل په قیاس ده او من وجه مخالف القیاس ده او په تریاقو کښی په حصه سره دغه وجهی نسته بلکه من کل وجوه په معنی دقفیز الطحّان ده نوخودی قفیز الطحّان ثابت په عبارة نص سره ده او هر هغه شئی چه په معنی دقفیز الطحّان وی من کل وجوه هغه ثابت په دلالت النص سره ده لکه تریاق په حصه سره او هر هغه شئی چه په معنی دقفیز الطحّان وی من وجه هغه ثابت په قیاس سره ده لکه مزارعت نو هر هغه شئی چه ثابت په قیاس سره سی هغه په استحسان سره متروك کیدلی سی او چه ثابت په دلالت النص سره سی هغه په استحسان سره نسی متروك کیدلی حاصل ئی داسو چه تریاق په حصه سره پر مزارعت نسی قیاس کیدلی ځکه تریاق په حصه سره په قیاس سره ثابت ندی بلکه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلالت النص سره ثابت دی لکه ابن همام رحمه الله علیه چه وائی ان المزارعت فاسدة عند أبی حنیفة رحمه الله علیه جائزة عند صاحبیه وذکر الدلیل من الجانبین قال الاان الفتوی علی قولهما لحاجة الناس الیها والظهور تعامل الامة بها والقیاس یترك بالتعامل کما فی الاستصناع آه ولا یقتضی ذلك أن یطلق القیاس علی کل ما فی معنی قفیز الطحّان بل انما یقتضی أن یطلقه علی المزارعة وهی فی معنی قفیز الطحّان من وجه أی من حیث أنها استیجار ببعض مایخرج من عمله کما ذکر فی دلیل أبی حنیفة رحمه الله علیه علی فسادها وفی معنی المضاربة من وجه أی من حیث أنها عقد شرکة بین المال والعمل کما ذکر فی دلیل الامامین علی جوازها بخلاف مانحن فیه فانه فی معنی قفیز الطحّان من کل وجه لانه استیجار محض لیس فیه شائبة المضاربة فلهذا قیل انه ثابت بدلالة النص دون القیاس فتح القدیر ٥٠، ج-٨، حاصل ددی عبارة دمختنی تفصیل ځخه په واضحه توګه معلومیږی۔

﴿ دویمه ﴾

وجهه داده چه تریاق په حصه سره پر مزارعة نسی قیاس کیدلی ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـزارعة هـم من وجه په معنی دقفیز الطحّان ده نوقیاس داتقاضیٰ کوی چـه مـمـنـوع دی سـی خـولـکن دعرف په وجه خلاف القیاس جواز ورکـول سـویـده او دا دفقه قاعده کلیه ده چه هر هغه شئی چه خلاف الـقیـاس ثابت سی پر هغه شئی بیابل شئی نهٔ ور قیاسیږی مثلاً روژه په هیـره سره نهٔ ما تیږی داثـابتـه مـخـالف القیاس ده او روژه دخطاء نهٔ پر قیا سیږی چـه پـه خـطـاء دی هـم نسـی ما ته ماده ۱٤ مـاثبـت علی خلاف القیاس فغیره لایقاس علیه معین القضاة والمفتین ٥

وکـذا فـی شرح المجلة اتاسی یـعـنـی هر هغه شئی چه خلاف القیاس ثابت سی پر هغه بیابل شئی نه قیاسیږی

﴿ دریمه وجهه داده ﴾

چـه تریاق په حصه سره پر مزارعة نسی ورقیاس کیدلی ځکه که دغه فرض کړو چـه تـریـاق پـه حـصـه سره په معنی دقفیز الطحّان دی من وجـه لـکـه مـزارعة بیـاهـم جـواز نـهٔ لری ځکه یو خو مزراعة په خپله خـلاف الـقیاس ثابت ده بل شئی نهٔ وربـاندی قیاسیږی لـکه مخته چه ذکـر سوو او بل قیاس دهر سړی او دهـر عـالـم کا رنده بلکه مجتهد غواړی بیـا به دهغه مجتهد قول دمقلد لپاره حجت وی یعنی دهر عالم رائـی او فکر خوحجت او دلیل نده اواصولین وای چه اجتهاد مطلق پر څلور سـوه سـنه یا پر پنځه سوه سنه باندی ختم سویده ترویح الجنان ٥٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـلکنهوی اودریم بالفرض که داسی کس هم پیداسی او فرضاً قیاس یه هـم صحیح کړی بیـا هـم دغـه قیـاس پـه عـرف او اسـتـحسان سره نۀ متروك کیږی ځکـه فـقهـاء رحـمـه الله علیه چه کومه قائده وائی چه قیـاس او اسـتـحسـان چـه سـره متـعارض سی عمل په استحسان کول کیږی قیـاس متروك کیږی هـغـه پـه اسـتـحسـان او غـرف عام باندی متروك کیږی لکه په مزارعة کښی نۀ په عرف خاص باندې او عرف چه عامیږی هـغه په رواج او اصطلاح دیوه ولایت یا دیوی صوبی یا دیوه ملك سره نۀ عا میږی لـکه عرف داهل بخاریٰ پر جواز دبیع وفاء بـانـدی بـلکه عرف چه عامیږی هـغـه په اصطلاح دیوځوملکو سره عامیږی لـکـه مـزارعة واسـتـصناع مثلاً نوتریاق په حصه سره په أجرة کښی ورکـول دا په اصطلاح دیوه هلمندیا دیوه افغانستان سره عام نۀ بلل کیږی چـه قیـاس پـه متـروك سی داخبره باید په نظر کښی ونیوله سـی چـه دغـه اثبـات دعـدم جواز هم بناء پر فرض باندی ده یعنی چه مونږئـی داسـی فرض کو لکه مزارعة لاهم نۀ صحیح کیږی او بناء پر تـحـقیق او حقیقت باندی خو بلکل څوك پـر جواز باندی تلفظ نسی کـولـی حاصل دبحث دادی چه په یوه طریقه سره تریاق په حصه سره په أجرة کښی ورکول صحت نۀ لری والله اعلم وعلمه اتم واکمل۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿المقصد الثامن فی اجارة المخدرات بالکیل او الوزن المعلوم﴾

اتم مقصد په اجاره مخدراتو کښی ده په پیمانه او وزن معلوم سره په بعض ځایو کښی داسی رواج وی چه أجیرته معلوم وزن ورکوی یعنی مزدور ته ووائی چه ددغو تریاقو په وهلو باندی نیم من یا چهاریك یا من مثلاً درکوم دا ایجاره هم ناجائزه ده که څه هم پدی ایجاره کښی أجرة معلوم ده دغه عدم جوازئی له دو وجهو ده۔

﴿ او له وجهه داده ﴾

چه داهم په معنی دقفیز الطحّان ده ځکه پدی صورة کښی هم مستأجر عاجز ده په وخت دعقد کښی له تسلیم دأجری۔

﴿ دویمه وجهه داده ﴾

چه داسی صورة شرکت فاسد ده بلکه باطیل ده **قال المرغینانی رحمه الله علیه الشرکت فی الخارج بعد حصوله لانه ینعقد شرکت فی الانتهاء فما یقطع هذه الشرکة کان مفسد للعقد**

هدایه آخرین ۴۰۹، ج۔۴، المرغینانی رحمه الله علیه وائی چه شراکت په خارجی شئی کښی یعنی په هغه شئی کښی چه په کسب او عمل سره له ځکمی خارجیږی لکه حاصل دبز گری او یا شودی ده تریاقو ورسته له حصول دهغه خارجی شئی ځخه وی ځکه ددغو شیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرکت په آخیر کښی یعنی ورسته له حصوله منعقد کیږی نو هر هغه شئی چه دغه شرکت قطع کوی هغه مفسد عقد لره ده ددی مذکور عبارة په تفصیل کښی صاحب الکفایة داسی لیکلی دی یعنی **ینبغی ان لایشترط فیه مقدار معین لاحدهما اذیجوز ان لایخرج من الارض الا ذلك القدر فلم تبق شرکت علی ذلك التقدیر ومن شرطها بقا الشرکت** فتح القدیر ۳۸۷، ج-۸ ، یعنی دا مناسب ده چه یو شریك ته له شریکانو څخه مقدار معین نکړی شرط ځکه دا جائز ده چه څمکه دی حاصل نه وکړی ماسوی له هغه مقدار معین څخه نوپردی تقدیر خوشراکت نه سو پا ته ځکه خو ټول دیوه سوو او بقاء دشراکت پکښی شرط ده **وان یکون الخارج شائعاً بینهما تحقیقاً لمعنی الشرکت فان شرطا لاحدهما قفزاناً مسماة فهی باطیلة لان به تنقطع الشرکت لان الارض عساها لاتخرج الاهذا القدر وصارکاشتراط دراهم معدودة لاحدهما فی المضاربة** الهدایه ۴۱۰، ج-۴ ، **والشرکت فی الخارج عند حصوله فتفسدان شرط لاحدهما قفزان معینة او ما یخرج من موضع معین لا نه وقت لایخرج الاذلك** مجموع الانهر ۴۹۸، ج-۸، ایضاً ۹۰۰، ج-۲، فتاوی رحمیه ۳۱۰، ج-۹، ددی ټولو عبارتو حاصل یو ده وترجمی ته ضرورة نۀ لری یعنی ترياق په وزن معلوم سره وهل که ایجاره سی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحت نۀ لری ځکه یوخو په معنی دقفیز الطحان ده اوبله هغه مختنی وجه هم په کښی سته چه أجرة به مال متقووی او که شراکت سی هم صحت نۀ لری ځکه په هغه شیانو کښی چه له ځمکی خارجیږی شراکت په اخیره ورځ تامیږی او که وزن معلوم په او له ورځ ورمعلوم کړی نو کیدلی سی چه ځمکه دی دغو نه مقدار وکړی لکه څنګه چه ودغه ملګری ته ورمعلوم کړیده نوشراکت قطع سواودشراکت قطع کول باطیل ده نوهرهغه شئی چه شراکت قطع کوی هغه باطیل ده چه هغه وزن معلوم ده خو په حقیقت کښی دترياقو وهل ایجاره ده شرکت نده۔

﴿زمونږ په منطقه کښی﴾

دغنمو او داوربشو ریبل هم په دغه مذکوره طریقه سره وی یعنی پر ولاړ فصل باندی مالك او مزدور دا فیصله سره وکړی چه دغه کشت په پنځه یالس گونی مثلاً درکوم او مزدور قناعت پر وکړی نو کم وخت چی لو وکړی بیا هغه معلوم گونی ورکوی او دغه طریقه وسلسله هم ناجائزه ده۔ ځکه داهم په معنی دقفیز الطحّان ده او پر مزارعة نسی ورقیاس کیدلی په هغه دلائلو کم چه مخته ذکر سؤو حاصل دهغو داده چه مزارعة من وجه ایجاره ده او من وجه مضاربة وشراکت ده او لو ایجاره ده فقط نو لَو من کل وجوه په معنی دقفیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

